# دافغانستان په باب درې جوړه

پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ

د کابل په پوهنتون کې د معاصر
افغانستان د تاریخ پخوانی استاد

A. R. I. C.
290
RECEIVED DATE
5.06.90
FROM (WUFA)

الله اکبر
WRITERS UNION OF FREE AFGHANISTAN
د آزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه
WUFA
1985

د وفا د خپرونو په لړ کې
۲۴-۲۵

# د افغانستان په باب درې څېړنې

PROPERTY OF ACKU
290

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د کابل په پوهنتون کې د معاصر
افغانستان د تاریخ پخوانی استاد

پېښور ۱۳۶۷-۱۹۸۸

# د کتاب پېژندنه


نوم : د افغانستان په باب د ژنيو جوړه

ليکوونکی : پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د چاپ شمېر : ۲۰۰۰

د چاپ کال او ځای : ۱۳۶۷ - ۱۹۸۸ پېښور

خپروونکې مؤسسه : د آزاد افغانستان د ليکوالو اتحاديه ( وفا )

د مؤسسې مشر : پروفيسر رسول امين

د خپرونې بورډ : حکيم تڼيوال ، جګړن غ . دستګير شکيب

# اهدا

د ټولو هغو شهیدانو ارواح ته چې د یرغلګرو
روسانو پرضدیې د دغه په حقه جاري جهاد
په بهیر کې د خپلواکۍ، وطن او سرلوړي
ژوند په خاطر په نړۍ کې تر هر څه زیات
ګران سته یعنې خپل ځانونه قربان کړي دي.

# دموضوعاتو لست


د نویرو غورو خبري

سریزه الف

## لومړی فصل،

## دخبرو اترو یو ولس پړاوونه

## ۱۹۸۲ - ۱۹۸۷

مقدمه ۱

په افغانستان باندې د شوروي یرغل په مقابل کې د امریکې د حکومت لومړنی دریځ ۳

په افغانستان باندې د شوروي یرغل په مقابل کې د اسلامي هېوادونو دریځ ٤

د شوروي یرغل په ضد د اروپا د ګډ بازار د هیوادونو دریځ ۷

د افغانستان د کشالې د هوارولو په مقصد د ښاغلي پرژواک نظر ۹

| | |
|---|---|
| د ژنیو د خبرو تر پیل نه د مخه | ۱۰ |
| دیونو د استازی تاکنه | ۱۳ |
| دیونو د خاص استاځي په توګه د کوردوویز تاکنه | ۱۶ |
| د خبرو لومړی پړاو | ۱۶ |
| د خبرو دوهم پړاو | ۱۸ |
| د خبرو دریم پړاو | ۲۰ |
| سیمې ته په ۱۹۸۴ کې د کوردوویز سفر | ۲۲ |
| د خبرو څلورم پړاو | ۲۳ |
| د خبرو پنځم پړاو | ۲۴ |
| د خبرو شپږم پړاو | ۲۷ |
| د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې پریکړه لیک | ۲۸ |
| د امریکې له خوا د مشروط تضمین کوونکی رول منل | ۲۹ |
| د خبرو اووم پړاو | ۳۰ |
| نوې پېښې | ۳۱ |
| د خبرو اتم پړاو | ۳۳ |
| د خبرو نهم پړاو | ۳۴ |

سیمې ته د کوږ دووېږ سفر ۳۵
د خبرو لسم پړاو ۳۷
د خبرو یوولسم پړاو ۳۹
شوروي اتحاد په دوه لارې کې ۴۰
په واشنګټن کې د ګورباچوف - ریګن جرګه ۴۴
ارمکاست په اسلام آباد او شېوارد نادزې په کابل کې ۴۵
سیمې ته د کوږ دووېږ وروستی سفر ۴۹

## دوهم فصل

## د خبرو اترو دولسم پړاو او فیصله

مقدمه ۵۶
د موقتي حکومت په باب متضاد دریځونه ۵۷
زین نوراني په امریکې کې ۵۹
ائتلافي حکومت او د شوروي نوی دریځ ۶۰
د امریکایي ارمند همراغیزمن رول ۶۲

د ائتلافي حکومت په باب داخلي مشکلات ۶۳
د افغان له داعیې نه د امریکې د کانګرس کلک ملاتړ ۶۷
د ژنیو وروستۍ خبرې ، دولسم پړاو ۷۰
د موافقې په لور پرمختګ ۷۳
په واشنګتن کې د شلتز او شیوارډنادزې کتنه ۷۷
د وسلو په مثبت متناظر اصل ټینګار ۷۹
د ژنیو خبرې او د مجاهدینو اتحاد ۸۱
د شوروي حکومت نوی حیرانوونکی دریځ ۸۴
کابل ته د شیوارډنادزې ناڅاپي تګ ۸۶
نجیب الله او ګورباچوف په تاشکند کې ۸۸
د وسلو په متناظر اصل د امریکې د حکومت ټینګار ۹۰
توافقات او د هغوی لاسلیک کېدنه ۹۲

## دریم فصل

## د فیصلې تحلیل او د حکومت بیا رغونه

مقدمه ۹۷

د فیصلې په باب د دخیلو هېوادونو د لویانو نظرونه ۹۸

د فیصلې په باب د افغانانو تبصرې ۱۰۱

د فیصلې په باب د اخباري مبصرینو تبصرې ۱۰۴

د ژنیو توافقات او حقوقي او اخلاقي ارزښتونه ۱۰۶

د شوروي پوځ وتنه ۱۱۰

د وسلو متوازن اصل ۱۶

د ژنیو توافقات او سرحدي موضوع ۱۲۲

د ژنیو توافقات او د حکومت بیا رغونه ۱۲۹

د موقتي حکومت په باب د کابل د حکومت دریځ ۱۳۱

د موقتي حکومت په باب د مجاهدینو د اتحاد دریځ ۱۳۴

موقتي حکومت او نور افغانان ۱۳۹

کوردوویز او افغان ائتلافي حکومت ۱۴٦

شوروي او د افغان ائتلافي حکومت ۱۴۸

هندوستان د بېځایه مزاحم په توګه ۱۴۹

امریکا او د افغانستان ائتلافي حکومت ۱۵۱
بیا هم شوروي اتحاد او ائتلافي حکومت ۱۵۵
د پای خبري او سپارښتني ۱۵۸

---

## ضمایم

د ژنیو د موافقه لیکونو پوره متن ۱۷۸
افغان مجاهدین ۲۰۸
محمد خان جونیجو د دموکراسي د اعادي کوښې ۲۱۱
غوربچنګ او افغانستان
لیکونکی ۲۲۰

# د نورو غوره خبري

در دل تاریخ ما ثبت است تا فردای حشر
آنچه مردان مجاهد روز میدان کرده اند

آه کین آدمکشان ملحد حق ناشناس
آدمیت را بدست خویش ویران کرده اند

از دد و دام وحشی تر بچشم حق نگر
آن تبهکاران که خود را نام انسان کرده اند

• • •

برهنه پای تهیدست را نگر که چسان
کند ستیزه به آن قدرت گسسته لگام

خلیل الله خلیلی

د افغانانو جنګ د اسلام جنګ دی د کفر پر ضد ، د آزادۍ جنګ دی د غلامۍ پر ضد ، د رښتیا جنګ دی د دروغو پر ضد ، د معنویت جنګ دی د مادیت پر ضد ، د انصاف او عدالت جنګ دی د ظلم او دهشت پر ضد .

بهاء الدین مجروح

---

چې پرې ستړګې خوږېدلې هغه تول له مینځه تللي

چې پرې زړونه ووړوښانه هغه تول له ملکه تللي

عبدالله غمخور

---

سقراط په ما ګران دی ، افلاطون په ما ګران دی ،

خو حقیقت له هم دېر

لاتیني ویینه

که به نه ګورم پرې حق او حقیقت ته
ما په هسې بې نظر وسترګو ړوند کړه

.....

اوړ په ژوندون پورې کړه چې نه وي آزادي پکې
ورکه شاعري کړه چې مسلک ورسره نه وي

موسی شفیق

---

تنديه ماتوم دې تيټومه خو دې نه
په دړ د سنګدلانو سولومه خو دې نه
په سرو وينو ليکی نه شم د جبر قصيدې
قلمه پرېکوم دې خرڅومه خو دې نه

آمبار فنا

لکه څوک د بل په ساه نه ژوندی کیږي
داسې قام نه دی د بل په دم تازه

راحت زاخیلی

---

قطبي خرس چې د عقاب په ځاله بلوسي
ګومان مه کوئ چې بېرته به سر یوسي

حبیب الله رفیع

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

د ژنیو توافقات له څو اړخه د ډیپلوماسۍ په تاریخ کې ساری نه لري . یو دا چې هغه په وقفو سره د شپږو کلونو له خبرو اترو وروسته لاسلیک شول . بل هیڅ توافق د غوره او بږده موده نه ده نیولې . بله دا چې دغه توافقات که څه هم د افغانستان په باب دي ، د افغانانو نماینده ګانو پکې ګډون نه لاره . هو ، د کابل رژیم نماینده ګانو پکې ګډون کړی و ، خو هغوی د افغانانو نماینده ګان کیدلی نه شي . دلمر په شان څرګند حقیقت دی چې دغه رژیم شوروي په خپل نظامي پوځ سره پښو درولی ، او افغانانو له هماغه پیل نه ورسره رسله وال مخالفت کړی دی . مجاهد تنظیمونه هم په حقوقي او هم په عملي سیاسي لحاظ د افغانانو نماینده ګان وو ، خو هغوی د شوروي په زور د ژنیو د خبرو جرګې ته نه ګرځیدل . نتیجه دا چې د توافقاتو تطبیق به ممکن نه وي .

بله دا چې په دغو تړانقاتو کې د اوربند، یا متارکې په باب هیڅ ډول تجویز
او ماده نشته. په دې حساب هغو ته د سولې تړانقاتو په هیڅ وجه ویل کېدای نشي
جنګ جاري دی، او دوام به کوي، او د تړون وطافتونو فیصله کړې چې
هر یو به خپلې خوښې وسلې ور برابروي. د ژنیو تړانقاتو بل خصوصیت په دې
کې دی چې هغه په داسې حال کې لاسلیک شوي دي، چې په افغانستان کې د
افغانانو د پاره د ملي حکومت نه و موجود، چې هغه د جنګ د ختم
سبب شي، او بېرته په میلیونو تللي افغانان د هغه په دلاسه وطن ته
ستانه شي. د صحنې یو اړخیز او بنسټی شکل د نهو میاشتو په بهیر
کې د شوروي د نظامي قواو وتل دي هغه هم که بې له قید او
شرط او بې له کومې دسیسې نه وځي. د غربي ډیپلوماتو په تخمین د
د شوروي پوځ له وتلو وروسته به هم د دغه ملک (۵۰۰۰) عسکر
سرحدي محافظان، پولیس او ملکي ماموران د د مشاورینو په نامه
په افغانستان کې پاتې وي. ( پاکستان ټایمز، د جون ۲۵، ۱۹۸۸ ) د دې
ټولو معنی دا ده چې شوروي به په افغانستان کې د ژنیو په تړانقاتو
سربېره خپل څرګند یرغل شته والي ته خاتمه ورکړې وي، خو به
نورو ټولو اړخونو کې به په هغه افغانستان باندې چې د خلق دموکراتیک
ګوند په یوه او بل ډول پرې حکومت کوي، قابض وي. د شوروي د
قبضه به له هم د غو تړانقاتو له مخې ځکه پرې ټینګه وي، چې تمېل خان
دا رېکې د حکومت ترڅنګه د هغو تضمین کوونکی هم ګرځولی دی.

شوروي کړخه هم د ژنیو په توافقاتو سره د افغانستان د «خپلواکۍ» «مخکنۍ بشپړتیا»، او د «نا پیېلتوب» حالت منلی دی، خو څنګه چې هغه په افغانستان باندې قابض وي، او څنګه چې شوروي د مختار حسن په قول ( د مسلم مجله، جون ۲٤، ۱۹۸۸ ) هغه ملکونه تابع کوي چې تړونونه ورسره لري، او دغه تړونونه تر هغه نه چې په ژنیو کې لاسلیک شوي دي ډېر صمیمي دي. ښکاره ده چې د ژنیو توافقات د افغانستان د رښتنې او بشپړې خپلواکۍ ضامن نشي کېدلی. شوروي په هغو سره په نظر کې لري چې افغانستان په دایمی ډول تر خپلې اغیزې او لاس لاندې وساتي.

طبیعي ده چې دغه حال د ټولو هغو افغانانو د پاره چې د افغانستان رښتنې او پوره خپلواکي غواړي، او تر اوسه يې د همدغه مقصد د پاره بې سارې قربانۍ ورکړې، او شوروي يې دښمن په خپل وطن کې په نظامي ډګر کې ناکام او مات کړی - او دنیا والو ته يې رسوا کړی دی، د منلو وړ نه دی. د همدغو واقعیتونو له مخې وو، چې شوروي د ژنیو د وروستني پړاو په بهیر کې څرګنده کړې وه، چې که د ژنیو توافقات لاسلیک هم نه شي، حاضر دی خپلې لښکرې له افغانستان نه وباسي. د مقاومت مجاهدو تنظیمونو د افغانانو په نمایندګۍ په حقه د ژنیو توافقات رد کړل، او مشرانو يې څرګنده کړه چې تر هغو به د آزادۍ جنګ ته دوام ورکوي، تر څو په افغانستان کې د شوروي د استعماري نفوذ ټول آثار له منځه ونه وړل شي، او له دغه خطر نه افغانستان په آینده کې خوندی

۱۷

وگرځول شی ، د دوی له نورو ویناوو نه څرګندهده چې دوی ټول په دې فکرهم دي چې شوروي باید په افغانستان باندې دخپل یرغل او ورانیو جبران هم وکړي .

سره له دې چې افغانانو د ژنیو توافقات رد کړي ، غواړي د ژنیو د توافقاتو په څنګه والي خبراوسي . دغه لیکنه د همدغه مقصد دپاره شوې ده ، خو له بده مرغه ممکنه نه ده ټول هغه جریانات، موثرات ښکاره او پټې پېښې ، چې د ژنیو توافقات یې په دغه شکل ممکن ګرځولي دي ، لن ترلنډه دا وس دپاره ، هسې چې په واقع کې واقع شوي یعنې په اتفاقي دول ولیکل شي . د دغه مطلب د روښانه کولو دپاره دلایل لن نه دي .

یو دا چې د ژنیو د توافقاتو په باب موجود مواد ناقص دي ـ ذید خلو خواو هغه څه څرګند کړي ، چې لازم یې بلل ، او یا د تهیکو خبرلو څو په تهیکار د هغو په څرګندولو مجبور شوي وو . حکومتونه او د هغو نمایندګان د قاعدې له مخې حقایق نه څرګندوي - دیپلو- ماتیکي مذاکرو، زمونږ په عصر کې ښځې پټ شکل نیولی دی ؛ په دغه شکل سره د مذاکروکېدنه او س دغسې دود ګرځېدلی ، چې عمومي ذهنیت ، حتی په آزادو ملکونو کې هم منلی دی ، که څه هم د میلیونو انسانانو د مرګ او ژوند موضوعات پکې مطرح وي - بله دا چې هغسې آزادي چې د هغې په رڼا کې د ژنیو توافقات شرح شي ، هغه هم د مهاجر

او پردیسي او ځانګړي افغان دپاره میسره نه ده ـ هغسې خو د
پېښو افاقي او بېطرفه شرح په اصل کې یو ناشونکی کار دی، او کله چې
دغسې بندېزونه پرې اضافه شي، د هغو افاقي شرح لا هم مشکله
کېږي . د دې ټولو نتیجه دا شي چې حتی د جنګ او سولې یعنې د ملتونو
سیاسي مقدراتو په باب هم افاقي لیکنې ناممکنې شي، او د انسانانو،
حکومتونو، او دلو سلوک او پېژندنه . چې باید د دغسې لیکنو اصلي غایه
وي، مبهمګړې او حتی ناممکنه شي . په دغسې حال کې ښکاره ده چې ورستي
انسانان به د تېرو انسانانو له تجاربو، ستونزو او واقعي حال نه بېخبره
پاتې کېږي، او د ملي تېروتنو د تکرار دپاره به لاره هواره وي .

د ژنیو د توافقاتو په هکله لیکنې به هغه وخت ښوری، دقیقې
سمې او انتقادي وي چې د اړوندو حکومتونو ارشیفونه، د څېړونکو
په مخ خلاص شي؛ د هغو په باب د ګډون کوونکو نمایندګانو شخصي
یادښتونه خپاره شي او موضوع د زغم و پرحده پورې سړه شوې
وي .

د دغو بندیزونو او ستونزو ته ګوته نیول د دې معنی نه لري
چې یو څېړونکی باید د مطلوب وخت تر رسیدلو پورې لاس تر زنې
ناست وي ـ همدغه اوس هم د عمومي آزادۍ او دموکراسۍ له برکته
د ډله ییزو مفاهماتي وسایلو خاوندان د مهمو او حیاتي موضوعاتو
په باب حقایق او اطلاعات خپروي . دوی د ژنیو د توافقاتو په باب

هغه څه چې څرګند شوي له خپلو نظرونو او تحليلونو سره خپاره کړي دي . دوی په خپلو دغسې ليکنو سره همدا اوس هم ممکن کړې چې د هغو په باب څېړونکي او مؤرخان پوه شي او ليکلي شي - البته لکه څنګه چې پاس وويل شوه ، دغسې ليکنې به پوره نه وي . خو هغه به د لومړني او د وخت د ليکنو په شان د اهميت وړ وي . دغسې ليکنې به يوه اضافګي ښېګڼه هم ولري - او هغه دا چې څنګه چې ليکونکی پخپله د پېښو جزء وی، په هغو به د استشراق ( Intuition ) له برکته يو څه رڼا هم واچولی شي .

د دغې ليکنې اصلي ستنې اخباري شمېرې ، او اطلاعات دي. د پاکستان په انګريزي ژبو ورځپانو کې له مسلم ، پاکستان ټايمز، او فرنټير پوسټ نه استفاده شوې . په پېښو کې د امريکې سنټر آمر ښاغلی هوګليند ټولې هغه امريکايي اخباري ليکنې چې د ژنيو د توافقاتو په باب وې ، په منظم ډول ليکونکي ته استولې دي . بر سيره پر دې دغه ښاغلي هغه تحقيقي راپورچې په اصل کې د ژنيو د خبرو د يو ولسو پړاوونو په باب د امريکې د کانګرس د پاره تهيه شوی و، هم ليکونکي ته تهيه کړې، په دغه وسيله له دغه ښاغلي نه مننه کيږي - خو ليکونکي لازمه نه ده بللې چې په متن کې ما بعو ته ريفرنسونه ورکړي ، بيا هم د ځينو مهمو پېښو تصرو ته ريفرنسونه ورکړل شوي دي .

دغه ټوله ليکنه په څه باندې دوو مياشتو کې د مارچ له

وروستيو ورځو نه د مې تر پايه پورې تکميله شوې . د مسعود پاد
نقولو په وخت کې د مبصرينو تازه مهم ټکي يو ځای بل ځای، ځای شوي
دي . څه وخت چې ليکونکی د مارچ په پای کې د اروپا له سفرنه
پېښور ته ستون شو، لومړی يې هغه کتنګونه ولوستل چې د وفا
په ارشيف کې برابر شوي وو، او نوي يې کاوون کاکړ د مسلم د
ورځپاڼې نه په کور کې تهيه کړي وو . د لته له هغه او د وفا د ارشيف
له متصدي ښاغلي شاه محمد اکبر نه يادونه او مننه کيږي . دغه
يادونه هم لازمي ښکاري چې د وفا سروال استاد رسول امين هم
د ليکونکي په څېر په دې فکر و چې د ژنيو د توافقاتو په باب بايد دغسې
يوه رساله ليکنه تهيه او خپره شي .

م . ح . ک

برتهکال پېښور

جون ۲۵، ۱۹۸۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړی فصل

# دخبرواترو يوولس پړاوونه

# ۱۹۸۲ - ۱۹۸۷

## مقدمه

شوروي اتحاد د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په ۲۷ مه په خپل پوځي يرغل سره دخپلواک، او ناپيلي افغانستان خپلواکي نقض کړه، او د سيمې سوله يې د جدي خطر سره مخامخ کړه، او په دغه سيمه کې يې د بين المللي قوانينو عنعنوي اندول ګډوډ کړ. دافغانستان حکومت يې دحفيظ الله امين په سرواله په څرګند بې ساري شدت سره نسکور کړ او په ځای يې يو بل کمونستی حکومت د ببرک کارمل په سرواله په پښو ودراوه. دافغانستان خلکو ژر د دغه پوځي تيري په مقابل کې ملاتړ

مقاومت شروع کړ، او د د نیا والو د توقعاتو په خلاف یې دوام دارشدت

ورته ورکړ. د شوروي او د هغه د ملګرو هیوادونو نه پرته د نړۍ ټولو

هیوادونو په یو ځواکستشی سره د غه تیري په کلکه رټلی دی، او اسلامي

هیوادونه په تیره بیا پاکستان له محض عندیې نه د غه ولاړل او نړیوالی

ټولنې یې وبللې، چې د دغه تجاوز د طرد د پاره مشخص او لازم اقدامات

وکړي. په دې دول د شوروي دغه تیری هم د اسلامي هیوادونو د سرانو

په جرګو، او هم د دغو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په جرګو کې،

پرله پسې دول طرح شو، او د هغه په باب پریکړې وشوې، او هر دا رو پا

د کډه بازار ټولنې دغه تیري په خپلو غوندو کې تر بحث لاندې ونیو، او د

حل لارې یې مسکوته ورته وړاندې کړه. د نا پیلو هیوادونو غورځنګ هم

په خپلې هرې غونډې کې دغه پرځي تیري غانده، او د بهرنیو پوځ وتل

یې له افغانستان نه غوښتل، خود ټولو د نیاوالو دا ارادې په پیروۍ

د ملګرو ملتو موسسې دغه تیری د پاکستان د اسلامي جمهوریت په

ابتکار د دغې کشالې حل یوه جدي موضوع وګرځوله، تر ځو په پای کې

یې د سږ کال د اپریل په څوارلسمه په ژنیو کې د شپږو کالو د تفصیلو

خبرو اترو نه وروسته د ملګرو ملتو د موسسې د خاص استازي

دییګو کوردویز په سرپرستی سره، د موضوع په باب د ټولو دخیلو

هیوادونو ترمینځ د ژنیو د تو افقاتو په نامه یوه موافقه لاس لیک شوه

چې د هغه په موجب د نوموړو تړون تړځنګه، شوروي اتحاد ژمنه وکړه

چې خپلې قواوې به د نهو میاشتو په بهیر کې له افغانستان نه بې له کوم قید او شرط نه وباسي ، او افغانستان به د پخوا په شان یو خپلواک ، ناپییلی او بې طرفه هیواد وي . دغه لیکنه د دغو پېښو یو لنډ بیان دی .

## په افغانستان باندې د شوروي یرغل په مقابل کې د امریکې د حکومت لومړنی دریځ

په افغانستان باندې د شوروي روسیې تیری ، چې د سنجول شوي پلان له مخې ، د هغه د نږدې څلورسوه کلنې پراختیا غوښتې هڅې وروستۍ هڅه ده ، نړیوال لږ تر لږه د یرغل په لومړي پړاو کې په دې فکر کړل ، چې افغانستان به له دې وروسته د شرقي اروپا د هیوادونو په شان د شوروي د نظامي امپراتورۍ یو تابع هیواد وي . هیڅ ملک د افغانستان په باب له شوروي سره د نظامي مقابلې په فکر نه شو ؛ حتی هیڅ ملک ، له لفظي اعتراضونو نه پرته له شوروي روسیې سره خپلې اړیکې ونه شلولې . یوازې امریکې د اعتراض په ډول په شوروي باندې د غنمو د خرڅولو شوی قرارداد فسخ کړ ؛ هغه او یو شمیر نورو لویدیځو ملکونو په مسکو کې د اولمپیا له لوبو سره مقاطعه وکړه او له دې نه یې هم زده وکړه چې خپل سیاسي

نمايندګان يې د مسکو په سره ميدان کې په عنعنوي جشنونو او نظامي پريډ کې د معمول په شان برخه واخلي .

## په افغانستان باندې د شوروي د يرغل په مقابل کې د اسلامي هېوادونو دريځ

سعودي عربستان هم په دې لحاظ چې په مسلمان افغانستان باندې تجاوز شوی - او هم ممکن له دې امله چې په دغه ملک کې د شوروي پوځ شتوالی به يو ورځ منځنی ختيځ په تېره د همغه د تيلو منابع او په دې ډول په خپله عربستان او د خليج نورو مسلمانو هېوادونو دپاره جدي خطر ثابت شي . په افغانستان باندې يې د غه تېری جدي وبلو . د يرغل نه وروسته د يو زريې د ۱۹۸۰ کال په جنوري کې د اسلامي هېوادونو د سرانو جرګه وبلله . جرګې په خپلې پرېکړې کې د غه تېری وغانده ، او وې غوښتل چې باندني پوځ دې له افغانستان نه ووځي ، او افغانان دې آزاد پرېښوول شي چې د باندنيو د لاس وهنې نه پرته په خپله خوښه د ځان دپاره سياسي نظام وټاکي . د اسلامي هېوادونو د باندنيو چارو وزيرانو جرګې هم هر کال په همدغې روحيې سره پرېکړه ليکونه صادرول . په کابل کې د شوروي تابع حکومت د معمول په خلاف نورو د دغو جرګو غړی نه و ، او

د غو جرګو کې د اسلامي هېواد په توګه د افغانستان د غړيتوب استحقاق په اصطلاح په هوا کې ځوړند پرې منبول شو، له هغه وروسته هر وخت چې د غه جرګې دايرې شوې، خپلې غوښتنې يې وار په وار تکرار کړې دي. د اسلامي هېوادونو د سرانو هغه وروستۍ جرګه چې څه موده مخکې په کويت کې جوړه شوې وه، د لومړي ځل د پاره د «باندنيو قواوو» په ځای د «شوروي قواوو» نوم ياد کړ، او له افغانستان نه يې د هغو د وتلو غوښتنه وکړه. که په اسلامي هېوادونو کې د يو څو په اصطلاح راديکالو هېوادونو، يا شوروي ته متمايلو هېوادونو لکه ليبيا، سوريې عراق، د موکراتيک يمن په سبب نه وای، په د غو جرګو کې ممکن په افغانستان باندې د شوروي اتحاد تيری په ډېرو کلکو الفاظو غندل شوی، او حتی ممکن غړيو يې په ګډه په نورو مناسبو مشخصو اقداماتو لاس پورې کړی وای. د افغانانو هيله دا وه چې څنګه چې شوروی اتحاد د افغانستان په اسلامي هېواد څرګند وسله وال تېری کړی، او څنګه چې افغانستان د يوه اسلامي هېواد، او افغانان د مسلمانانو په حيث، د اسلامي نړۍ فعال غړي وو، بايد د اسلامي هېوادونو حکومتونو، د خپلو مسلمانو موکلينو د مسلمانه د جذبې او ارادې په تائيد، ډېر څه کړي وای، او حتی له مسکو سره يې سياسي اړيکې شلولې وای. سره له دې هم له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو په باب د دوی پرله پسې کلکې غوښتنې په خپل ذات کې اغيزمنې ثابتې شوې؛ په شوروي باندې د غه غوښتنې په دې سختې

تمامې شوې، چې د هغو په سبب یې په دغو ملکونو کې پرمختګ ونه شو کړلی، بلکه تر زیاته حده له هغونه تجرید شو. تر هغه زیات له مجاهدینو سره د یو شمیر اسلامي هیوادونو په خاص ډول د سعودي عربستان او تر څه حده د کویټ مالي پریمانه مرستې وې، چې د افغانانو د جهاد غورځنګ یې پیاوړی کړ. د مصر حکومت د انورالسادات په مشرۍ د شوروي یرغل په مقابل کې سخت چلند ونیو. په دې لړ کې د عربي ملکونو د انفرادي شتمنو مالي مرستې او په خاص ډول د هغو انفرادي رضا کارو فدا کاري هم پوره د قدر وړ ده. له یو شمېر نورو دغو هیوادونو، په تېره له عربستان، کویټ، مصر نه د یو شمېر رضا کارو په ډېرو ستونزو سره محض د اسلامي جذبې پر قوت خانونه د افغانستان جنګي جبهو ته ورسول، او هلته یې له افغاني مجاهدینو سره یوځای د روسي ملحدو یرغلګرو په مقابل کې په دغه اسلامي جهاد کې عملاً برخه واخیسته، او یو شمېر یې شهیدان هم شول.

په افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تېری د ناپېیلو هیوادونو له خوا هم تر بحث لاندې نیول شوی. خو څنګه چې یو څو دغو هیوادونو شمیر بیخي ډېر دی، او بله دا چې په هغو کې د شوروي پلویان لږ نه دي - او په څلورو کالونو کې یوځل جرګه کوي، دغه تېری جدي نه دی نیول شوی، که څه هم د دغه غورځنګ یو مؤسس غړی مظلوم واقع شوی و، حتی د کابل حکومت، چې د شوروي پوځ په قوت، نه یخپله

د افغانانو په خوښه، په پښو درول شوي دي، د دغه غورځنګ له غړيتوب
نه هم نه دی ایستل شوی. په دې ډول په یو اړخیز حیثیت او حتی مشروعیت
ورېته قایل شوی دی. نو له دغه غورځنګ څخه نه د کرېملن واکمنان، ته د
کابل رژیم چلوونکی په اندېښنه کې دي.

# د شوروي ډېرغل په ضد د اروپا د ګډ بازار د هېوادونو دريځ

خو تر هغه زیات د اروپا د ګډ بازار هېوادونو په افغانستان باندې
د شوروي اتحاد تېری سخت غندلی. د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ په پای کې د
فرانسې جمهور رئیس ژیس کاردستان د افغانستان د کشالې په باب
په یوې تلویزوني وینا کې پېشنهاد وکړ چې باید دغه کشاله په دغسې یوې
جرګې کې تر بحث لاندې ونیول شي، چې د ملګرو ملتو د مؤسسې د امنیه
شورا له دایمي غړیو ( شوروي ، امریکا ، برتانیه ، فرانسه او چین ) ، د
افغانستان له ګاونډیو هېوادونو، هندوستان او کوم بل اسلامي هېواد
نه جوړه وي. امریکا د دغه پېشنهاد ملاتړ وکړ، پېشنهاد وروسته په
رسمي ډول د فرانسې له خوا شوروي ته وړاندې شو، خو شوروي و نه
مانه. د برتانیې حکومت لا د مخه ورته پېشنهاد کړی و، د همدغه کال د
جون په میاشت کې سپه افغانستان باندې د شوروي

د تېرې مسئله د اروپا د ګډ بازار د لسو غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو له خوا د کشالې د حل د لارې د لټولو په مقصد تر بحث لاندې ونیوله شوه. جرګې د برتانیې پېشنهاد تائید کړ، چې د هغه له مخې باید د امنیت شورا دایمي غړي، د افغانستان ګاونډي هېوادونه، د هندوستان په شمول سره جرګه شي، او جرګه دې په دوو مرحلو کې وي. په لومړنۍ مرحله کې دې له افغانستان نه د بهرنیو لښکرو د وتلو د پاره لارې چارې ولټول شي، او د جرګې ټول هېوادونه دې د افغانستان د نابېلتوب، او بې طرفۍ د دریځ تضمین وکړي، د جرګې په دوهم پړاو کې دې د افغانستان د خلکو نمایندګان، او د کابل د رژیم نماینده هم شامل وي، د ګډ بازار د غړیو هېوادونو د سرانو په جرګه کې د غه پېشنهاد تصویب شو، او د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر لارډ کرینګټن ته، چې په هغه وخت کې د وزیرانو د جرګې نوبتي مشر و، په دې وګماره چې موضوع رسماً د کرېملن له لویانو سره په مسکو کې طرح کړي. نوموړي همدغسې وکړل - ګرومیکو د شوروي د بهرنیو چارو وزیر دغه پېشنهاد «غیر واقعبینانه» وباله، خو سمدلاسه یې رد نه کړ. دغو پېشنهادونو سمدلاسه نتیجه ورنه کړه مګر سربېره د غو ټولو هېوادونو په ګډه شوروي ته وښوده چې په افغانستان باندې د هغې تېرې نه مني او دغې وضعې په وروستیو پېښو او انکشافاتو باندې غټ تاثیر وکړ.

......

# د افغانستان دکشالې دهوارولو په مقصد ښاغلي پژواك نظر

په دې هکله د وطن نومیالي او پاخه دیپلومات عبدالرحمن پژواک لیکنې ښې مهمې دي، چې له ۱۹۸۲ نه راهیسې یې په مجاهد ولس کې یو وخت بل وخت کړې، او هغه قولې په ۱۳۶۶ کې د «ژنیو مذاکرات» په نامه د افغان مجاهد اطلاعاتي مرکز له خوا راغونډې شوي، او خپرې شوې دي، په دغو لیکنو کې دافغانستان کشالې په سیاسي، په تېره دیپلوماتیکي او بین المللي اړخونو باندې مهمې تحلیلي او انتقادي لیکنې شوې دي. دافغانستان دکشالې دحل په ارتباط یې دوه پیش-نهادونه دي چې په یوه کې یې (مخ ۳۰) راغلي دي «دکنفرانس خاص بین-المللي تحت نظارت ملل متحد با اشتراك نماینده گان احزاب مجاهد و مبارز از داخل وخارج کشور به شمول هم همسایگان افغانستان همه اعضای دایمی شورای امنیت ویک شمار از ممالک عضو از تمام قاره ها با توجه کامل به رول ممالك بیطرف وکشورهاي اسلامي با استخدام مساعي دبیر کل ملل متحد انعقاد یابد وبا موافقت نماینده گان حقیقي مردم افغانستان طرقی راجستجو کند که به تجاوز روسیه خاتمه داده به اعاده

واسترداد حقوق مردم وملت افغانستان ومصؤنيت کامل افغانستان منتج گردد وازجانب جامعه بشري وشورای امنیت ملل متحد تعيين گردد .» دی وړاندې لیکي « مراد ازتضمين حقوق مسلم افغانستان بحيث يک کشور مستقل ، حاکميت ملي ، تماميت خاک وجلوگيری ازهرگونه مداخله ازهرجانبی که باشد وبشمول توطئه ها و دسايس به منظور نفوذ سياسي خارجي واستعمال افغانستان بحيث يک پايگاه نظامي ميباشد . »

# دژنيو دخبرو ترپيل نه دمخه

په افغانستان باندې د شوروي ديرغل نه وروسته د ۱۹۸۰ کال په جنوري کې د شوروي ديرغل موضوع د ملګروملتو د موسسې دعمومي اسامبلې په خاصې غونډې کې طرح شوه ؛ د مجلس بيخي ډېروغړيوپټچلو وبناووسره دغه تجاوز وغانده او په غوڅ اکثريت سره يې پريکړه صادره کړه چې بايد باندنى قواوې له افغانستان څخه بې له کوم قيد او شرط نه ووځي اوداسې نور، خود ملګروملتو په سرپرستۍ سره دافغانستان دکشالې دهوارولو دپاره دژنيو خبرې دعمومي اسامبلې له دوهمې پريکړې نه را ولاړې شوې ، چې دهماغه کال د نومبر په شلم وشوه ، او په دغې اسامبلې کې د پاکستان نماينده له ټولوځواو نه وغوښتل چې کشاله

په سیاسي لحاظ ، یعني دخبرو له لارې هواره شي . په همدغې پریکړې کې له عمومي منشي نه په خاص ډول وغوښتل شول ، چې دموضوع دحل دپاره خاص استازی وټاکي ، اوفیصله په دغو لاندې ټکو بنا وي :

١ - په سیاسي لحاظ خپلواک ، اوناپیيلی افغانستان ؛

٢ - دباندنیو قواو وتلل ؛

٣ - دافغانستان دپاره بې له بهرنۍ لاس وهنې یا تخریب نه دخپل سرنوشت ټاکنه ؛

٤ - دمهاجرینو دبیرته ستنیدو دپاره « په مصئونیت اوعزت » سره دشرایطو منځ ته راوستنه ؛

شوروي په اول سرکې ، دغه پریکړه او وروستنۍ ورته پریکړې په رسمي ډول رد کړې ، اوهغه یې دافغانستان په دننني چارو کې لاس وهنه ، او دکابل له رژیم سره یې په خپلو دوه اړخیزو اړیکو باندې تجاوز وګڼله ، خو وروسته یې همکاري وکړه ، او حتی عمومي منشي یې ودهڅاوه چې د فیصلې په لوري کوښښونه وکړي .

پاکستان له عمومي منشي نه وغوښتل چې د ١٩٨٠ کال د نومبر د پریکړې له مخې یو خاص استازی وټاکي . د پاکستان ، ایران او افغانستان ترمینځ یې د دریو اړخیزو خبرو پیل کیدل غوره وبلل ، په داسې حال کې چې کابل د رژیم نماینده به په دغو خبرو کې بس د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د نماینده په حیث ګډون کوي ، نه د افغانستان د نماینده په

نږکه .

له بلې خوا د کابل رژیم چې خوا له هغې چې شوروي د ملګرو ملتو په سرپرستۍ سره د افغانستان د کشالې په باب د خبرو د پاره خپل رضایت ښکاره کړی، په ټینګار سره ویل چې حاضر دی د خپل مینځي موضوعاتو په باب هم د پاکستان او هم د ایران له ګاونډیو هېوادونو سره خبرې وکړي. د ۱۹۸۱ کال په جنورۍ کې یې د یوه بیلګ په ترڅ کې پاکستان ته څرګنده کړه چې له دغه ملک سره د خبرو د کېدو په حال کې به سرحدي جنجالي موضوع هم هواره شي. د واړه لیکونه په دغې روحیې سره وو، چې افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره د سرحدي سیمو ادعا نه لري. د کابل د حکومت مطلب دا و چې که دغه دوه هېوادونه له هغه سره خبرو ته حاضر شي، نو رژیم قانونیت به یې حاصل کړی وي. د کابل رژیم د موضوع بین المللي کېدو سره په کلکه مخالف و، خو بشتلي یې وازې له پاکستان او ایران سره په حکومتي سویه پرې وغږیږي، خو هیڅ یو ملک له کابل سره خبرو ته حاضر نه شو؛ دغو دوو هېوادونو د نړۍ د غیر سوشلستي ګڼو هېوادونو په شان د شوروي له تیري نه وروسته د کابل رژیم په رسمیت نه پېژانده، که څه هم په کابل کې یې سفارتونه خلاص وو، او واړه مامورین یې پکې په کار بوخت وو. د ۱۹۸۰ کال په ډیسمبر کې، یعنې هند ته د بریژنیف د رسمي سفر په درشل کې د شوروي سفیر پاکستان ته څرګنده کړه چې کابل حاضر دی په خبرو پیل وکړي، بې له

دې چې د هغه د پېژندنې موضوع کوم شرط وي . د يوه راپور له مخې د شوروي حکومت د ملګرو ملتو د موسسې سرمنشي کورت والدهايم ته د خبرو د شروع په باب خپل ملاتړ څرګند کړ . څنګه چې د افغانستان د کشالې هوارول د عمومي اسامبلې د سپارښتنې له مخې د دغې موسسې يوه موضوع شوې وه ، له هغه وروسته د دې د پاره لاره هواره شوه چې عمومي منشي د همدغه منظور د پاره يو نماينده وټاکي - نور نو د کابل رژيم د پاره ممکنه نه وه ، چې په خپل ځواني ديځ ټينګار وکړي مجبور و د مسکو په پله لاړ شي .

# د يونو د استاځي ټاکنه

د ملګرو ملتو د مؤسسې يا يونو عمومي منشي کورت والدهايم د ۱۹۸۱ کال د فبرورۍ په يوولسمه خپل د استبال جاوېر پېرزدی کويلار د خپل « خاص استاځي » په توګه وټاکه . تر هغه د مخه والدهايم په نوې ډهلي کې د ناپيلو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په غونډه کې د کابل د رژيم ، او پاکستان د باندنيو وزيرانو سره د همدغې موضوع په سر خبرې کړې وې . سره له دې هم د خبرو اترو نږدې آينده روښانه نه برېښېده . پاکستان څرګنده کړه چې پېرېزدي کويلار دې د خبرو د طرز د ځنډونو ليرې کولو د پاره دا ړوندو هېوادونو مرکزونو ته سفر

وکړي .

دی کوېلار د ۱۹۸۱ کال په اپریل او اګست کې دوه ځله اسلام آباد او کابل ته لاړ . د کابل رژیم د دی کوي لار په دوهم سفر کې چې تر هغه وروسته د افغانستان موضوع د همدغه کال په منې کې دیونو په عمومي اسامبلې کې تر بحث لاندې نیول کېده ، پاکستان ته څرګنده کړه چې نور نو په دوو ارخیزو خبرو باندې ټینګار نه کوي ، او په دې ترڅ کې یې وښودله چې حاضر دی دیونو پراخ رول ته غاړه کېښېږدي . د باندنیو چارو وزیر یې په نوي دهلي کې د هند صدر اعظم ته ښکاره کړه چې کابل د طرز العمل یا طرز [illegible]ر په تکو کې « نرم » شوی دی .

پریز دی کوېلار د خپل سفرنه وروسته په نیویارک کې عمومي منشي ته دیوه ریپورټ په ترڅ کې څرګنده کړه ، چې پاکستان او افغانستان په لاندې څلورو تکییزو اجندا باندې سره جوړ راغلي دي .

۱- له افغانستان نه د شوروي قواوو وتنه ؛

۲- د پاکستان او افغانستان له خوا دیوه بل په د ننینو چارو کې د لاس نه وهنې ژمنې ؛

۳- د لاس نه وهنې په باب بین المللي تضمینونه ( ویل کېده چې شوروي اتحاد ، امریکا او چین به تضمین کوونکی هیوادونه وي ) .

۴- د مهاجرینو ستنیدنه .

دیونو په مقر کې په غیر مستقیم ډول خبرې هم وشوې ، خو

د ۱۹۸۱ کال د سپتمبر په ۲۸ په تېره ورځ په یادې، بې له دې چې هیڅ پرمختګ یې کړی وي. د کابل د رژیم د بهرنیو چارو وزیر دا انتقاد غبرګ کړ، چې امریکا له افغاني مجاهدینو سره د مرستې کولو سره ګواکې د افغانستان په دننیو چارو کې ګوتې وهي د خپل حکومت دریځ یې سخت کړ؛ څرګنده یې کړه چې افغانستان د دوه اړخیزو خبرو د پاره له حکومت سره د حکومت په سویه پوازې نیغ په نیغه خبرو ته حاضر دی. تر هغه د پره مهم لار دا وه چې د افغانستان او شوروي دریځ یې داسې وښود چې له پاکستان سره تړاوفق کې به دا شامل وي چې «د شوروي قواوو وتنې د پاره مهال ویش به د افغانستان او شوروي تر مینځ په موافقې سره ټاکل کېږي.» بر سېره پر دې د کابل حکومت په دغه مهال کې په دې ټینګار کاوه چې د افغانستان په دننیو چارو کې نا مداخلې باید بیخي بندې وي، او د نه مداخلې تضمین دې هم ورکړل شي. د دغه حکومت په فکر پوازې په دغه حال کې به کابل او مسکو په خپلو کې د شوروي «د محدودو نظامي قواو» د وتلو په باب سره موافقه وکړي. په مقابل کې د ځینو راپورونو له مخې پاکستان هم د امریکې د حکومت په اشاره خپل دریځ سخت کړ، او کورټ والدهایم ته یې ښکاره کړه چې پاکستان حاضر نه دی د کابل له هیئت سره حتی د کابل د حاکم ګوند د نماینده په توګه هم نیغ په نیغه خبرې وکړي. او س نو د خبرو وړه تړلې ښکاره شوه، او والدهایم هغه بې ګټې وبللې او قطع

کړي.

# دیونود خاص استاځي په توګه د کورډوویز ټاکنه

د یونو د عمومي منشي په توګه دکویرت والدهایم په ځای د پریز دی کویلار له ټاکنې نه وروسته وروستی ۱۹۸۲ کال په فبروري کې خپل استیال دییګو کورډوویز د افغانستان د کشالې د حل د پاره د خپل خاص استاځي په توګه وټاکه. د همدغه کال په اپریل کې کورډوویز کابل اسلام آباد او تهران ته لاړ. ده د خپل دغه سفر په بهیر کې موافقه ترلاسه کړه، چې د افغانستان د کشالې په باب دې خبرې پیل شي. د خبرو ځای د سویس د ژینیو په ښار کې د نړیوالو ملتونو د لیګ هستوګنځی وټاکل شو، او له دې امله د دغه خبرې یا مذاکرې د ژینیو په خبرو یا مذاکرو یادې شوې. د ژینیو خبرې په دوولسو پړاوو، یا دورو ونوکې سرته ورسیدلې، او په هر پړاو کې بې شماره غونډې وشوې، تر څو د ۱۹۸۸ کال په اپریل کې د خبرو په دوولسم پړاو کې فیصله او جوړ وشوه.

## د خبرو لومړي پړاو

په پای کې د ۱۹۸۲ کال د جون په

نیمايي کې د پاکستان او د کابل د رژیم د بهرنیو چارو وزیرانو ترمینځ دیونو د خاص استاځي کوردوویز په وساطت سره د ژنیو خبرې پیل شوې. د ایران حکومت په خبرو کې له برخې اخیستلو نه ډډه وکړه خو دغه په غوښتنه د پاکستان حکومت هغه ته د خبرو په باب معلومات ورکول. خبرې مخامخ او نیغ په نیغه نه وې. غیر مستقیمې وې؛ — کوردوویز به اول له یوه هیئت سره خبرې کولې، او بل هیئت به د ودانۍ په کومې لیرې برخې کې منتظر وُ. بیا به منتظر هیئت په داسې حال کې چې بل هیئت به د خبرو له کوټې نه وته، راد ننه کیده. په هر حال د خبرو د دغه پړاو په باب زیات معلومات تر لاسه نه شته؛ د خبرو په پای کې کوردوویز، بې له دې چې زیات څه یې ویلي وي، د غوره معیل چې دواړو هیوادونو مهم امتیازات ورکړي، او دی په نظر کې لري په راتلونکې مني کې د موافقه لیک له یوه پراخ چوکاټ سره افغانستان، پاکستان او ایران ته سفر وکړي.

د همدغه کال په دسمبر کې بریژنیف ومړ، او په ځای یې یوري اندروپوف د شوروي اعلی واکمن شو. د مطبوعاتي خبرو له مخې اندروپوف جنرال محمد ضیاء الحق د پاکستان سره وال ته چې د بریژنیف د خښښیدو په مراسمو کې د ګډون د پاره مسکو ته تللی وُ، ویلي وو، چې که پاکستان افغاني مجاهدینو باندې خپلې مرستې بندې کړي، شوروي اتحاد به خپل پوځ له افغانستان څخه «ژر» وباسي. خو وروسته د-

شوروي رسمي مطبوعاتو د جنرال ضيا الحق له خوش بينيه نه ډکه دغه وينا په ضمني ډول رد کړه مګر په عين حال کې د کوردوويز له خوا لې وويل شول، چې د «ډيپلوماسۍ نوې فضا» تر نظره راځي.

کوردوويز د ۱۹۸۳ کال د جنورې ۲۱ او ۷ ترمينځ د تهران اسلام آباد او کابل ترمينځ سفرونه وکړل. ده د دغه سفر په بهير کې ديوه موافقه ليک مسوده وړاندې کړه - په مارچ کې کوردوويز او عمومي منشي پريز دی کويلار په مسکو کې له اندروپوف او د شوروي د بهرنيو چارو له وزير اندري ګروميکو سره وکتل، او د ژينو د خبرو په باب يې د هغوی ملاتړ ترلاسه کړ.

# د خبرو دوهم پړاو

د خبرو دوهم پړاو په ژنيو کې د ۱۹۸۳ کال د اپريل په اتمه پيل شو او د اپريل تر دوه ويشتمه يې دوام وکړ. د خبرو په پای کې وويل شول چې د دواړو ملکونو نمايندګان د بهرنيو ځواکونو د ايستلو او مهاجرينو د بيرته ستنيدو په باره کې ... شي - د خبرو په باب يې هم مفصل معلومات ورنه کړل شول، خو د کوردوويز او نورو له څرګندونو داسې ښکاريده چې ديوې جامع فيصلې په مسوده کې د پرمختګ روښانه نښې او نښانې د خبرو تر بل پړاو پورې يو څو هيلې بښونکې پېښې څرګندې

شوي . دمي په میاشتې کې په یونوکې د امریکې سفیر جین کرپاترک لــه کوردوویزسره د لیدنې په ترڅ کې د هغه د ماموریت په باب د خپل دحکومت ملاتړ څرګند کړ. وروسته کوردوویز په یوې مطبوعاتي مرکه کې څرګنده کړه چې « دجامعې فیصلې دمسودې دمتن په سلوکې ۹۵ برخې تیارې دي» او« د نورو عناصرو په جمله کې له افغانستان نه دشوروي قواوو وتنه دمتن یوه برخه جوړوي . » دکوردوویز په قول نو ر هغه څه چې باید فیصله پرې باندې وشي هغه بند وبست دی چې د هغه له مخې دمهاجرینو دستنید و دخپلې خوښې او رضا څخه والی یقیني شي ، او دفیصلې تضمین کوونکي مشخص شي- کوردوویز وویل چې « ماته په غیر رسمي دول څینې نښې نښانې په لاس راغلي چې شوروي اتحاد متحده ایالات اوچین به تیار وي چې کوم وخت چې دوی دغه متن وکوري د موافقه لیک تضمین به وکړي . »

د کوردوویز دخوښ بینو څرګندونو نه د هیلوا سر و فضا پیدا شوه . دخینو راپورونو له مخې شوروي اتحاد هم دوا ړو، کوردوویز او هم د پاکستان د بهرنیو چارو نوي وزیر صاحبزاده یعقوب خان ته څرګنده کړه چې که پاکستان ژمنه وکړي چې افغان مجاهدینو باندې به وسله دروي ، هغه به خپلې قواوې مرحله په مرحله له افغانستان نه وباسي . حینو باخبره مبصرینو هیله ښکاره کړه چې وسله نندې شوې او دامریکې چلند غوڅوونکی اثرلري .

صاحبزاده یعقوب خان بخوا له دې چې ژنیوته لاړشي، د
یونو د امنیت د شورا له دایمي غړیو سره سلا مشوره وکړه ، د اسلامي
کنفرانس د مؤسسې له سروال یعني عربستان سره هم جرګه شو. د ژنیو
د دریم پړاو د خبرو له پیل نه د مخه د پاکستان لوړ رتبه مامورین د داسې
فیصلې هیله من نه وو، چې د هغې له مخې به شوروي خپل پوځ له افغا-
نستان څخه بهر ونه کړي . صاحبزاده یعقوب خان د جون د میاشتې په
سرکې په مسکو کې خپلې خبرې له ګرومیکو سره « د ډیرې ګټورې » وبللې
خو د حیرانوونکي پرمختګ امکان یې رد کړ، او د فیصلې لارې یې کږې وږې
او پیچلې تشخیص کړې .

# د خبرو دریم پړاو

د خبرو اترو په دریم پړاو کې چې ۱۹۸۳ د جون له سپارسمې
نه یې د جون تر پنځه ویشتمې پورې دوام وکړ، دواړو خواو خپل دریځونه
سخت ونیول. پاکستان چې تل یې د جامعې جوړې په اهمیت باندې
ټینګار کاوه ، حاضر نه ؤ داسې فیصله ومني چې اړوند تکي او مادې یې کې
ځای شوي نه وي ، پاکستان غوښتل چې خبرې اترې د « لاسرنه وهنې »
له مادې نه پیل شي ـ پاکستان لا دا تکی هم وړاندې کړ چې باید د غسې
یو میکانیزم مینځ ته راشي چې په هغو سره به هغو الفاظو موافقه راغلې
وي چې مهاجرین به د هغو له مخې خپل وطن ته ستنیږي . خوشورویان

په خپل نوبت د کابل رژیم د هیئت له لارې د پته تیار نه وو په هغه مهال ویل شو بحث وشي، چې د هغه له مخې د دوی پوځ له افغا- نستان څخه ووځي، په داسې حال کې چې دا د موافقه لیک ډېر مهم ټکی ګڼل کېده. د کابل د رژیم نماینده په دې ټینګار کاوه چې پاکستان باید د «لاس نه وهنې» په باب کلکه ژمنه وکړي؛ د دې معنی دا وه چې باید د مقاومت په مجاهدینو باندې هر راز بهرنۍ مرستې بندې شي.

په دغو خبرو کې په څرګند ډول ډېر پرمختګ ونه شو. دواړو خواو سره ومنله چې د یونو مینځګړي ته اجازه ده د دغسې «لومړنیو مشورو» ابتکار وکړي چې د هغه له مخې واشنګټن او مسکو د پته وبولي چې که دواړه د اخرې فیصلې تضمين په غاړه واخلي. دغسې مفاهمه هم وشوه چې د یونو مینځګړي په کوم ترتیب سره له مهاجرینو سره د مشورې کولو یوه د قبول طرح جوړه کړي.

که څه هم ټولو خواو په ظاهر کې له فیصلې سره مینه ښوولې، د فیصلې آینده خړه پړه وه؛ پرېږدی کوبیلان د کومه دوین هغه تجویز شوی سفر قطع کړ، چې وروستی باید د هغه له مخې په سپتمبر کې سیمې ته کړی وای، خو افغانستان موضوع د ملګرو ملتو د مؤسسې یوه غټه موضوع وه. د هم دغه کال په غونډو کې یې د معمول په توګه د پنځم ځل د پاره پرې بحث وکړ، دا ځل یې تر پخوا زیات په ډېر فرق سره (د شلو رایو په مقابل کې په ۱۱۶ رایو او لسو ممتنعو رایو) بیا خپل

پخوانی دریځ تائید کړ. د موضوع په سر په عمومي اسامبلې کې غیر رسمي بحثونه د پر شول. د ۱۹۸۳ کال په نومبر کې یو بل خبر ګنده کړه چې کوردوویز به بیا سیمې ته په دغسې وخت کې سفر کوي چې ټولی خوا ووته د مسلو وړ وي.

# سیمې ته په ۱۹۸٤ کې د کوردوویز سفر :

کوردوویز د دغه کال د اپریل په سر کې اسلام آباد، کابل، او تهران ته په سفر لاړ. مقصد یې داو چې خبرې له سره پیل کړي. خو دا وخت اندروپوف مړ شوی او چرنینکو یې ځای نیولی، او د شوروي سیاست سخت شوی و. څنګه چې وروسته څرګنده شوه، کوردوویز په دغه سفر کې وکولی شول، د خبرو فورمات یا شکل وانړوي - له دې وروسته د نږدې غیر مستقیمې یا په واسطه خبرې داسې کېدلې چې د پاکستان او کابل رژیم نمایندګان به په دوو بېلو بېلو ګاوندیو کوټو کې ناست وي، او کوردوویز به په وار له هغوی سره بېل بېل ګوري. تر هغو لا مهمه دا شوه چې کوردوویز د خبرو اترو د پاره طرح وانړوله، او هغه یې د څلورو «سندونو» یو مجموعه وګرځوله سندونه دا شول :

۱ - «لاس نه وهنه» ؛ ۲ - بین المللي تضمینونه ؛ ۳ - د مهاجرو

ستنيدل نه او ٤ - « خپل مينځي ارېکي » . په دغو سندونو کې د باندنيو قواوو د وتنې په باب داسې څرګنده ماده يا ټکی نه ؤ لکه چې په څوانې ځلو فصله بيـنزې « جامعې فيصلې » مسودې کې ؤ .

په عين حال کې څرګنده ده چې په ژنيو کې خبرې له سره پيل شي ، د خبرو د فورمات په هکله هم کوردوويز يو مهم بدلون راوستی . د کوردوويز په فکر د دوه اړخيزې لاس ته وړنې په باب موافقه به د جامعې فيصلې په هکله د اعتماد فضا مينځ ته راوړي . د ده په فکر د دغه فارمول يوه ضمني معنی دا کېده چې د بهرنيو قواو وتنه به د پاکستان له هغې ژمنې تخريبله شي ، چې په مجاهدينو باندې وسله و درولي . خو کوردوويز په دا ګرکره چې د امريکې او شوروي ترمينځ د اړيکو خرابوالی د جامعې فيصلې د پاره خنډ دی .

# د خبرو ځلورم پړاو

د خبرو دغه پړاو چې د ۱۹۸٤ کال د اګست په ۲٤ پيل شو او تر اګست ۳۰ پورې اوږد شو ، د اساسي ټکو په باب د هيڅ راز پرمختګ سبب نه شو . په دغو خبرو کې د لومړي ځل د پاره د کابل د رژيم په خوا کې د شوروي مشاور نه ؤ . دغه حال ځينې په دغه فکر کړل چې ممکنه نه ده د کابل د حکومت له خوا کوم اساسي ګام پورته شي . په عين حال کې دغه خبرې



PROPERTY OF ACKU
290

لږ وروسته له هغه وخت نه روانې وې، چې د شوروي پوځ د پنجشیر په دره کې په زوروره عملیاتو پیل کړی و، او د پاکستان حکومت شکایتونه پورته کړي وو، چې افغاني جنګي الوتکې د ګډو پولو په اوږدو کې د پاکستان په فضا تیری کوي، او بمونه غورځوي. په دغو خبرو کې د یادونې وړ پیوازني پرمختګ په هغې مادې باندې د دواړو خواو له خوا هغه موافقه وه چې د هغې په موجب دې د دوه اړخیزې «لاس نه وهنې او نه مداخلې» ماده په تفصیل سره د څلورګونو سندونو په ډله کې په یوه سند کې ځای شي. له خبرو وروسته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر دوه ټکي بیا تکرار کړل - یو یې د شوروي قواوو د وتلو د پاره د مهال ویش ضرورت بیانول، او بل یې د یوبل ترڅارنې لاندې د د غسې میکانیزم یا ترتیب بیانول وچې په هغه سره ډاډ له دې چې جوړه وشي، له مهاجرینو سره سلا مشوره وشي - پاکستان او افغانستان دواړو برالا کړه چې دوی د خبرو له دریم پړاو نه راضي دي، او په دې موافق دي چې هغه دې بیا وشي.

# د خبرو پنځم پړاو

د خبرو دغه پړاو د ۱۹۸۵ کال د جون په شلمه شروع شو، او د جون تر ۲۵ پورې یې دوام وکړ. وروسته له دې چې کورډوویز

سیمې ته سفر کړی و، پیل شو، سیمې ته د کورډووین د سفر په بهیر کې چې د مې له ۲۵ نه د مې تر ۳۱ پورې اوږد شوی و، پاکستا او افغا-
نستان دولتونو موافقه کړې وه، چې فیصله دې په مشخص ډول د غه مواد ولري :

۱ – « د لاس نه وهنې ، او نه مداخلې په هکله دوه اړخیزه موافقه ؛ »

۲ – « د بین المللی تضمینونو په باب اعلامیه (یا اعلامیې ؛ »

۳ – « د مهاجرینو د خپلې خوښې ستنیدو په باب دوه اړخیزه موافقه ؛ »

٤ – « د یو سند چې د پورته یاد شویو سندونو ترمینځ خپل مینځي اړیکې په ځای کړي ، او د هغې موافقې په قرار چې د کابل او شوروي اتحاد ترمینځ دې لاسلیک شي ، د بهرنیو قواوو د وتنې د مو-
ضوع حل . »

د خبرو په پای کې د کورډووین له یوې وینا نه داسې نتیجه واخیستله شوه « چې د هغه سند په تسوید کې چې د جامعې فیصلې د پاره بنسټ کیدلی شي ؛ په دې شرط چې نور لا قوي عوامل لې خنډ نه شي ، مهم پرمختګ شوی دی » . په هر حال د ده په قول خبرو هر کړل شو چې کوم هغه تال او برکود چې له ۱۹۸۳ نه را پدیخوا مینځ ته راغلی و ، له منځه تللی دی . وروسته عمومي منشي په یوه راپوټ کې څرګنده کړه چې « د لاس نه وهنې او نه مداخلې » بین المللي تضمینونو او د مهاجرینو د بیرته ستنید و سندونه په اصل کې حل شوي

د ده په قول يوازې د «د خپل مينځي اړيکو» سند بايد حل شي، چې د
هغه له مخې به د شوروي پوځ وتنه د پاکستان له هغې ځمکې سره تړلې وي
چې افغاني مجاهدين په خپلې خاورې کې له فعاليت نه وا ړوي . د کوردوويز
دغه وروستی خبره د هغه فکر مخالفه وه چې د خبرو د دريم پړاو په
نتيجه کې يې دغه دوه ټکي سره بيل شوي وو . په هر حال په دغه پړاو
کې په دغه وروستي نا تکميل سند باندې بحث ونه شو . په دې باب
اغيزمن خنډ د کابل د حکومت هغه ټينګار و چې د پړاو په پسې عملونو کولو
د پاره يې کاوه ، چې شروع يې بايد له «لاس نه وهنې» او بين المللي تضمين
څخه وي . د دغه نظر له مخې څه وخت چې د دغو ټکو په باب عملي ګامونه
واخيستل شول ، د باندنيو قواوو وتنه به په يوه نا کلي وخت کې په خپله
ممکنه شي . د پاکستان د حکومت دريځ د دغه نظر برضد و ؛ پاکستان
په دې ټينګ و ، چې د فيصلې ټول اړخونه بايد په عين وخت کې عملي شي
او د شوروي قواوو د وتلو دپاره دې مهال ويش مشخص او نا کلی وي ..

د دغو خبرو له ختم نه وروسته د ننه په پاکستان کې په صاحبزاده
محمد يعقوب خان باندې انتقادونه وشول . ده ښکاره کړې ده چې
پاکستان به په کوم «مناسب وخت» کې له کابل سره د مخامخ خبرو
کولو موضوع تر نظر لاندې ونيسي . ده په دې باب هم خپل تياری
ښوولی و، چې که بلې خوا د شوروي قواوو د وتلو په سر بحث ته تياره
نه وي ، د فيصلې د نورو اړخونو په باب به بحث وشي . په دې باب

په یوې رسمي وینا کې څرګنده شوې، چې د مخامخو خبرو موضوع « پخواله وخته » ده، خو « په مناسب وخت او د مناسبو انکشافاتو په رڼا کې مخامخ خبرې په نظر کې نیول کېدلی شي. »، لکه چې څرګنده ده دغه دواړه ویناوې چندان سره بېلې نه وې؛ هغو د کابل رژیم ته د دې هیله ورکړه چې په راتلونکو خبرو کې په مخامخ خبرو اترو باندې زوره واچوي، او حتی دغه موضوع د شوروي قواوو د وتلو په موضوع پورې وتړي، ترڅو د هغو په نتیجه کې یې د ځان د پاره مشروعیت رنګ حاصل کړی وي.

# د خبرو شپږم پړاو.

د خبرو دغه پړاو د ۱۹۸۵ کال د اګست له ۲۶ نه تر ۳۰ پورې اوږد شو. د کابل رژیم نماینده په مخامخ خبرو باندې د عومره زیاته زوره واچوله چې تر اوسه یې نه وه اچولې. پاکستان و نه منله. - خبرې اترې د معمول په شان د رضایت ښکاره کولو په اشنا الفاظو سره سرته ورسېدلې، خو اساسي مشکل په ځای پاتې و. کوردووېز وویل چې د « لاس نه وهنې » سند « په واقع کې تکمیل شوی » او ده د بین المللي تضمینونو په باب له امریکې او شوروي نه د قناعت وړ ځوابونه ترلاسه کړي دي. ده دا هم وویل چې د مهاجرینو د بېرته

ځای په ځای کولو په باب د افغانستان او پاکستان ترمینځ به ممکن په راتلونکي ډسمبر کې موافقه تکمیله شي . د عمومي منشي په قول د غاړې خبرو د پاره د افغانستان تقاضا د دې سبب شوه چې ځلور سند یعنې د خپل مینځي اړیکو سند باندې بحث وشي .

# د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې پریکړه لیک

د معمول په شان د ۱۹۸۵ کال د یونو په عمومي اسامبلې کې د افغانستان موضوع بیا تر بحث لاندې ونیوله شوه ؛ د نومبر په ۱۳ د نونسو رایو په مقابل کې په ۱۲۲ رایو بیا فیصله صادره سوه ، او په هغې سره یو نو خپل بخوانی اشنا دریځ تاسیدکړ. په دغې پریکړې سره د پاکستان د حکومت دریځ بیا قوت وموند ، او پاکستان دیوه پریکړه لیک مسوده وړاندې کړه ، چې په هغې سره یې افغانستان نه د باندنیو قواو وتنه وغوښتله . د عمومي اسامبلې په بحثونو کې د ژنیو خبرې په په قوت سره کیدلې ، په داسې حال کې چې د شوروي بلاک هیوادونو د افغانستان د نماینده په شمول ، د کشالې د حل د پاره د مخامخ خبرو غوښتنه کوله . د بحث په سر کې د نومبر په یوولسمه د پاکستان

نماینده یعقوب خان دغه دلیل وړاندې کړ چې « په غیر مستقیمو خبرو سره د څلورو ګوندونو سند ونو څخه درې بې تکمیل شوي دي . . . . او عقل دا نه مني چې تړونګان وشي چې څلورم سند دې د فورمات په تغییر سره تر بحث لاندې ونیول شي .» ده کابل په دې تورن کړ چې دغه غوښتنه یې « سیاسي انګیزې لري ، چې مقصد یې د ژنیو د پروسې له لارې یې له دې چې ( د یوځ ) وتلو انتقادي اړخ باندې خبرې شوې وي ، د خان قبلول او مشروعیت دی . »

# د امریکې له خوا د مشروط تضمین کوونکي رول منل

د امریکې د ۱۹۸۵ کال په نومبر کې په ریګن جاویک کې د ګورباچوف - ریګن له کتنې نه وروسته چې د افغانستان د کشالې په سر د تقابل له چلند نه خالي و ، د ژنیو د خبرو په باب د څرګندې همکارۍ چلند غوره کړ . د یونو عمومي منشي ته یې د یوه لیک په ترڅ کې د - پرنسیپ له مخې خپل تیاری وښود چې غواړي تضمین [illegible] او سمې په لیک کې ویل شوی وو چې « مونږ خپل تیاری د هغه سند د مسودې په باب ښودلی چې کوم د ویز د خپلو خواوو او مونږ ته تسلیم کړې ،

په دې شرط چې د شوروي پوځ د وتلو مرکزي ټکی او له نورو سندونو سره د هغه خپل مینځي ارتباط حل شوي وي .»

# د خبرو اوووم پړاو

د ژنیو د خبرو اووم پړاو د ۱۹۸۵ کال د دسمبر ۱۶ او ۱۹ ترمینځ اوږد شو. دیوېنو مینځګړي د غه خبرې له خپل وخت نه یوه ورځ د مخه ختمې کړې . د کابل د رژیم نماینده بیا په مخامخ خبرو ټینګ ولاړ و- او هغه یې د خبرو د دوام په قیمت غوښته - د غه ځل د کابل د رژیم نماینده د شوروي پوځ د وتلو مهال ویش کوم د ویز نه وسپاره ، خو شرط یې دا و چې پاکستان باید له هغو سره مخامخ خبرو ته حاضر شي - پاکستان بیا هم ونه منله ، او دلیل یې دا و چې په مخامخ خبرو سره به په کابل کې د شوروي له خوا په پښو دریدلی رژیم په رسمیت پیژندل شوی وي .

د خبرو د غځې د رخصتیدو سره سره یو څه پرمختګ محسوس شو- د لومړي ځل د پاره د کابل د رژیم نماینده د بهرني پوځ د وتنې د مهال ویش په باب بحث د پاره تیاری وښود ، که څه هم هغه یې په یوه شرط پورې تړلی و . بر سیره پر دې د خلورم سند د ځینو نورو ټکو په باب هم بحث وشو- البته کوم د ویز دا یو محسوس

او هیله من پر غښتګ وباله چې امریکې د جامعې فیصلې د تضمین د پاره خپل تیاری وښود.

# نوې پېښې

د ۱۹۸۵ کال په مارچ کې د چرنینکو له مړینې وروسته د میخائیل ګورباچوف په سر والۍ کې د ۱۹۸۶ کال په فبروري کې په مسکو کې ۲۷ م ګوندي کانګرس جوړ شو. په دغه کانګرس کې ګورباچوف د خپلې وینا په ترڅ کې د کابل رژیم ملاتړ وکړ چې « د خپلې واکمنۍ مدافع کوي » خو په عین حال کې یې هیله ښکاره کړه چې « په ډېرې نږدې آینده کې به شوروي قواوې چې په افغانستان کې دي، د هغه حکومت په غوښتنه وایستلې شي.» ده زیاته کړه چې شوروي اتحاد « د افغان له خوا سره د هغو د مرحله یيزې ایستنې په طرح باندې موافقه کړې ده په دې شرط چې د غسې سیاسي فیصله وشي چې (کومکونو) حقیقي بس کولو تحقق ومومي او په (افغانستان کې) د باندنۍ مداخلې د بیا نه شروع کېدو قابل اعتماد تضمینونه ترلاسه شي.»

په عین حال کې کوردووېز مسکو ته په مارچ کې له یوه سفر نه وروسته کابل او اسلام آباد ته په سفر لاړ. ده ښکاره کړه چې ده ته په کابل کې د غسې سندونه ورکړل شوي چې په هغو کې د شوروي قواوو د مهال وېش

ذکر شوي دی. که څه هم ده تر هغه وخته نه له کابل او نه له اسلام-
آباد نه دخپل دخبرو اترو د نوي فورمات په هکله څوک ترلاسه
کړی و، چې په هغه سره دخبرو موجود رکود له مینځه یوسي، ده
څرګنده کړه چې « دی اوس د افغان دکشالې دجامعې فیصلې تول
عناصر په لاس کې لري.» خو وروسته معلومه شوه چې کوردووېز د
بحوا په شان خوش بین دی، او دواړه خواوې له افغانستان نه دبهرنۍ
پوځ دایستلو د مهال ویش په سر په میلو سره لېرې دي، خو دفورمات
کشاله لږ ترلږه داوس د پاره هواره شوې ښکارېده، په دې چې د
کابل رژیم د موافقې ترلاس لیک کېدو پورې د مخامخ خبرو په
موضوع له خپل ټینګار نه لاس اخیستی و.
په دې مینځ کې د ۱۹۸۶ کال د مې په خلورمه د ژینو دخبرو
داتم پړاو په درشل کې نجیب الله د ببرک کارمل په ځای د کابل د
رسمي ګوند عمومي منشي وګرځول شو- تر هغه ځایه چې دغه تغییر
د ژینو په خبرو پورې اړه لرله، د هغه په باب له رنګ رنګ تبصرو له
جملې نه یوه دا شوه چې یو هدف یې په کابل کې د دغسې ترتیب
راوستل دي، چې د ژنیو په خبرو ښه اثر ولري، او هغه د پاکستان له پاره
د منلو وړ وي.

# د ژمي پړاو

په ژمي کې د جګړو د غه پړاو چې د ۱۹۸۶ کال د مې په ۱۹ مه پيل شو، او د مې تر ۲۳ پورې اوږد شو، د دواړو خواو ترمينځ يې ځينې اختلافات کم کړل، خو د پوځ د ايستلو د مهال ويش په سر اختلاف د پخوا په شان غټ او په ځای پاتې شو دا هغه وخت وُ چې په کابل کې په ځينو باخبره حلقو کې ويل کېده چې ګواباچوف خپلو نظاميانو ته، د هغوی د استدلال په مقابل کې، يو کال مهلت ورکړی وُ، چې د افغان کشاله به له نظامي لارې څخه هواره وي، او که دوی په هغه بريالي نه شول، بيا به د کشالې د هوارولو د پاره له سياسي لارو نه کار اخيستل کيږي. همدغه سبب وچې د ځبرو د اتم پړاو تر پيل نه روسي د افغانستان - پاکستان د سرحدي سيمو په اوږدو کې د مجاهدينو په مرکزونو باندې سخت هوايي عمليات کېدل او حتی د دغه د پاکستان په سرحدي سيمو باندې هم بمونه غورځول کېدل. کله کله د دغو هوايي عملياتو په سبب د دواړو ملکونو الوتکو هم سره تصادم کاوه، لکه چې يو ځل د يوه ړاپور له مخې د پاکستان دوه اف - ۱۶ طيارو د شوروي ساخته دوه - سو الوتکې نسکورې کړې هم وې. د ننه په افغانستان کې عمليات په خاص ډول سخت شول - خو د ژنيو روانې خبرې هغوړه د تقابل په فضا

کې نه وې، بلکه کابل لا د مخامخ خبرو د کولو له موضوع نه هم تېر شو.

د خبرو په همدغه پړاو کې و، چې د لومړي ځل له پاره د یو څو مېنځګړي اړیکو سند باندې بحث شروع شو. خود شوروي پوځ د وتلو د مهال وېش د کلیدي موضوع په سر اختلاف د پخوا په شان غټ او په ځای و. د مهال وېش په باب د کابل د رژیم نماینده د پخوا په شان د څلورو یا درې کلونو غوښتنه کړې وه، په داسې حال کې چې پاکستان په شپږو میاشتو، یا تر هغې په لنډې مودې کې د پوځ وتل غوښتل.

# د خبرو نهم پړاو

د خبرو دغه دور د ۱۹۸۶ کال د جولای په ۳۰ پیل شو، او یوه اونۍ اوږد شو. د هغو دوو موضوعاتو په باب چې د خبرو دواړه خواوې یې بېخي لېرې ساتلې وې، هېڅ راز پرمختګ ممکن نه شو. دلته به بیا یادونه وشي، چې یوه موضوع د شوروي پوځ د وتلو مهال وېش او بله یې د فیصلې د تطبیق څارنه وه. د پاکستان د باندنیو چارو وزیر یعقوب خان وویل چې د مهال وېش د موضوع په سر دواړه خواوې «بېخي لېرې دي». د یونو مېنځګړي کوردوویز ترا معلومه موده پورې د خبرو د څنډولو د اعلامولو په وخت کې څرګنده کړه

چې « پروسه ډېره ژر پایته ژوندۍ ده او دوام به مومي . »

# سیمې ته دکوردوویز سفر

غته خبره دا ده چې دافغانستان موضوع په بین المللي حلقو کې بیرته اوږدنه په افغانستان کې د مقاومت ځواک ژوندی ساتلی ده ، سره له دې چې د ۱۹۸۶ کال په اوږدو کې دګوربا چوف ترواکمن کېدو وروسته ، لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه ، شوروي قواوو د مقاومت د ځپل کېدو دپاره خپل عملیات بېخي شدید کړي وو . د یونو عمومي اسامبلې د نومبر په پنځمه داووم ځل له پاره دافغانستان دکشالې دحل دپاره د شلو رایو په مقابل کې په ۱۲۲ رایو پرېکړه لیک صادر کړ ؛ یوولس هېوادو چې د هند په شمول له رایې ورکولو نه ډډه وکړه . دغه پرېکړه لیک دکوردوویز دپاره یو بل خوځوونکی قوت شو ، ځکه چې له افغانستان نه د بهرنیو قواوو د وتلو غوښتنه کوله او دی د نومبر په ۱۲ بیا سیمې ته په سفر لاړ . په لاره کې یې په لندن کې سرجیفري هاو ، د بهرنیو چارو وزیر چې په عین حال کې د اروپا د اقتصادي ټولنې رئیس وُ ، هم ولیده . له اسلام آباد او کابل نه بېرته دا ځل تهران ته هم لاړ . په عین حال کې د پاکستان بهرني سکرتر عبدالستار مسکو ته لاړ او هلته یې د شوروي د بهرنیو چارو د وزارت له لومړي

مرستیال وړانتسوف، او بخپله له شیوردنادزې سره هم وکتل.
کوردوویز دخپل سفر په پای کې په خپلې څرګندونې سره یوځل بیا د
هیلو اسره وفضا ټرونډی کړه - ده وویل چې دواړو خواوې دخبرو په
بیا پیل کېدو باندې راضي شوې دي. بله څرګندونه یې داوه چې -
« د فیصلې د اغیزمن اجرا په باب هوجوړه راغلې ده.» په مطبوعاتي
خپرونو کې څرګنده شوه چې د فیصلې په تطبیق کې به داسې اقدامات
شامل وي چې په هغو سره به هم د شوروي پوځ وتنه، او هم په پاکستان
کې مېشته شویو مجاهدینو ته د وسلو بندونه تر څارنې لاندې نیول
کېږي، او په دغه کار کې به « د ملګرو ملتونو مرسته دخیله » وي.
کوردوویز نیویارک ته په ستنېدو سره د دسمبر په ۹ وویل چې
« اوس د الوږې ځل دی چې ټهال ویش یوازې پاتې کښاله ده. »

په عین حال کې دخبرو د بل پړاو تر پیل نه د مخه د کابل رژیم په یو
لړ سیاسي ابتکاراتو لاس پورې کړ، او فکر کېده چې هغه به د ژنیو په
خبرو یې اغیزې پاتې نه شي. د ۱۹۸۷ کال په جنوري کې یې د شپږو
میاشتو د پاره یو اړخیز اوربند اعلام کړ؛ د شوروي پوځ د وتلو وعده
یې تکرار کړه، خو د وتلو موده یې نامعلومه پرېښوده، او په اصطلاح
« ملي روغې جوړې » د حکومت د جوړېدو په لوري یې یو لړ زمینه
سازې کړې، او حتی د مقاومت مجاهد مشران یې په هغه کې د ګډون
د پاره وبلل. خو وروستیو په ګډه دغه بلنه په پېښور کې د مهاجرینو

په یوې ډېرې ګنې غونډه کې بېخي رد کړه، او یو خل بیا یې په کلکو الفاظو څرګنده کړه چې دوی به خپل جهاد ته تر هغو دوام ورکوي، تر څو شوروي پوځ له افغانستان څخه وا نه یستل شي، او په کابل کې د شوروي لاس لاندې حکومت نسکور شي، او په ځای یې یو خپلواک اسلامي دولت جوړ شي.

# د خبرو لسم پړاو

د خبرو دغه پړاو په ژنیو کې د ۱۹۸٦ کال د فبروري په ۲۵ پیل شو، او د مارچ تر ۹ پورې اوږد شو. تر خبرو دغه د فبروري په سر کې یعقوب خان د خبرو د پاره دوه ځلې مسکو ته تللی و، د مطبوعاتي څرګندونو له مخې شوروي لویانو ورته ویلي وو، چې دوی له خپلو پخوانیو ویناوو نه "اوښتي" دي چې د هغو له مخې به کوم ورسته ملي حکومت د کابل د رژیم رول « د خبرو ور » دی. د پاکستان او امریکي مامورانو به دې ټینګار وکړ، چې داسې فیصله دوی ته د منلو وړ نه ده چې هغه داسې سیاسي ترتیبات ونه لري چې هغه د افغان مجاهدینو په طبع او خوښه نه وي، او مهاجرین دې بېرته وهڅوي چې وطن ته ستانه شي.

د خبرو په شروع کې د افغانستان او پاکستان په سرحدي

سیمو کې هم د مجاهدینو فعالیتونه ډېر شوي وو، او هم مغویه مرکزونو باندې د کابل رژیم له خوا بمبارۍ کېدلې. د نن د پاکستان په سرحدي سیمو باندې هم بمبارۍ ګانې روانې وې؛ په دې حال کې له ځمکې نه هوا ته د ستنګر راکټونه هم د مجاهدینو له خوا په اغیزمن ډول سره استعمالېدل. د غه امریکایي راکټونه لا د مخه مجاهدینو ته ورکړل شوي وو؛ خو اوس یې شمېر ډېر شوی و؛ په هر حال د غه جنګي نسبتاً شدید حال د ژنیو د خبرو فضا خړه کړې وه. یعقوب خان په رسمي اعتراضیې لیک کې کابل باندې تور ولګاوه چې غواړي «د په عمدي ډول تاو تریخوالی شدید کړي او (د ژنیو) د خبرو هیلې له منځه یوسي.»

د تاو تریخوالي او تورونو سره د ژنیو په خبرو کې د شوروي پوځ د وتلو د مهال په سر ډېر کمښت ومنل شو. د خبرو په بهیر کې د کابل د رژیم د بانډېنیو چارو نوي وزیر عبد الوکیل مهال ویش ۱۸ میاشتو ته راووست، په داسې حال کې چې پاکستان په ۷ میاشتو ټینګار کاوه. د مطبوعاتي رپوټونو له مخې د لومړي ځل د پاره د شوروي پوځ له وتلو وروسته په کابل کې د حکومت د ترکیب په مسئله هم بحث وشو. د خبرو په پای کې کوردووېز رضایت ښکاره کړچې په مهال ویشونو کې د وخت اختلاف تر یوه کال نه هم لږ شوی دی.

دځينو ډېرو تونو له مخې کوم دوه وينې هيله ښکاره کړه چې امريکا او شوروي به دخبرو د وقفې سره په استفادې سره په خپلو کې سره وګرځي، او د داخلي سياسي حل امکانات به وڅېړي. ډېر شمېر مبصرين په دې فکر کې شول چې پاکستان، افغانستان، شوروي او امريکې ټولو په مستقيم يا غير مستقيم ډول له پخواني پاچا ظاهرخان سره په يوې فيصلې کې د هغه د ممکن رول په باب له هغه سره په تماس شوي دي.

# دخبرو يوولسم پړاو

دغه خبرې د ۱۹۸۷ کال د سپتمبر په ۷ پيل شوې، او په لسمه پای ته ورسېدلې. دغه پړاو خبرو هيلې ښې ډېرې کړې وې. د کابل او شوروي حکومتونو په ناڅاپي او بې سابقې ډول د خبرو غوښتنه کړې وه. عمومي هيله دا وه چې مهال وېش به تر يوه کاله پورې کم کړل شي، خو د کابل د رژيم نماينده يوازې دوه مياشتې کمې راوست، او له ۱۸ مياشتو نه ۱٦ مياشتو ته ښکته راغی، په داسې حال کې چې پاکستان له اوو مياشتو نه اتو ته پورته لاړ. تر هغه وروسته په واشنګټن او ژنيو کې د امريکې او شوروي د بهرنيو چارو د وزيرانو مرستيالانو او نورو لوړ رتبه مامورانو سره وکتل؛ خو د شوروي له خوا د مهال وېش لنډولو ته کومه اشاره و نه شوه. زياترو مبصرينو ويل چې د ژنيو

دخبرو له تدوین نه دکابل اصلي هدف داؤ چې د افغانستان دکشالې په باب دملګرو ملتو دعمومي اسامبلې راتلونکی بحث ترتاثیر لاندې راولي. داهم ویل کېدل چې د دغه موضوع په سر ممکن دکابل او مسکو ترمینځ اختلاف پیداشوی وي.

# شوروي اتحاد په دوه لارې کې

اوس د دواړو خولو د مهال وېش ترمینځ فاصله اوږده نه وه؛ موافقه پرې کېدونکې ښکارېده - خو اصلي خبره بل چېرې وه - خبره داده چې شوروي اتحاد په ریښتیا غواړي خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي؟ دفیصلې وخت رسېدلی ؤ. نن دې شپږ کاله په وتلو کې خبرې وشوې، خو شوروي دخپل پوځ د ایستلو دپاره تر اوسه په غوڅه ډول نه وو کړي. دا یقین هم نه کېده چې شوروي به دخپل پوځ د ایستلو په باب پرېکړه کړې وي، د خبرو اوږدېدل هرڅوک شکمن کړي وو - د انسان په تاریخ کې نورې دېپلوماتیکې مذاکرې دومره اوږدې شوې نه وې. البته د شوروي دپاره د افغانستان موضوع غټه کشاله وه - د خپل پوځ له ایستلو نه چې عواقب به یې دننه په خپلې امپراتورۍ، او دباندې په تابعو هېوادونو او په نورو کمونستي ګوندونو باندې ښه نه وي، په اند ېښنه کې ؤ. خو له بلې خوا د افغانستان کشاله د

ګوربا چوف د پاره « د خونړي پرهار » په څېر ؤ . دغه « خونړي پرهار » د ننه په شوروي کې د ده د اصلاحي پروګرامو یعنې د جامعې د سرخلاصوالي ( glasnost ) او د ټولنې د بیا رغونې (Perestroika) د پاره غټ خنډ ؤ . په همدې ډول د همدغه « خونړي پرهار » په شته والي سره د ده د پاره اسانه نه وه چې له لویدیځې نړۍ په تېره له امریکې سره د هستوي محدودې یې وسلې کولو په باب موافقې ته ورسیږي او هغه له لویدیځې نړۍ ، او هم له عربي نړۍ سره نږدې کړي ، که څه هم تر اوسه یې د نږدې متوسط واټن ربېشتونکو راکټونو د امحا په سر د امتیاز په ورکولو سره یو څو موافقو ته هم رسېدلی وو ، خو د شوروي او په واقع کې د بشریت د پاره ، د ستراتیجیکي هستوي وسلې وې ، چې د هغو په باب د وروستنۍ موافقې د پاره لږ تر لږه اوس باید د ښه تفاهم فضا مینځ ته راغلې وي . د ریګن د ستورو د جنګ په نامه پروګرام ، چې په اصل کې شوروي ته متوجه دی د بین المللي تشنج په فضا کې ، خو ورو ورو د تحقق په لور روان ؤ .

له بلې خوا « خونړي پرهار » په ناسور اوښتنه . د یوه ستر نظامي قدرت په توګه د شوروي د جراحي ټول کوښښونه په دې باب ناکام شوي وو . حتی د یوه کال په بهیر کې د شوروي خاص شدید عملیات ، لکه چې د مخه یې یادونه وشوه ، هم نتیجې ته رسېدلي ونه شول . په واقع کې د همدغو عملیاتو په نتیجه کې د شوروي

پوځ د پاره په افغانستان کې نوي اغېزمن ختنه ونه هم وتوکېدل - د ډېرو شدیدو عملیاتو په نتیجه کې کله چې مالي او انساني تلفات ترېخوا لا هم زیات شول - او پاکستان ته د افغانانو په مهاجرت کې څرګند ډېروالی راغی د غه وېره پیدا شوه، چې که څه هم د مجاهدینو د مقاومت اراده د هر وخت په شان کلکه ده، شاید په پای کې نظامي لاس بری د شوروي په برخه شي، او وروسته د کابل د رژیم نسبي نرم چلندونه چې تول یې د «د ملي روغې جوړې» په نامه یادیږي بریالی شي، او په دې ډول روسان وروورو په افغانستان کې په خپل نهایي استعماري مقصد ورسیږي. امریکې له دغه حال سره د مقابلې په غرض د مجاهدینو په وسلو کې کیفي تحول راوست. د ۱۹۸٦ کال په اوږدو کې یې د لومړي ځل له پاره مجاهدینو ته د ستنګر په نامه هوايي ضد د انتقال وړ راکټونه ورکړل، او وروو وروو یې شمېر ورته زیات کړ. انګریزي بلوپایپ ضد هوايي راکټونه هم مجاهدینو ته ورسول شول. د مجاهدینو د وسپنیزې ارادې، او تخنیکي استعداد او مهارت او د دغو راکټونو په برکت د روسانو د هوايي قوې تاثیر په څرګند ډول لږ شو. د روسانو بېساري غوځوونکې امتیازي قوت وروو وروو خپل تاثیر او اهمیت له لاسه ورکړ. د مجاهدینو د دغې نوې پیچلې وسلې په اغېزمن استعمال سره وچې حتی په لومړني راکټ باندې یې د ۱۹۸٦ کال په سپتمبر کې د شوروي الوتکه رانسکوره

کړه ، او اوس دغه راکټ د یادګار په ډول د سناتور چارلز ولسن د دفتر په وره کې لیده شي . له هوايي ضد راکټونو نه بریسېره مجاهدینو ته ۱۲۰ ملي متري هاوانونه ، او ماین خنثی کوونکي وسیلې هم ورسولې شوې ، چې د هغو په نتیجه کې کله چې شمېر یې کافي شي ، د دښمن ګارنیزونه به هم د لېرې فاصلې نه هدف ګرځي ، او مجاهدین به وکولای شي حتی په ستراتیجیکي سیمو کې هم له خطر نه تر ډېره حده پورې په امان وي ، او د حرکت آزادي به یې خپله کړې وي . د دغې وسیلې اهمیت له دې نه څرګندیږي چې روسانو او د کابل رژیم عمالو د خپلو نظامي پوستو شا وخوا ماینونه فرش کړي ، چې د امریکې د نظامي متخصصانو په تخمین سره د هغو شمېر درې میلیونو ، او د مجاهدینو په تخمین سره د هغو شمېر پنځه میلیونو ته رسیږي .

په هر حال د کرېملن واکمنو د پاره اوس نو دوه لارې وې ؛ یا به نظامي عملیاتو ته لا هم شدت ورکوي ، چې د هغو نتیجه به د جنګ دوام او د دوی په دننیو او باندنیو پروګرامونو باندې د هغه ناوړه اغیزې وي ، او یا به د ترنیو له لارې یوې فیصلې ته رسېدلي وي . نو ، نو اسانه نه ده چې جنګ به په افغانستان کې په نسبتاً بشکنه سویه کې وساتل شي . روسانو به له دې چې نظامي عملیات کم کړي وي په ډیپلوماسۍ باندې هم سنه زور ور واچوله ، خو لکه چې وبه لیدله شي ، د دوی د ډیپلوماسۍ لار به خاص ډول پېچلې

او له خندو ونو نه ډکه وه .

# په واشنګټن کې ګورباچوف - ریګن جرګه

د ۱۹۸۷ کال په سپتمبر کې د ژنیو د خبرو په تاکید وسره چې له افغانستان نه د شوروي پوځ د ایستلو په باب د پاکستان او د کابل رژیم د نمایندګانو د مهال ویشونو ترمنځ فاصله اتو میاشتو ته کمه شوې وه ، دغه هیله پیدا شوې وه ، چې کله چې د همدغه کال په دسمبر کې ګورباچوف له ریګن سره په واشنګټن کې د هستوي بې وسلې کولو او په خاص ډول د منځنۍ او نږدې واټن ویشتونکو ذروي راکټونو د له منځه وړلو په باب د دریم ځل د پاره سره وویني . د افغانستان د کشالې د هوارولو د پاره به هم کوم اساسي ګام ژر واخیستل شي - دې څه و نه شول . خو ګورباچوف د خبرو په پای کې په یوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه ، چې د شوروي حکومت له افغانستان نه د خپلو « محدودو نظامي قطعاتو » د ایستلو په باب « سیاسي تصمیم » نیولی دی او په دې باب به د ژنیو راتلونکې خبرې آخري او غوڅوونکې وي .
په عمومي ډول فکر کېده چې بل ګام به د ژنیو د خبرو د سره نیول وي .
خو موضوع دومره پېچلې وه ، چې تر هغه چې باید په افغانستان

کې دوا ړو جنګي خواوته د نظام رسټې ورکولو، د نورو اړوندو ټکو په تړه د انتقالي يا عبوري حکومت په باب فيصلې شوې وي، په هر حال، دګوربا چوف له پورتنۍ وينا نه وروسته دافغانستان دکشالې په باب سياسي فعاليتونه، او خبرې اترې ډيرې او پراخې شوې .

# ارمه کاست په اسلام آباد او شواړدنادزې په کابل کې

د ۱۹۸۸ کال د جنورۍ په ٤ مه دامريکې د باندنيو چارو وزير مرستيال مايکل ارمه کاست اسلام آباد ته، او دشوروي اتحاد د باندنيو چارو وزير شيوړدنادزې کابل ته د رسمي خبرو اترو دپاره لاړل . اسلام آباد ته ارمه کاست د راتګ په وخت کې دغه فکر په قوت سره مينځ ته راغلی و، چې دافغانستان په باب دشوروي په سلوک باندې اعتماد نشي کيدلی، په دې چې له يوې خوا حتی هغه وخت چې هغوی ادعا کوي چې غواړي دافغانستان کشاله دخبرو له لارې هواره شي، خو له بلې خوا يې دلومړي حل دپاره پاکستان ته نژدې دپکتيا ولايت دخوست سنار دمحاصرې دماتولو دپاره ترهربل وخت نه زيات په بيخي شديدو عملياتو پيل کړي دی . په دې حال کې —

ارمرکاست د پاکستان د حکومت مشرانو ته ډاډ ورکړ، چې امریکا د
دوی د هغو کوښښونو ملاتړ کوي چې مقصدئ یې په خبرو سره د افغا-
نستان د کشالې هوارول، او له دغه ملک نه د شوروي قواوو ایستل
دي . ده په عین حال کې د لومړي حل د پاره د مجاهدینو د اووه
ګوني اتحاد ویندوی او یو شمیر نورو نمایندګانو سره وکتل، او-
هغوته یې ډاډ ورکړ چې « امریکا له باندني تسلط نه د خلاصون په
مقصد د افغانانو د مبارزو پوره ملاتړ کوي . »

په کابل کې څه وخت چې شیوارډنازې خبرې د کابل د رژیم
له لوړپایو سره روانې وې، د مسکو راډیو څرګنده کړه چې شوروي په
کابل کې په داسې حکومت ټینګار نه کوي چې هغه دې د شوروي
پلوي وي، خو له امریکې نه هم غواړي چې له دې نه ډډه وکړي چې هلته
خپل پلوي حکومت واکمن وګرځوي . ګورباچوف لا د مخه څرګنده
کړې وه چې د افغانستان آینده حکومت باید د بېلو بېلو قوتونو
له ائتلاف نه مینځ ته راغلی وي . دغه وینا وې په څرګند ډول د افغا-
نانو د خود ارادیت د حق منافي وې، شیوارډنازې لا په کابل کې
و، چې د مسکو راډیو څرګنده کړه چې شوروي حاضر دی چې
همدا چې امریکا په مجاهدینو باندې وسلې ودروي، د خپلو لښکرو
په ویستلو پیل وکړي . په همدې وخت کې کوردووېز په امریکې کې
په یوې مطبوعاتي مرکې څرګنده کړه چې د شوروي حکومت هغه ته خبر

ورکړي چې غواړي خپل پوځ له افغانستان څخه تر یوه کال نه په لږه موده کې وباسي او پخپله شیوارډنازې په کابل کې د کابل رژیم له مشرانو سره له خبرو کولو نه وروسته د باختر اژانس نماینده سره په مرکې کې وویل « موږ هیله کوو چې د ۱۹۸۸ کال به ستاسي په هیواد کې د شوروي پوځ د شتنه والي وروستی کال وي . » ده دا هم وویل چې د دغه کال دپاره به « په نږدې آینده کې مناسب حالات برابر کړل شي . » له « مناسبو حالاتو » نه دده مطلب د شوروي پوځ د ایستلو په پیل کې په مجاهدینو باندې د امریکې له خوا د وسلو بندول و . بر سیره پردې ده څرګنده کړه چې له هغې نېټې نه چې د تړون موافقتلاس لیک شي دوه میاشتې وروسته له هغه به د پوځ په ایستلو پیل وشي .

د شوروي له دغو هلوځلو نه څرګندېږي چې پر سیره پر هغو کړنو چې پخپله د دوی عمالو، او د کابل رژیم د ننه په افغانستان کې په بېلو بېلو ډګرونو کې د حکومت د ټینګولو دپاره په جدي ډول کول، په ډیپلوماتیکې لاروسره دا ممکنه کړي چې د مجاهدو تنظیمونو نه تجرید کړي، او په هغو باندې د وسلو په بندولو سره فشار راوړي تر څو د کابل حکومت و کولی شي په کوم راز پراخ ائتلافي حکومت کې د سیاسي قوت په توګه پاتې شي .

څو په مجاهدینو باندې د وسلو بندول په واقع کې په کابل کې د شوروي لاس لاندې حکومت په پښو درول وو، او دا هغه

ـه څه وو چې د ښرګند و د لایلو له مخې دامریکې حکومت او همدا راز
نوړ کومک ورکوونکي حکومتونه ورته تیار نه وو. نوځکه جارج شلتز
دامریکې د بهرنیو چارو وزیر د جنوري په ۷ مه په واشنګتن کې په
یوې مطبوعاتي مرکې کې ښرګنده کړه چې د افغانستان په باب موافقې
کې نه یوازې باید د شوروي د پوځ ایستل، او په مجاهدینو باندې
د وسلو بندول شامل وي، بلکه باید د کابل په رژیم باندې د وسلو
بندول هم شامل وي. ده اضافه کړه چې "موږ (د شوروي
پوځ) د اخراج د پاره د یوه ثابت جدول د پاره د شوروي موافقې ته
په انتظار یو. زموږ په نظر دغه جدول باید تمام عیار وي.
(Front-end-load)؛ همدا چې یو ځل پرې پیل وشي، باید
یو راز حتمي توب ولري. په شا تګ باید ولري نه وي."
د شوروي حکومت د لوړپوړو له دغو وینا وو نه داسې ښرګندېده
چې تر هغې اندازې چې د وی له افغانستان نه د خپل پوځ ایستلو په باب
ښرګندې او غوښتې وینا وې وکړې، د امریکې حکومت شاید په هماغه
اندازه مجاهدینو ته د وسلو ورکولو په باب د دوی د پاره امتیازات ومني.
د بی بی سي په قول د جنوري په یوولسم د شوروي حکومت ښرګنده
کړه چې که پاکستان او امریکا ځینې شرایط ومني شوروي به د بېرته تیار
شي چې د همدغه کال تر مې پورې له افغانستان نه د خپل پوځ په ایستلو پیل
وکړي. د همدغې راډیو په قول د شوروي د کمونستي ګوند ورځپاڼې

پر او دا کې لیکل شوي وو چې « د موضوع اصلي ټکی د شوروي پوځ د ایستلو د پاره نېټه نه ، بلکه په دښمن ( مجاهدینو ) باندې د امریکې د وسلو بندول نېټه ده . »

# سیمې ته د کورډوویز وروستی سفر

کورډوویز د جنورۍ په ۲۰ مه اسلام آباد ته راغی ، د راتګ په وخت کې یې څرګنده کړه چې غواړي نه یوازې د افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو په هکله ویش بحث وکړي ، بلکه د افغانستان د کشالې ټول اړوند ټکي د وروستي فیصلې په مقصد هم تر بحث لاندې ونیسي . ده ویل چې د سفر نهایي هدف یې « چې څومره نږدې کیږي » د ژنیو د خبرو له سره نیول دي . خو د دغه سفر تر هر بل سفر څخه اوږد شو ، او د فبرورۍ تر نیمې پورې یې دوام وکړ ، او دغه په بهیر کې اته ځله اسلام آباد او کابل ته لاړ او راغی .

د کورډوویز د دغه سفر ځکه اوږد او سخت شو چې د ژنیو د خبرو اصلي موضوع یعنې له افغانستان نه د شوروي پوځ د ایستلو موضوع د ټولو خبرو خاص او ستر ټکی و ، چې په هغه پورې د کابل د رژیم آینده او هم د دغه هېواد په باب د شوروي اتحاد ټولنه سیاست مربوط کېده . که شوروي غوښتل چې له افغانستان نه په هغه ډول ووځي ، لکه چې

امریکا له ویتنام ووتله، دکشالي هوارول به اسانه وای ، لکه چې و به لیدل شي، شوروي په دغه فکر هیڅ نه ؤ .

د مسکو له راډیو نه د جنوري په ۲٤ مه وویل شول چې کومرا چوف لا د مخه ویلي وو، چې افغانستان دې په آینده کې یو خپلواک، نابپیلی او بیطرف هیواد وي، په دغې وینا کې دا هم وویل شول چې د امریکې حکومت او نورو د خیلو هیوادو نو دغسې ځرگند ونې نه دي کړي. په وینا کې اضافه شوه چې د شوروي حکومت په کابل کې د شوروي پلوي حکومت هم نه غواړي، په داسې حال کې چې د امریکې حکومت نه دي ویلي چې هغه هم په کابل کې امریکې ته په متمایل حکومت باندې ټینگار نه لري. ځرگنده وه چې د شوروي حکومت د افغانستان له آینده حکومت نه په اندیښنه کې ؤ ، نو ځکه یې په خپل فکر له «خپلواک افغانستان» سره « نابپیلی » او بیطرف « افغانستان هم غوښته ، او د دغې افادې په ځرگند تناقض یې ستونځې پیدا کړې وې . که آینده افغانستان د افغانانو د خود ارادیت د عمل شوی اصل له مخې خپلواک وي ، او باید وي ، نابپیلتوب او بیطرفي باید د خپلواک افغانستان کار وي ، نه دا چې شوروي سرله اوسه په هغه دغه قید او پندیز ولگوي، او د افغانانو خپلواکي محدوده کړي .

برسېره پردې کله چې شوروي ته د افغانستان د آینده عبوري حکومت په باب د پاکستان د حکومت نظر د کوردووین له لارې ابلاغ

شو، د هغه منلو ته حاضر نه شو، که څه هم د مخه یې څرګنده کړې وه چې شوروي به افغانستان کې د شوروي پلوي حکومت باندې ټینګار نه کوي - د پاکستان د حکومت نظر دا و چې پخوا له دې چې د شرنیو فیصله لاس لیک شي، باید په کابل کې د مجاهدینو لومشرانو، مهاجرینو او د کابل د رسمي ګوند نه جوړ یو ائتلافي حکومت مینځ ته راغلی وي، او په هغه کې دې د دې واړه خواوې برابره برخه ولري، د پاکستان د حکومت په نظر یوازې د غسې حکومت په داسې حال کې چې په مهاجرینو کې د پخواني پاچا د پاره هم لاره خلاصه وه، کولی شي په ملک کې د شوروي قواوو له وتلو نه وروسته سوله خوندي کړي، او جنګ ختم کړي، او د مهاجرینو د ستنیدو د پاره لار هواره کړي، خو د پاکستان د غه نظر د بېلو بېلو دلایلو له مخې نه یوازې د کابل او مسکو نه د منلو وړ نه و، بلکه د مجاهدو تنظیمونو مشرانو او پخواني پاچا هم نه مانه - وروستیو ته او سره په واړه واړه څرګنده کړې ده چې دوی په هیڅ دول حاضر نه دي د کابل د کمونستانو سره په حکومت کولو کې برخه ولري. دوی د نجیب الله د «جامعې نه د سیاسي قوتونو» پراخ بنسته حکومت پیشنهاد چې دوی ته په هغه کې د ګډون کولو د پاره څو واړې بلنه ورکړل شوې وه په غوڅو الفاظو سره رد کړی وو -

د غه حال د کوردووین ماموریت بېخي مشکل کړی و - د جنوري په ۲۵ مه یې د معمول په شان خوش بیني ښکاره کړې وه، او ویلي یې وو

چې د ژنیو د تلونکې خبرې به وروسته او غځونکې وي - ۶ د جنورۍ
په ۳۰ مه چې له اسلام آباد نه کابل ته تللی و، څرګنده کړه چې «زه زيار
باسم د ټولو نا حل شويو موضوعاتو د پاره یو ګډ لاره پیدا کړم.» د جاري
خبرو په هکله یې وویل چې «هغه په ټینګه په ځای ولاړې نه دي،» -
سستې روانې دي، خو دا هغه څه دي چې د نړۍ په دغه ګوټ کې هم
دغسې وي.» وروسته یې په دغه هکله یو ژان ګیله وکړه - د فبرورۍ
په دوهمه یې له زین نوراني سره، چې د پاکستان د حکومت له خوا
د بهرنیو چارو په وزارت کې د دولت د وزیر او د ژنیو په خبرو کې
د همدغه حکومت خاص استازی ټاکل شوی و، په اسلام آباد کې له
هغه سره په مرکه کې وویل چې موجودې خبرې «بې له لزومه سستې
وې» او هغه «نتیجې ته نه دي رسېدلی»، کوردوویز دا ځل
په اسلام آباد کې تر ډېره وخته پاتې شو، او له پاکستاني مقاماتو نه
پرسېره یې د لومړي ځل د پاره په اسلام آباد کې د شوروي او امریکې
له سفیرانو، او هم د مجاهدینو د اووه ګوني اتحاد له مشر مولوي
محمد یونس خالص سره د افغانستان د کشالې په باب خبرې وکړې.
له وروستي سره د کوردوویز د لیدنې په باب پام ړیات شو. مولوي
محمد یونس خالص اسلام آباد ته د کوردوویز په راتګ سره څرګنده
کړې وه، چې افغاني مجاهد تنظیمات نه غواړي له هغو سره وګوري. د اووه
ګوني اتحاد نظر د ژنیو د خبرو په باب له هماغه اول نه دا و چې د -

افغانستان کشاله 'هغه وخت د خبرو له لارې هواريدی شي ، چې د شوروي حکومت د مجاهدينو له مشرانو سره مخامخ وگوري ، ځکه چې په واقع کې همدغه دوله خواوې دي چې د يو بل په ضد جنگ کوي ؛ دوی د جنگ واقعي خواوې دي ، او يوازې دوی د دې وسرلري ، چې سوله خوندي کړي . پير سيد احمد گيلاني د همدغه اتحاد ديوه تنظيم د افغانستان د ملي اسلامي محاذ مشر له کورډوويز سره د خبرو په هکله په دې فکر و چې « ما تل ويلې چې د افغان کشاله بين المللي ده ؛ موږ نړيوال ايست بين المللي جامعې ته وښيو چې موږ د خپلو اصولو د دفاع د پاره جنگيږو . ښاغلی کورډوويز د يوې بين المللي تولنې استازی دی - که له دغې جامعې نه کوم نتيجه حاصليږي موږ به يې ومنو ، او که نتيجه يې عادلانه نه وي ، رد به يې کړو . »
په هر حال مولوي خالص له کورډوويز سره د پاکستان د جمهور رئيس جنرال ضياء الحق په تيليفوني سپارښتنه وليدل ، خو له شوروي خبرو نه يې رضايت ونه ښود . له هغه وروسته وو چې د پاکستان لوړ رتبه مامورانو ، کورډوويز او هم مولوي خالص عين مطلب په بېلو بېلو الفاظو څرگند کړ . دوی وويل چې د افغانستان سياسي آينده بوازې د افغانانو له خوا تاکل کېدلی شي . څوهېڅ لوري دغه مهم اصل مشخص نه کړ ، او په دې يې څه رڼا وانه چوله چې څوک يا کوم ډله يا ډلې به په دغسې اضطراري حال کې د خود اراديت د اصل له مخې

په کوم ړازمیکانیزم سره د عمومي ارادې او هیلې واقعي تمثیل وکولی شي.
په هر حال د پورته مطلب معنیٰ په اوسني حال کې دا کېدلی شوه، چې د افغانانو د پاره د موقتي حکومت د جوړېدو لو موضوع د ژنیو په مذاکرو پورې اړه نه لري، په ژنیو کې د افغانستان د کشالې بهرني اړخ تربحث لاندې نیول کیږي، او د دننی اړخ یې په خپله د افغانانو کار دی. د پا-کستان د حکومت له دغې پورته وینا نه داسې ښکارېده چې د هغه په هغه تمینگار کې چې د ژنیو د موافقې تر لاس لیک کېږد و نه پورې باید په کابل کې یو قانوني حکومت مینځ ته راغلی وي، څه بدلون راغلی، که څه هم د هغه خاص استازي زین نورانی په څوانې تمینگار تر د پره وخته پورې ولاړ و- په هر حال د همدغه پر مختګ په سبب وو چې کله چې کورد وویز د فبروري په اوومه له کابل نه اسلام آباد ته راغی، څرګنده کړه چې « مونږ بخوا د پرې سختې کشالې هوارې کړي دي. مونږ غوښتې جنجالونه حل کړي چې ما ویل هېڅکله به حل نه شي. نو اوس باور لرم چې ناحل شوي مسایل به هم حل شي. » د هغه په قول د ناحل شویو مسایلو له دلې نه د پره ستره یې له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو مهال وېش و.

څرګنده وه چې د مهال وېش د ټاکلو موضوع د کرېملن د مشرانو کار و، او ګورباچوف په بله ورځ د فبروري په ۸ مه په دې باب د لومړي ځل د پاره یوه مهمه وینا خپره کړه. ده په دغې څرګندونو کې ښکاره

کړه چې د مې په پنځلسمه به له افغانستان د شوروي پوځ په ایستلو پیل وشي، په دې شرط چې ترهغه د وه میاشتې د مخه د ژنیوخبرې په بري سره پای ته رسیدلې وي. ده داهم وویل چې د ټول پوځ ایستنه به په لسو میاشتو کې وشي. په عین حال کې ده د دغسې افغانستان د پاره هیله څرګنده کړه چې هغه به «خپلواك، ناپییلی او بې طرف وي.» د - ګورباچوف د دغې نښتې له کنه په دغې ګڼنې پورې تړلې وه چې د ژنیو فیصله به د مارچ تر پنځلسمې پورې لاسلیک شوې وي. په عین حال کې ده داهم څرګنده کړه چې د پوځ ایستنه به که په کابل کې د ائتلافي حکومت په باب کومې نتیجې ته نه وي رسېدلې هم، پرمخ ولاړه شي.
په دې ټول په دغې څرګندونې کې دغه د واړه موضوعات سره نا-اړونده وګڼل شول، په داسې حال کې چې تېرکال د کرېملن واکمنو د خپل پوځ د ایستلو د پاره شرط ایښی و، چې په کابل کې دې دغسې حکومت په ځای وي، چې هغه له شوروي سره په دوستی عقیده ولري.
اوس نوکوردووین سیمې ته د خپل هدف رسېدلو ته نږدې ښکارېده، چې هغه په ژنیوکې د خبرو له سره نیول وو. ده د فبروري په ۹مه د یوې مطبوعاتي مرکې په ترڅ کې څرګنده کړه چې دوه اونۍ وروسته یعنې د مارچ په دوهمه به د ژنیو خبرې له سره ونیول شي. په خوښی سره ده داهم څرګنده کړه چې اوس دې له دغسې احساس سره بېرته روان دی چې د خپلې خوالې د خلورم سند د تکمیلولو په غرض د بېرې واړندې تللې دي، او د ژنیو د وروستیو خبرو د پاره به تیاری نیول شوی دی، او دا د ده د سفرهدف و.

# دوهم فصل

# د خبرو د لسم پړاو فیصله

## مقدمه

بین المللي مذاکرې په تېره هغه چې د جنګ او سولې، او د یوه ملت یا ملتونو د سیاسي سرنوشت او برخه لیک په باب دي هغومره اساني نه وي، لکه څومره چې په دغو پاڼو کې د لوستونکو په خاطر اساني او لنډې بیان شوي دي، او لکه څنګه چې له بده مرغه اجتماعي ساینس پوهان همدغسې کوي. د ژنیو د راتلونکو خبرو تر پیل نه د مخه په دریو اوونیو کې، د افغانستان د کشالې، په تېره د عبوري یا موقتي حکومت په هکله د ذیدخلو خواوو خپل دریځونه په مختلف او حتی متضاد ډول وینول. دغه دریځونه دومره پیچلي نیول شوي وو، چې حتی د ژنیو د راتلونکو خبرو بریالیتوب بې په شک کې اچولی و.

# دموقتي حکومت په باب متضاد دريځونه

زيږ نوراني د پاکستان دحکومت خاص استازی، د فبروري په نهمه څرګنده کړه چې د ژنيو توافقات يوازې د کابل له « قانوني حکومت » سره لاسليک کېدلی شي. ده دا هم څرګنده کړه چې ترهغو چې د ژنيو موافقه لاسليک کيږي ، په کابل کې به قانوني حکومت مينځ ته راغلی وي ځکه چې دده په فکر عبوري حکومت د جوړيدو په باب دخيلی خبرې تر هغه وخت نه زيات اوس سره نن دي شوې دي . دا چې د پاکستان استازي د عبوري حکومت د جوړيدو په باب دغسې تمېګار له سره پيل کړې، د پاکستان دحکومت د هغي انديښنې ښکارندوی وه چې وطن ته بې د مهاجرينو د ستنيدو په باب لاره - دافغاني مهاجرينو شمېر په دغه وخت کې د افغان کمشنرۍ له خوا درې ميليونه اوڅلوير لکه ښوول شوی و . که څه هم له دغو مهاجرينو سره د باندنيو هلکونو ، په تيره د ملګرو ملتو مرستې په پيښورکې د ملګرو ملتونو دعالي کمشنرۍ ( UNHCR ) له لارې کېدلې ، خو په دې کې شک نشته چې په پاکستان کې د دغومره زيات شمېر مهاجرينو شته والی ، « چې په معاصر تاريخ کې بې ساری دی » دکوربه ملک د پاره ستونزې هم رامينځ ته کړې دي چې په هغوکې بې هغه فشار وچې ورو ورو هسکو ته متمايلو ډلو په حکومت راوړ - نو د پاکستان د پاره دا

د بېره مهمه وه چې حتی د ژنیو د تړون توافقاتو تر لاسلیک کېدلو نه روسته باید په افغانستان کې د غسې قانوني حکومت مېنځ ته راغلی وي، چې هلته د شوروي پوځ په وتلو سره سوله خوندي شوی وي، تر څو مهاجرین وطن ته ستانه شي - څرګنده وه چې د پاکستان د حکومت د غه نظر له افغانستان نه د شوروي پوځ له وتلو وروسته د احتمالي داخلي جنګ د مخنیوي د پاره پر اساسي اغیزمن تجویز کېدل شو، چې هغه په څرګند ډول د افغانستان په ګټه تمامېده. خو ځنګه چې دا په اصل کې د سیاسي واکمنۍ موضوع وه، او په واقع د غه ټول جنګ د واکمنۍ په سر و، د موضوع حل هغو اسان نه و، لکه ځنګه چې نړیوالي فکر کاوه.

حتی په خپله کورنۍ د پاره هم ګرانه وه، چې د غه نظر ومني. هغه نیویارک ته د تګ په لاره کې په ژنیو کې د فبروري په ديارلسمه څرګنده کړه چې په کابل کې د موقتي حکومت د جوړېدو کار « په مطلق ډول» په خپله د افغانانو حق دی. د دې معنی دا وه چې، دا د خود ارادیت او ملي حاکمیت موضوع ده، او هغوی په خپله د وطن په خلکو پورې اړه لري.

د شوروي حکومت هم په دې باب ورته نظر لاره - د هغه د باندنیو چارو د وزیر مرستیال یولي ورانتسوف، چې د فبروري په لسمه اسلام آباد ته راغلی و، وروسته له دې چې له افغانستان نه یې د شوروي پوځ د وتلو په هکله د ګورباچوف وینا تکرار کړه، یه یوې مطبوعاتي مرکې کې

څرګنده کړه چې د انتقالي حکومت رغونه « یوازې او یوازې د افغانانو» وظیفه ده. ورانتسوف دغه وینا په واقع کې د پاکستان د حکومت د دریځ په ارتباط وکړه، او پیغام یې داو چې پاکستان ته نه ښایي د موقتي حکومت د رغونې موضوع د ژنیو د خبرو د پاره یو شرط وګرځوي. نوموړي دا هم وویل چې « موږ کولی شو او باید د ژنیو په موافقې سره د یوه حکومت د جوړېدو د پاره شرایط برابر کړو، او هر چا ته وښیو چې د شوروي پوځ به په یوه ټاکلې نېټه کې د ټولو هغو په خوښه ووځي چې د ژنیو په پروسې کې یې برخه اخیستې ده.»

په همدغه وخت کې د امریکې د بهرنیو چارو وزارت په یوه څرګندونه کې، هغسې چې د امریکې غږ راډیو خپره کړه، راغلي وو، چې کوم هغه هدفونه چې امریکا یې د یوه تضمین کوونکي په توګه غواړي نو سره شي د شوروي د پوځ پوره او اخري وتنه، د افغانستان بېطرفي د افغانانو د پاره د خود ارادیت حق، او وطن ته د مهاجرینو ستنېدنه ده. په دغې وینا کې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب په څرګندو الفاظو کې څه نه وو راغلي، بلکه له هغه نه په ضمني ډول د خود ارادیت په یادونې سره ډډه شوې وه.

## زرین نوراني په امریکې کې

زرین نوراني د فبرورۍ په ۱۶مه

امریکې ته په سفرلاړ، او هلته يې د همدغې موضوع په باب له ريگن شولتز او نورو سره وکتل. دامريکې حکومت داخل خپل د رېيځ د همدغې موضوع په سر تر ټولو روښانه کړا ـ د فبرورۍ په نوسمه يې په يوې وينا کې څرگنده کړه چې په افغانستان کې موقتي حکومت رغونه «مطلوبه» ده، خو دغه حکومت ستر هدف له افغانستان نه د شوروي پوځ وتنه ده، او په دې ټينگار کوي. نوراني بله ورځ هېواد ته د ستنېدو په لارکې په لندن کې وويل چې که د موقتي حکومت د رغونې موضوع ناحله پاتې شوه «ډېره خونړۍ جگړه» به پيل شي. نوځکه دې لاهم په دې فکر وچې د ټرنيو د موافقې تر لاس ليک کېدو نه د مخه د موقتي حکومت جوړېدنه په افغانستان کې د سولې د خوندي کېدو د پاره خاص اهميت لري.

# ائتلافي حکومت او د شوروي نوی دريځ

داسې ښکاري چې د شوروي حکومت د کوېد وويز د وروستي سفر په دوران کې د موقتي حکومت د رغونې په باب د پاکستان حکومت ته کوم راز داد ورکړی وي، او له هغه وروسته، لکه څنگه چې د مخه يې يادونه وشوه، د هغه په باب يې خپل نظر اړولی وي، خو د

پاکستان د حکومت نماینده د موقتي حکومت د تشکیل په باب په بحراني فکر تېښک وُ . زین نوراني د فبرورۍ په ۲۲مه د ګورباچوف د فبرورۍ د ۱۶ د اتمې بیانې وینا تر سخت انتقاد لاندې ونیوه ، او څرګنده یې کړه چې « ټول ښکلي کلمات او خیالي پوهنې چې ترینه لرې شي ، په هغې کې څه نوی شی نه لیدل کېږي . » برسېره پر دې د نوراني په نظر دغه وینا نه شي کولی د افغانستان د کشالې د پاره د سولې وړ پرانیزي . ده دا هم وویل چې د ګورباچوف په وینا کې د شوروي پوځ ایستنه په شرایطو پورې مقید شوې او دده په فکر « هغه د سوله ییزو خبرو نښه نه ده ، بلکه یو التیماتوم دی » . په موضوع پورې اړوند ټکي یعنې د موقتي حکومت د رغونې په باب د پاکستان خارجه سکرتر یا مرستیال عبدالستار وروسته د مارچ په ۶مه په لندن کې څرګنده کړه چې دغه فکر د ۱۹۸۷ کال په سپټمبر کې په خپله کوردووین وړاندې کړی وُ ، او څرګنده کړې یې وه چې د ژنیو د خبرو سره موازي دې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب پرمختګ وشي ، او د انتقالي دورې د حکومت د جوړېدو فکر د شوروي له خوا تائید شوی وُ ، او اوس د پاکستان حکومت تعجب کوي چې شوروي ولې له خپل دغه فکر نه اوښتي دی . زین نوراني لا په هماغې پرېتنه وینا کې ښکاره کړې وه چې د کوردووین د وروستي سفر په دوران کې موافقه شوې وه چې د نجیب الله د حکومت په ځای به یو پراخ - بنسټه ائتلافي حکومت مېنځ ته راشي او د هغه په خپلو الفاظو هغه « په

ښکاره ډول د شوروي د حکومت په خوښه شوېده »، او که نه کوم ډول خبرې ورکول شوي چې شوروي به سوله ونه منل شي، خو دا نه دی چې، د شوروي د حکومت په خوښه او که نه کوم ډول -
وروین کله خپل سفر دېر اوږد ده، خو دده په فکر «اوس شوروي یان
له خپل لفظ نه اوښتي دي.»

# د امریکایي ارمند همر اغېزمن رول

له بلې خوا د امریکایي ارمند همر په قول « د ۱۹۸۷ کال په پای
کې ښکاره شوې وه، چې شوروي قصد کړی و خپل پوځ په چټکۍ سره له
افغانستان نه وباسي په دې شرط چې مسکو په کابل کې د حکومت د
دماهیت په هکله د نجیب الله له عوض کېدو سره له کوم شرط سره
مخامخ نه شي.» دغه امریکایي میلیونر د هغو سنو اړیکو په سبب
چې د شوروي له انقلاب نه وروسته د کرېملن د ټولو واکمنو سره لرل د
افغانستان د کشالې د حل په لار کې یې خپلې فردي هلې ځلې جاري ساتلې
وې. دده د یوې لیکنې له مخې چې د جاري کال د جون په لومړۍ اونۍ
کې په نیویارک ټایمز کې خپره شوې وه ان د ۱۹۸۷ کال په فبرورۍ
کې کوربه وروین له ده نه غوښتي وو چې ښځنګه چې د روسي پوځ د وتلو
په باب د ژنیو خبرې په ټپه ولاړې وې د دغې غوټې د خلاصېدو د
پاره کوښښ وکړي. دده په قول وروسته له یوه کال هلو ځلو
نه ده وکولی شول جمهور رئیس ریګن په دې قانع کړي چې روسان

دخپل پوځ په ایستلو کې ربښتیني دي، او ده ته ښایي د پاکستان جمهور رییس جنرال ضیاءالحق په دې قانع کړي، او هغه ته پخپله تیلفون وکړي او داد ورکړي چې امریکا به دافغانستان دکشالې په سر پاکستان او مجاهدین دشوروي په مقابل کې یوازې پرې نږدي. دهمې په فکر هم دغه تیلفوني دادیني څخه وروسته وچې جنرال ضیاءالحق دژنیو له تړوافقاتو سره له خپل مخالفت نه واوښت او دهغو لاسلیک کول یې ومنل. څنگه چې وروسته به معلومه شي، دغه دادینه ممکن دمارچ په میاشت کې چې د ژنیو خبرې له څرگنده ړکود سره مخامخ وې ورکړ شوې وي.

# دائتلافي حکومت په باب داخلي مشکلات

خو دموقتي ائتلافي حکومت د رغونې په باب تر بین المللي مشکل نه زیات داخلي مشکل دخبرو له لارې ناحل بنکاریده. د دغسې حکومت د رغونې په باب باید د پاکستان دفارمول له مخې درې ډلې خلک - دکابل رسمي گوند، مجاهد تنظیمات او مهاجرین (د پخواني پاچا په شمول) سره جوړه وکړي. په ربښتیا هم که دغه ډلې سره جوړه وکړي، په داخل کې دجنگ احتمال به له مینځه تللی، او د ژنیو کېدونکی موافقه به په اسانه سره عملي کیږي، خو له دې امله چې دغوایي ترکو دتانه وروسته د رسمي گوند په سر والي حکومتونو دغومره جنایتونه کړي وي، چې د دې

ترمینځ ائتلاف ببځي نا شونتکی کار ګرځیدلی وي. همدغه سبب دی
چې هم د مجاهدو تنظیمونو مشرانو، او هم پخواني پاچا د نجیب الله ټول
هغه پیشنهادونه په غوځه رد کړي دي، چې نجیب الله د تش په نامه ملي
روغې جوړې د پلند د اعلام نه وروسته په وار وار کړي دي. او -
نجیب الله چې په همدغې موده کې په خپل حکومت کې یو شمیر غیر ګوندي
افرادو، او چیې د لګیو لکه ساز ا او سزا ته ځای ورکړی، د ده حکومت
ته یې نه قانوني رنګ ورکړی او په عمل کې یې نه په سیاسي او نه په جنګي
ډګر کې په پیښو بنه اثر کړی دی - د افغانستان د اوسني سیاست یو
وسپینیز قانون دادی چې څه وخت چې افراد یا ډلې د کابل د حکومت سره
ائتلاف وکړي، سمدلاسه هیڅ شي. د نجیب الله د حکومت رنګبدل
لکه چې دمخه د پاکستان حکومت غوښتی وو، په داسې حال کې چې ګوند
یې په ځای پاتې وي، هم کشاله نه شي هوارولی، او سوله نه شي خوندي
کولی. دغه کشاله هغه وخت هواریدلی شي چې شوروي اتحاد د خپل
پوځ له ایستلو سره د سیمې ګوندیو څو تنه پاسني غړي بیرون کړي، خو شوروي تر
تراوسه په دې فکر نه ښکاري.

د مخلوع پاچا او د مجاهدو تنظیمونو ټولو مشرانو ترمینځ ائتلاف
تراوسه ممکن نه ښکاري، لکه چې ټولو ته څرګنده ده د اووه ګوني اتحاد
د ړبو په اعتدالي نومونو یاد شوي تنظیمونو مشران د پخواني پاچا پلویان، او
د څلورو نورو ګوندونو مشران یې مخالفان دي. د فبروري د میاشتې له پیل

نه د مهاجرینو په کمپونو کې یو شمېر مخالفې او موافقې غونډې د ښځوانې
پاچا په باب وشوې ، خو څه وخت چې د فبرورۍ په لومړیو اوونیو کې دغه
خبر خپور شو چې نتوار سنگهه د هندوستان د حکومت د دولت وزیر
له پخوانې پاچا سره په روم کې کتلې دې د هغه داعیه چې په تېرو اوړي
کې په دوه زرو مهاجرینو کې د پوهاند مجروح د ذهنیت د سروې له
مخې پیاوړې وه ، سمدلاسه زیانمنه شوه . د هندوستان د گاندي یانو
حکومتونو په افغانستان باندې د شوروي یرغل نه دا چې غندلی نه دی ،
بلکه د کابل حکومت یې په رسمیت پېژندلی ، او د هغه د استقرار د پاره یې
مالي او تخنیکي مرستې هم ورسره کړي دي د هندوستان حکومتونو د لوی
هند له وېش نه را په دې خوا هر څه چې له افغانستان سره کړي دي ، په اصل
کې یې له پاکستان سره د خپل مخالفت په سبب په دغه مقصد کړي چې -
پاکستان د افغانستان له لورې نه بې ثباته کړي . همدغه سبب دی چې د هند
حکومت له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتلو په مقصد د ټرنیو له خبرو
سره تر اوسه هیڅ علاقه نه وه ښودلې او د خبرو په وروستي پړاو کې یې د
د نابللي شوي او نامطلوب مزاحم رول لوبولو ته ملا وتړله . نو د کابل د رژیم
نه د باندې ټول افغانان اوس تر هر بل وخت نه زیات د هندوستان د حکومت
په سیاست شکمن او ورسره په کلکه مخالف دي - وروسته له هغې چې دغه
حکومت له پخوانې پاچا سره په تماس کې شو د هغه د پاره یې په بین المللي سویه
مشکلات پیدا کړل ، او هغه روغ نیتي یې له مینځه یووړه چې په دغه د گرکي

دده په باب موجود و - خوداسې سنکاري چې بخپله په افغانانو کې اوس
هم ده ته هیله کیږي، او دوی دده قوت دنوړو په .ې اتفاق کې ګڼي .
البته اووه ګوني اتحاد بخپله یو ځواك او قوت دی - دداډول پیوښ
اتفاق په حال کې کولی شي داشتلافي حکومت په باب تجویز ونیسي - په
واقع کې دهمدغسې تجویز دنیولو دپاره دوه کاله دمخه بخپله ددغه اتحاد
مینځ ته راوستلو لومړنی ګام بلل کیږي - ددغه اتحاد له خوا دفبروري په
۲۳ مه داشتلافي حکومت په باب دلومړي ځل دپاره په مفصل ډول تجویز
ونیول شو، او اعلان پې وشو - ددغه تجویز له مخې اشتلافي حکومت به ۲۸
تنه غړي ولري، چې نیمایي به یې د اووه ګوني اتحاد نمایندګان، اووه تنه
به یې دمهاجرینو نمایندګان، او پاتې اووه تنه به یې دننه دافغانستان -
مسلمان افغانان وي . داووه ګوني اتحاد دهیڅ تنظیم مشر به دحکومت
غړی نه، بلکه دعالي شوراغړي وي ، او دغه شوړا به چې د دولت ترټولو
لوړ اورګان وي، دانتقالي دورې په بهیرکې دګډ مشرتابه دنده په غاړه
ولري . دحکومت ترڅنګه به یوه مشورتي شوړا هم مینځ ته راغلې وي .
دهیواد له هر۲۸ ولایتونو څخه به دوه تنه نمایندګان په هغې کې غړیتوب ولري، او پاتې
غړي به یې دپوهانو، روښانفکرو او تکنوکراتانو نه ورته غوره شوي وي .مشورتي
شوړا به دیوې انتخابي شوړا له خوا دنوي اساسي قانون ترجوړیدو پورې
دچارو د اجرا دپاره دقانون د ایستلو دنده په غاړه ولري . په همدې ډول د همدغه
تجویز له مخې دولایتونو چارې په ایالتي شوړا له خوا په مشورې سره اجرا کیږي .

# دافغان له داعيې نه دامريکې دکانګرس کلک ملاتړ

دکوردوويز په قول، څنګه چې دمخه يې يادونه شوې، دتېرو د ورستيو خبرو دپاره ښه تياری نيول شوی ؤ. دغه ډاډېنه دهغه روغ نيته نتيجه ښکارېده چې دهمدغې موضوع په سر دامريکې او شوروي حکومتونو په دريځ کې ده ته څرګنده شوې وه. دتېرو دخبرو تر پيل نه يوه اونۍ دمخه دامريکې دبانديو چارو دوزير مرستيال رابرټ پيک دکانګرس په يوې کومېټې کې دسناتورانو په وړاندې څرګنده کړه چې «دامريکې متحده ايالات به دې ته تيار وي چې که دتولې موافقې په باب پوره ډاډه شي، امريکايي مرسته به افغاني مجاهدينو بنده کړي.» ده په مشخص ډول څرګنده کړه چې دموافقې له کېدو نه (۶۰) ورځې وروسته يعنې کله چې له افغانستان نه دشوروي پوځ په ايستلو پيل وشي، په افغاني مجاهدينو به دامريکې وسلې بندې شي. ده دا هم وويل چې امريکا له شوروي نه د دې هيله لري چې «په کابل رژيم باندې دوسلو په بندولو سره دتېرو دموافقې له مخې متقابل بنديز مراعات کړي.»

دغې وينا دسنا ټول سناتوران وپارول. دسنا د ډېرکيو دموکرات ګوند ته منسوب مشر رابرټ برډ په ډاګه کړه چې دامريکې حکومت

« قصد کړی چې له افغان مقاومت نه تېر شي . » نور و محافظه کارو جمهوریت
غوښتونکو هم د پېیک دا دېښه په کلکه وغندله ، او څرګنده یې کړه چې سنا
له شوروي نه تر لفظي وعدو څخه زیات غواړي . د پوځ وتنه باید یقیني شوې
وي ، او افغان مجاهدین ازادي ولري چې د ځان د پاره خپله حکومت
وټاکي . د غوسنا تورانو د غه موضوع ځکه ټینګه ونیوله چې د ځینو علامو
له مخې د امریکې د باندنیو چارو په وزارت کې د پېیک په شمول یو د له لوړ
رتبه مامورانو په دې فکر بنکاریدل چې د افغان د موضوع په سر له شوروي
نه په نورو مهمو بین المللي موضوعاتو کې امتیاز تر لاسه کړي ، او له شوروي
سره معامله وکړي .
دلته د دغه ټکي یادونه حتمي بنکاري چې په ۱۹۶۱ کې د کیوبا
له بحران نه وروسته د کانګرس دواړه ګوندونه د افغانستان د کشالې په باب
سره یو موټی شوي وو ، په واقع کې حتی په اول سر کې هم د همدغه کانګرس
په غوښتنه وو ، چې د امریکې حکومت د ریګن په مشرۍ له مجاهدینو سره
د نظامي مرستې په ورکولو سره پیل کړی و . په بل عبارت له مجاهدینو
سره نظامي مرسته کول د امریکې د ملي سیاست یوه برخه ده ، او اوس
د امریکې د سنا په نظر په هغه معامله کېده . همدغه سبب و چې د امریکې
د کانګرس د سنا مجلس چې د امریکې په باندنۍ سیاست کې لوی لاس لري
موضوع ټینګه ونیوله او د فبرورۍ په ۲۹ مه یې د هیڅ په مقابل کې په
۷۷ رایو د « سناد احساس » په نامه حکومت ته سپارښتنه وکړه چې

د امریکې حکومت دې «... ترهغو چې په مطلق ډول څرګنده شي چې شوروي یانو خپل نظامي اشغال ختم کړی» او د انتقال په دوره کې تر نویو انتخاباتو پورې افغان مجاهدین «په کافي اندازه مجهز وي چې خپل تمامیت وساتي، افغان مقاومت باندې مرسته بنده نه کړي، ورسته یې ونه غوړځوي، او یا یې محدوده نکړي.» په دغې پریکړې کې دا هم وویل شول چې کابل رژیم ته دې د شوروي مرستې «ټول انواع» له مینځه لاړ شي او په دې یې ټینګار وکړچې داسې «سیاسي حل دې په کابل کې (وشي) چې د (افغان) مقاومت د پاره د منلو وړ وي.» په پریکړه لیک کې دا هم څرګنده شوې وه چې «د افغانستان آینده دې د شوروي ـ امریکې سرانو په هیلې یا طرح پورې ونه تړله شي.» سناتور رابرټ برډ لا د بېته هم اشاره وکړه چې دی ممکن د افغانستان د سولې په باب د امریکې رول د منځنۍ واټن ویشتونکو اتومي راکټونو د معاهدې په تصویب پورې هم مربوط کړي، چې په تېر دسمبر کې دړېګن او ګورباچوف ترمینځ شوې او په دغه وخت کې د کانګرس تصویب ته یې اړه وه ـ په دې ډول په ډېر نادر ډول به د امریکې د سنا مجلس د یوې خارجي موضوع یعنې افغان مجاهدینو ته د نظامي مرستې ورکولو په سر خپل حکومت ته په دغسې ټینګو الفاظو سپارښتنه کړې وي ـ دغسې سپارښتنې بې له شکه د ځینو په راتلونکو خبرو کې د امریکې د حکومت دریځ د شوروي په برابر کې په کافي اندازه ټینګ کړ او د امریکې د باندنیو چارو د وزارت هغو مامورانو د پاره چې د شوروي په مقابل کې د نرم چلند

پلویان وو، ناممکنه وګرځوله چې « افغان مجاهدین » یوازې پرېږدي .

# د ژنیو د روسته خبرې، دولسم پړاو

د ژنیو خبرې له انتظار سره سم د ۱۹۸۸ کال د مارچ په دوهمه پیل شوې . خبرې د پخوا په شان پټې کېدلې . بي بي سي د مارچ په څلورمه د کوردوویز له خولې څرګنده کړه چې په تېرو درېیو ورځو کې په خبرو کې « مهم پرمختګ » شوی دی، او دی هیله کوي چې پاتې ناحل تکي به هم ژر حل شي . خو په بله ورځ د امریکې حکومت، د سنا د سپارښتنې له مخې د لومړي ځل د پاره په ډاګه کړه چې تر څو مسکو د کابل رژیم ته وسله ورکوي امریکا به یې هم مجاهدینو ته ورکوي، او کله چې شوروي په کابل رژیم باندې وسله بنده کړي - امریکا به یې هم په مجاهدینو باندې ودروي . په دې ډول د ائتلافي حکومت په باب د پاکستان په ټینګار سربېره، چې لا تر اوسه پرې موافقه نه وه شوې، د اختلاف بل ټکی څرګند شو، او جدي و نیول شو، چې د هغو په نتیجه کې د ژنیو د غه پړاو خبرې چې شپږ اونۍ پسې اوږدې شوې، تر هر بل پړاو خبرو نه یې زیات دوام وکړ او د بې ځله د غسې حال ته ورسېدلې چې نږدې وې په ټپه ودرېږي، او ناکامې شي .

د مارچ په پنځمه د کابل رژیم د بانډیو چارو وزیر چې د ژنیو په خبرو

کې د همدغه رژیم د هیئت سروال ، څرګنده کړه چې له افغانستان نه
به د شوروي پوځ په نهو میاشتو کې ووځي ، او نیمائي برخه به یې په لومړیو
دریو میاشتو کې ووځي - وروسته په اسلام آباد کې د پاکستان صدر اعظم
جونیجو د خپل ملک د اپوزیشن مشران وبلل ، او د ژنیو د خبرو په باب
له هغو سره دوه ورځې جرګه شو - د دغو مشرانو د ویناوو اساسي ټکی
حکومت ته د سپارښتنې په دول داشو چې په داسې حال چې په افغانستان
کې د ملګرو حکومت باندې ټینګار وشي ، ترڅو په هغه سره د شوروي
پوځ له وتلو نه وروسته د افغاني مهاجرینو ستنیدل یقیني وګرځي ، د
پاکستان حکومت د پاره ښایي د ژنیو په خبرو کې دغسې دریځ غوره نه کړي
چې په هغه سره دغه خبرې ناکامې شي . د دغې احتیاطي سپارښتنې معنی
داوه چې شوروي ته باید دغسې پلمه په لاس نه شي ، چې د خپل پوځ د
ایستلو نه واوړي . خو په عین حال کې په لندن کې د یوې تلویزیوني مرکې
په ترځ د پاکستان خارجه سکرتر څرګنده کړه چې د ژنیو خبرې په ځای
ولاړې دي په دې چې « هغه بله خوا د انتقالي حکومت د فکر په باب
فکر کولو ته هم حاضره نه ده . » په همدې لړ کې زین نورانی کله چې د ژنیو
نه اسلام آباد ته بیرته راغی ، یعنې څه وخت چې یې د خپل حکومت نه نوې
هدایتونه ترلاسه کړي وو ، د مارچ په لسمه د خپل حکومت بحراني دریځ
بیا په ټینګه څرګند کې او ویې ویل چې د پاکستان د پاره د موقتي
حکومت د جوړیدلو موضوع د ژنیو د موافقې د لاسلیک نه کیدو په

اندازه مهم ده .

څرګنده وه چې د ژنیو په خبرو کې پرمختګ نه کېده ، که څه هم دغه ځل په ژنیو کې د لومړي ځل د پاره د امریکې د حکومت خاص استازی رابرټ پیک او د شوروي د حکومت فوق العاده سفیر نیکولای کوزیروف د خپلو هیئتونو په سر والی په ژنیو کې مېشته شوي وو ، او هڅه کېده دوی له هغو سره د ضرورت په وخت کې کتل . د مارچ تر پورو لسمې پورې د ژنیو خبرې په ځای ولاړې وې او ګمان نه کېده چې د وعدې له مخې د مارچ په پنځلسمه پای ته ورسیږي . نیکولای کوزیروف یو ځل بیا په یوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه چې د موقتي حکومت د جوړېدلو موضوع د شوروي پوځ د ایستلو په موضوع پورې تړلې « د افغانستان کشاله پېچلې کوي » کوښښ کېده دوی د مارچ په یوولسمه د پاکستان او کابل رژیم له استازو نه وغوښتل چې د خبرو د جدي کولو د له مینځه وړلو د پاره له خپلو مربوطو حکومتونو څخه نوي هدایتونه ترلاسه کړي . خو په همدغه ورځ د امریکې د باندنیو چارو وزارت یو ویاند وی چارلز ریډمین د شوروي د حکومت هغه ادعا رد کړه چې ویل یې حق لري د کابل رژیم ته حتی وروسته له هغه چې په مجاهدینو باندې د امریکې وسله هم ودرول شي وسله ورکړي . هغه وویل « شورویان . . . . دې ادعا نه شي کولی چې حق لري یوې ډلې ته کومک ورکړي بس په دې چې هغه ځان ته حکومت وایي . » د هغه په قول « دغه تش په نامه حکومت

یوازې یوه ډله ده نه ترهغه زیاته او دغه ټول جنګ د همدغې موضوع په سر دی .»

د مارچ پنځلسمه یعنې موافقې ته د رسېدلو ټاکلې نېټه تېره شوه. او د ژنېو خبرې هماغسې په ټپه ولاړې وې. په مسکو کې د باندنیو چارو وزارت ویندوی ګراسیموف وویل چې « څرګنده ده چې که د موافقې نېټه وروسته وغورځول شي د شوروي پوځ ایستلو د پیل نېټه به هم وروسته وغورځول شي » خو یوه ورځ د همدغه وزارت یو بل ویندوی وادیم پرفیلیف څرګنده کړه چې که ژنېو موافقه لاسلیک هم نه شي شوروي به خپل پوځ له افغانستان نه وباسي - ده زیاته کړه چې « موږ به یې په خپله وکړو. او موږ خپلې اړتیاوې او د ( پوځ ) د ایستنې شکلونه په خپله ټاکو .»

د ناکامې سورې په ژنېو کې د ملګرو ملتونو په ماڼۍ باندې خپور ښکارېده، خو کورډوویز لا هم دا څرګندوه چې د یوې ټینګې موافقې د پاره له دیوې سطحې او غیر مسئولې موافقې د پاره کوښښونه روان دي. ده دا هم وویل چې « موږ له سختو کشالو سره مخامخ شوي یو، خو موږ خبرې کوو، او د حل لارې لټوو .»

# د موافقې په لور پرمختګ

د خواشینۍ په همدغه مهال کې و، چې زین نوراني دغسې یوه

څرګندونه وکړه چې له هغې نه زړه ځلاوې بربښېدې - خبرلوڅو ته
يې څرګنده کړه چې «پاکستان به د ژنيو د موافقې لاسليک کول حتى
ديوې ورځې د پاره هم تال نکړي، څو چې زمونږ دوه انديښنې لرې شي.»
دده په قول يو انديښنه په افغانستان کې د موقتې حکومت د جوړېدلو
په منظور د مو ډلونو او طرز العملونو تماموله دي - ده وويل چې دغه
پروسه اوس هم پيل کېدلى شي، او د موافقې تر لاسليک کېدو وروسته
هم اوږدېدلى شي - د نوراني له دغې ناڅرګندې وينا نه داسې نتيجه ايستل
کېدلى شوه چې د ائتلافي حکومت د جوړېدو په باب، يا په دقيق ډول
د هغه د جوړېدو د وخت په هکله، د پاکستان د حکومت په دريځ کې څه
نوې راغلى - لکه چې وليدل شو، نوراني تر اوسه ټينګار کاوه چې د توا-
فقاتو تر لاسليک کېدو نه مخکې دې په افغانستان کې د غسې نوی
قانوني حکومت مينځ ته راغلى وي، چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي. معنى
دا چې د نجيب الله حکومت دې د ژنيو د موافقاتو تر لاسليک کېدو نه د
مخه ړنګ شوى وي، او س په دې فکر ښکارېده چې کېدى شي د غسې
حکومت د توافقاتو تر لاسليک کېدو نه وروسته مينځ ته راشي. په بل
عبارت د زين نوراني په فکر، هم لکه د امريکې د نظر په شان، د شوروي
قواوو وتنه تر هر بل څه مقدم وګڼل شو. زين نوراني طبعاً په دې
وخت کې ونه ويل چې د غه تغيير د چا په نوښت يا د ستور راوستل
شوى، خو وروسته له دې چې د جونيجو حکومت د جنرال ضياء الحق

له خوا رنګ شوی و، د جون په نهمه یې په اسلام آباد کې په یوې مطبوعاتي کنفرانس کې « د پردې شاته مانورو او خندونو » ته اشاره وکړه. دا یې هم وویل چې د پاکستان موجود حکمرانان به ده باندې د ژنیو د تړون په سر او هم دا چې ده له شوروي سره د پاکستان د دوستۍ د اړیکو د پاره اساس برابر کړی دی، هیڅکله لطف ونکړي. ( مسلم، ۱۰ جون ۱۹۸۸ ) د ده « د پردې شاته خندونو » ته اشاره شاید د ارمند هم رول ته وي چې د مخه یې یادونه وشوه. د زین نوراني په فکر بله اندېښنه په افغانستان کې د وارو د ښمنو خواو ته د وسلو د متناظر او متناسب کولو اصل و. د ده په فکر مسکو او واشنګټن باید په دواړو خواو باندې وسله بنده کړي. ده زیاته کړه چې « موږ د موافقې د لاسلیک کېدو مسئله په کابل کې د موقتي حکومت د جوړېدلو له موضوع نه بېله کړې ده ». سره له دې هم عبدالوکیل د کابل رژیم استازی پاکستان په دې تورن کړ چې د ژنیو په خبرو کې یې نوې کشالې پرسېره کوې او موافقه ځنډوي. ده وړاندې وروسته تر هغه د شوروي د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاندوی دغه تور تکرار کړ او امریکایې یې هم تورنه کړه. په عین حال کې عبدالوکیل په ټینګار سره وویل چې د ده حکومت به د ژنیو تر موافقې وروسته هم، کله چې لاسلیک شي، د تل د پاره له شوروي نه وسله اخیستلو ته دوام ورکړي. نوراني دهغه په مقابل کې څرګنده کړه چې « له مداخلې او لاس وهنې څخه د ډډې کولو ژمنه په یوه هېواد کې د ننه د ګډوډۍ او ناآرامۍ د پیدا کولو

په مقصد له تجهیزاتو او وسله تهیه کولو څخه د دې کولو وجیبه لازموي.»
ده زیاته کړه چې «که په افغانستان کې له څو ډلو یا ټولګیو څخه یې باندنیو وسلو اخیستلو ته دوام ورکوي - او بل یې ترینه محروم ګرځول کیږي، هغه به له دغه پرنسیب سره متناقض وي.» د مارچ په اولسمه د امریکې د باندنیو چارو د وزارت یو ویندوی هم د تړون کولو پر یوې محکمې کې څرګند شو، مسکو یې د پوځ ایستلو په ځنډولو تومتي کړي، او په دې یې تړون کړ چې د نا حل شویو موضوعاتو په باب جدي نه دی. ده دا هم وویل چې شوروي په دې ښه پوهېږي چې د جامعې فیصلې او حفاظت په قرینه کې د پوځ د پوره ایستلو له ژمنې نه غیر موافقه ممکنه نه ده. برسېره پر دې ده وویل چې د شوروي له خوا د پوځ ایستنې نیټه بخیل سر او تصنعي ده. په پای کې یې څرګنده کړه چې له دې چې د تضمین کوونکو په رول مفاهمه راشي «مونږ به تر هغو مجاهدینو ته نظامي مرستې ورکوو ترڅو موافقه پوره د قناعت وړ وي، او د کابل رژیم ته د نظامي مرستې په توقف کې د متناظر اصل (Principle of Symmety) مراعات وشي.»

دیوبل او تړون کولو او ملامت کولو دغه حال د شوروي اختلاف نښې وې او ځینې مبصرین لا په دې فکر کې شول چې ژنیو خبرې نور نو ناکامې دي مګر کوردوویز په دې فکر نه و. او اوس دی د هغو خبرو نتایجو ته په انتظار و چې د مارچ په ۲۴مه په واشنګټن کې د جارج شلتز

او شیوارد نادزې تر مینځ د سرانو د آینده جرګې د تیارۍ نیولو د پاره پیل شوې وې ، او هلته د دوی له خوا د افغانستان کشاله هم تر بحث لاندې نیوله کېده .

# په واشنګټن کې د شلتز او شیوارد نادزې کتنه

جارج شلتز په دغو خبرو کې شیوارد نادزې ته پیشنهاد وکړ چې مسکو او واشنګټن دې د کابل رژیم او مجاهدینو ته د کشالې د هوارولو په مقصد د درې میاشتو په بهیر کې له نظامي مرستې ورکولو ځنډ ورکړي . خو مقابل لوري یې په بله ورځ په یوې مطبوعاتي مرکې کې دغه پیشنهاد ونه مانه او څرګنده یې کړه « د شوروي حکومت د افغانستان په مقابل کې یوه وجیبه لري او دغه وجیبه د یوې معاهدې له مخې ده . »
د ۱۹۲۱ کال هغه معاهده په نظر کې لرله چې د امیر امان الله خان او شوروي حکومت تر مینځ لاسلیک شوې وه . خو د عرابي په قول (مسلم ، د اپریل ۲٤ ، ۱۹۸۸ ) « دغه تړون دغسې کومه ماده نه لرله . »
په هر حال اوس په شیوارد نادزې څوک په دې قانع کړي چې د امان الله خان حکومت قانوني و ، او د کابل دغه اوسنی رژیم غیر قانوني ، او څنګه چې تر هر چا زیاته ده ته څرګنده ده چې هغه روسي پوځ په ځای د روالي او هغه د افغانانو نماینده نه ، بلکه په کابل کې پخپله د دوی

نماینده دی، او دغه ټول جاري جنګ د دوی د دوام وړ ضد
دی. شیوارډنادزې په عین حال کې د یوې پوښتنې په ځواب کې له
دې نه هم ډډه وکړه چې هغه وعده تکرار کړي کومه چې د شوروي پوځ
نطاق دغه کړې وه، او ګې یې ویلي وو چې که په ژنیو کې موافقه هم
لاسلیک نه شوه شوروي به خپل پوځ له افغانستان نه وباسي. همدغه
نطاق پرفي لیف، چې د هیئت غړی و د ده د وعدې په باب د یوې پوښتنې
په مقابل کې وویل چې هغه رسمي وینا نه، بلکه د ده شخصي وینا وه.
دغه موضوع ځکه یوه مهمه شوې وه چې د امریکې د بهرنیو چارو
وزارت یوه ویندوی چارلز ریډمان د مارچ په اتلسمه د هغې وعدې
هرکلی کړی و او ویلي یې وه چې کوم وخت چې شوروي په
افغانستان تیری کاوه، د ژنیو موافقې ته یې اړه نه حس کوله، او اوس
هم د ژنیو په موافقې پورې اړه نه لري چې خپل لښکرې له افغانستان نه
وباسي. خو ده وویل چې امریکا عقیده لري چې دا به غوره وي چې که د
پوځ د ایستنې د پاره یو منظم اساس جوړ شوی وي، هغه به د شوروي
په شمول د ټولو په ګټه وي. مقصد دا چې د شولتز او شیوارډنادزې
په دې وروستنۍ جرګې کې د ژنیو د خبرو د کود په باب څه پرمختګ
ونه شو. خو په ژنیو کې زین نورایي د دې پاره چې د ژنیو خبرې په تېره
د بدلې ونه بریښي د یوې پوښتنې په ځواب کې څرګنده کړه چې "موږ
خبرو ته دوام ورکوو او معنی یې دا ده چې هغه ژوندۍ دي او د نتیجې

رسیدلو دپاره تل هیله شته .» باید وویل شي چې دوسلو متناظر اصل او دموقتي حکومت موضوع دژنیو دخلورګونو سندونو برخه نه وه . دزین نورانی په قول « هغه زمونږ اند ښتنې دي چې باید دخلورو سندونو نه دباندې له مینځه لاړې شي .»

# دوسلو په مثبت متناظر اصل ټینګار

دژنیو خبرې په واقع کې په ځای ولاړې وې ، خو ناکامې هم نه وې . دمارچ په اووه ویشتم زین نورانی یوځل بیا څرګنده کړه چې دشوروي له خوا دمتناظر پرنسیب نه منل دموافقې دلاسلیک کولو دپاره یوا ځنی خنډ دی . دده په قول « هغه څه چې دژنیو دموافقې دلاسلیک کیدو مانع ګرځي هغه دشوروي نا آماده ګي ده چې ددواړو تضمین کوونکو مساوي او دوه اړخیز رول ومني .» برسیره پردې ده څرګنده کړه چې « په هغه شپه چې هغه ( دشوروي آماده توب ) ومنول شي ، قلم مې راسره دی ، او لاسلیک به وکړم .» په پای کې ده یوځل بیا په ضمني دول یو مهم ټکی څرګند کې او ویې ویل چې « تر هغه ځایه چې په پاکستان پورې اړه لري مونږ کوردوویزته خبر ورکړې چې خلوره واړه سندونه پوره شوي دی ، او مونږ په دغسې حال کې یو چې سندونه لاسلیک کړو .» له دغې وینا نه څرګنده وه چې پاکستان نور نو دژنیو تر موافقې کیدو نه دمخه په کابل کې دانتقالي حکومت د

جوړېدو فارمول په عملي کېدو ټينګ نه و، لکه چې دمخه امريکايي
مليونر ارمنډ همر له خولې نه يادونه شوې وه، جنرال ضياء الحق د
رونالډ ريګن په ټيليفوني ډاډينې له دغې موضوع نه د اوس د پاره تېر
شوی و. څرګنده وه چې له افغانستان نه د شوروي د پوځ ايستنه
تر نورو ټولو اړوندو ټکو مقدمه ګڼل شوې ده. په هر حال اوس نو
يوازې د وسلو په متناظر اصل باندې ټينګار کېده. دغه اصل که څه
هم د ژنيو د څلور ګونو سندونو ګومه برخه نه وه، خو پاکستان
او امريکا دواړو ورباندې پوره ټينګ ولاړ وو.

اوس نو څرګنده وه چې که ژنيو ته له کرېملن څخه شنه نښه
ونه رسېږي، د خبرو بريالېتوب هيله به د بړاس په شان پورته هوا
ته والوزي. ليونيکوف د کرېملن د دوهم قوي شخص، د امريکايي
نيوز ويک مجلې سره په مرکه کې، چې د مارچ په ۲۸مه د راډيو ګانو
له لارې نړۍ ته والوته رسوله شوه، ويلي يې وو چې «موږ څرګنده کړې
چې غواړو خپلې لښکرې وباسو، نه د دې د پاره چې څوک خوښ وګرځوو،
بلکه د دې د پاره چې د افغانستان او شوروي اتحاد ولسونو ترمينځ
نورمال اړيکې مينځ ته راوړو.» بر سېره پر دې چې دغه وينا د پر-
نسيب وينا وه، يعنې مشخص څه يې نه لرل، په ضمني توګه د دې
اعتراف و چې د کابل او مسکو ترمينځ موجود اړيکې نورمال نه دي.
البته دا خو بېله او څرګنده خبره وه چې د هغو جنايتونو له امله چې د

کرېملن واک لرونکو د سیاست په وجه په تېرو نهو کالونو کې په افغانستان کې شوي خدائي خبر چې د روس او افغان ولسونو ترمنځ اړیکې به تر قیامته پورې هم نورمال شي. روسانو د افغانانو درستنۍ د تل دپاره له لاسه ورکړې، خو د حاضر وخت دپاره د ژنیو د خبرو په ارتباط د دغه وینا یوه ښه نښه وګڼل شوه -

# د ژنیو خبرې او د مجاهدینو اتحاد

په دې حال کې د مارچ په ۲۸ مه انجنیر ګلبدین حکمتیار چې د مارچ په پنځلسمه د مولوي محمد یونس خالص په ځای د دریو میاشتو دپاره د اوو ګوندونو اتحاد نوبتي سروال ټاکل شوی و، د خپلو پخوانیو مکررو انتقادونو په لړکې یو ځل بیا په شدت سره د ژنیو خبرې رد کړې - ده په خپلې وینا کې په ضمني ډول دېته هم اشاره وکړه چې پا-کستان حق نلري چې د افغان مجاهدینو نمایندګي وکړي، ځرګنده یې کړه چې مجاهدین به هیڅ هغه موافقه ونه مني چې دوی پکې برخه ونه لري او دوی به ټولې نړۍ ته ثابته کړي چې د مجاهدینو له رضایت نه غیر د دوی د وطن افغانستان په باب هیڅ راز موافقه عملي کېدلی نه شي.

خو د یوه ټکي په سر د حکمتیار نظر د پاکستان د حکومت له

نظر سره ورته و. ده وویل چې د ژنیو موافقې دې ترهغو لاسلیک نه شي، ترڅو په افغانستان کې د جنګ احتمال د تل د پاره له منځه تللی وي. د ده په نظر دا هغه وخت ممکن کېدلی شي، چې د غسې قوي حکومت مینځ ته راغلی وي چې وکولی شي بین المللي موافقې عملي کړي، او د مهاجرینو د ستنېدو د پاره شرایط برابر کړي. خو د ده په نظر یوازې د مجاهدینو اسلامي حکومت د غسې څه کولی شي. په پای کې ده سپارښتنه وکړه چې پاکستان دې د نشار له لارنه «ژنیو نیمګړې موافقه» لاسلیک نه کړي، مګر دا چې هغه د عادلانه پایښت لرونکی، او عملي حل لاره ولري. حکمتیار یو ځل بیا خپل همیشنی اخطار صادر کړ چې مجاهدین به ترهغو جنګ کوي ترڅو وروستی روسي عسکر له افغانستان څخه نه وي وتلی.

دلته د دې ویل لازمي دي چې مولوي محمد یونس خالص په ظاهر کې د نا روغتیا په پلمه د اتحاد له سروالۍ نه ځان ګوښه کړی و. خو دا خبره عامه شوې وه چې دی د اتحاد له خوا ژنیو ته د غسې هیئت له استولو سره مخالف و چې په خبرو کې به ګډون حق نه لري، او بس د تخنیکي معلوماتو د راکولو د پاره به چېرته د انتظار په کوم سالون کې ناست وي. هم د غسې هم وشول خو په دغه توپیر چې په ژنیو کې دغه هیئت هیڅ چا ونه پوښته

# د شوروي حکومت نوي حيرانوونکی دريځ

د مارچ میاشت مخ په خلاصیدو وه ، او د ژنیو خبرې د اوږد ځنډ په شان په ځای ولاړې وې . خو هماغه د وسلو متناظر اصل و، چې د کریملن لویانو یې د ځنډو د پاره غاړه نه ایښوده - د کریملن لویانو په دغه حال کې، لکه چې د مخه یې هم د توقع په خلاف څرګنده په حیرانوونکي کار لاس پورې کړی و ، بیا هم په دغې حیرانوونکي کار لاس پورې کړ ، چې که پرې ټینګاری کړی وای ، د ژنیو د خبرو بڼه به پوره اوښتې وای ، او حتی ناکامه شوې به وای - شیوارډنادزې د بلغاریې په خپل سفر کې په صوفیې کې د مارچ په ۲۹مه د افغانستان د کشالې په باب په یوې اوږدې وینا کې څرګنده کړه چې « په یقین سره دا به ښه وي چې هغه ( امریکا ) تضمین کوونکی وي - خو زموږ په فکر دا پوره ممکنه ده چې د امریکې د تضمین نه غیر هم هغه لاسلیک شي ، په دې چې دغه سیمه په جغرافیوي لحاظ له امریکې سره هیڅ تړلې نه ده - په دغه حال کې فیصله به په دغه شکل وي : څنګه چې سندونه د شوروي پوځ د وتلو په باره کې دي ، د افغانستان ، پاکستان او شوروي له خوا به دوه اړخیزه توافقات لاسلیک شي .» شیوارډنادزې

له هغه وروسته دا پریل په لومړیو د خپل نوي دریځ د بیا ویړي

کېدلو د پاره داسې دلیل راوړ چې امریکا به یوې غیر حکومتي

مؤسسې ( مجاهدینو ) ته دوسلو په ورکولو سره چې د ملک

قانوني حکومت یې یاغي بولي د افغان د کشالې یوه برخه شي، چې

بیا به دیوه تضمین کوونکې په توګه عمل ونه کړای شي .

د شیوارډنادزې د دغه نوي دریځ معنی څرګنده وه - شوروي

لویانو غوښتل له افغانستان څخه خپل پوځ بیرون کړي ، خو د دې د

پاره چې د افغانستان پوره له لاسه ورکول ممکن د ننه په شوروي کې

ناراضیان ، غیر روسي ملیتونه ، او د ختیځې اروپا تابع ملکونه د -

کریملن د دربندو لاسونو په مقابل کې د فعالیت د پاره وهڅوي ، دوی

په دې ټینګ وو چې هرڅنګه چې کېږي د کابل رژیم باید په وسلو سره

په ځای وساتل شي ، او خپل درانده لاسونه په افغانستان باندې یې له

نظامي موجودیت نه تل خواره وساتي ، او که امریکا د ژنیو د توافقاتو

تضمین کوونکې نه وي ، په هر راز توافق سره به شوروي تر هر بل

ملک زیات په افغانستان موثروي - خو څرګنده وه چې د اسلام -

آباد او واشنګټن د کریملن د دغه نوي دریځ د منلو د پاره تیار نه وو.

زین نوراني د شیوارډنادزې دغه پیشنهاد زر په غوسه رد کړ . ده

څرګنده کړه چې په اصل کې همدغه شوروي وچې امریکا یې د یوه

تضمین کوونکې په توګه پیشنهاد کړه ، او له هغه وروسته د ژنیو

سندونه په دغه ډول ترتیب شول چې که اوس یو تضمین کوونکی تړې
نه وایستل شي، په ټولو سندونو باندې باید له سره خبرې وشي، او
په دې ډول د ژنیو د پروسې ټوله طرح به وا وړي - نورا نی وروسته
تر هغه د اپریل په لومړۍ د وسلو د متناظر او متوازن اصل په باب یو ځل
بیا وویل چې دغه اصل « باید متوازن وي، او هغه به دوه ډوله
کیدلی شي - یا باید دوی ( امریکا او شوروي ) نظامي مرسته بنده
کړي - یا بله متوازنه لاره داده چې دواړه یې ورکړي . »
جارج شلتز هم په همدغه فکر و - د اپریل په لومړۍ یې څرګنده
کړه چې په افغانستان کې سوله هغه وخت خوندي کیدلی شي چې
مسکو او واشنګتن دواړه په افغانستان کې جنګ کوونکو دلو ته د نظامي
مرستې په متوازن اصل جوړه وکړي . د ده هم وویل چې « موږ
باید څارو او سو چې له هغو سره چې موږ یې ملاتړ کوو، په برابر
ډول چلند وشي . » خو په ژنیو کې د شوروي خاص استازي نیکولای
کزیروف وویل چې شوروي دغسې پیشنهاد نه شي منلی چې په
افغانستان کې مخالفو دلو ته د نظامي مرستې په متوازن اصل بناوي .
د خپل د حکومت نوی دریځ یې یو ځل بیا څرګند کړ چې شوروي اتحاد
به د هغه له مخې بې د امریکې له تضمین نه د ژنیو توافقات لاسلیک
کړي - ده لا د مخه د مارچ په دریشمه څرګنده کړې وه چې د کابل
حکومت ته د نظامي مرستې « بندونه د بحث د پاره خلاصه نه ده، هغه

ممکنه نه ده.» په دې دول دژنیو په خبروکی دوهم خنډ پیدا شو او کوردووین داپریل په لومړۍ ورځ په دې فکرشو چې دشپږوکالو دخبرو په بهیرکې دادی اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې د افغان فیصله به یا بریالۍ او یا ناکامه شي.

# کابل ته دشیواردنادزې ناڅاپي تګ

شیواردنادزې داپریل په دریمه په ناڅاپي دول کابل ته لاړ دېرو دغه سفر دافغانستان دکشالې په باب دشوروي دسیاست باب دکوم تغییرخارجي نښه لیدله. دنیویارک تایمزپه قول هروخت چې دشوروي دباندنیو چارو وزیرکابل ته تللی دافغانستان په هکله دشوروي په سیاست کې څه بدلون رارسېدلی شوی دی. په ژنیوکې شته خبرلوڅو ته دکوزیروف ذغتر ګندونې چې «مشکله ده وویل شي چې ایا شوروي اتحاد به خپل دیرځ وساتي» دغسې یوامید هم ورکړی و. په همدغه مهال کې په مسکو او واشنګټن کې دېپلوماتیکي فعالیتونه زیات شول - دغه وخت دژنیو دخبرو پنځمه اونۍ وه.

شیواردنادزې کابل ته دررسېدلو په وخت کې څرګنده کړه چې غواړي دررژیم له مشرانو سره دافغان دکشالې دسیاسي فیصلې په

باب خبري وكړي - ده وويل چې د پاکستان او امريکې د نه همکارۍ
چلند سختې ستونزې رامينځ ته کړې دي ، او اوس لازمه ده چې
نورې لارې چارې ولټول شي - ده دا هم وويل چې د ژنيو د موافقې
د ناکامۍ په صورت کې به هسکو د خپل پوځ د ايستلو په سر ممکن له
کابل سره موافقه وکړي . دوه ورځې وروسته د اپريل په پينځمه
د شوروي رسمي اژانس تاس په همدغې روحيې يوه بېله څرګندونه
خپره کړه او ويې ويل چې د ژنيو د خبرو د ځای په ځای ودريدو
سره سره له افغانستان نه د پوځ ايستلو په باب د شوروي اتحاد
« سياسي فيصله » لاهم د اعتبار وړ ده . د تاس په څرګندونې کې دا
دا هم ويل شوي وه ، چې که اسلام آباد په داسې حال کې چې امريکا
تضمين کوونکي نه وي د دوه اړخيزو توافق کولو نه ډډه وکړي
شوروي به « د يوې بېلې افغان - شوروي موافقې په اساس
چې د افغانستان او شوروي اتحاد له ګټو سره به سر خوري »، خپل
پوځ له افغانستان څخه وباسي . شيواردنادزې او نجيب الله د اپريل
په شپږمه په کابل کې د غه خبره تائيد کړه ، چې که په ژنيو کې موافقه
ونشوه ، يا ونه شوه د شوروي پوځ به له افغانستان څخه بيرون کړل
شي . پراوردا ، د شوروي د کمونست ګوند ورځپاڼې له کابل نه په
يوه رپوټ کې څرګنده کړه چې « که د ژنيو پروسه د لازمي توافقاتو
په لاسليک کولو سره پای ته ونه رسيده ، شوروي اتحاد او افغانستان

په د خپلو ملي گټو له مخې په عمل لاس پورې کړي. »

په هغه وخت کې د دغو څرگندونو پوره اهمیت ته چندان پام ونه شو، ځکه هم هغه د « ملي گټو » په بناوې، نه د معمول په شان د انترنیشنلستي همکارۍ په اساس؛ خو په واقع کې کابل ته د شیوارد نادزې تر تگ نه دمخه شوروي واکمنو د امریکې په ټینگار سره د وسلو د متناظر اصل ته چې د ژنیو د فیصلو یوه ځنې پاتې خلا وه، غاړه اېښې وه، او ځوله دې چې ښکاره یې کړي، لا یې ورته هواره وه.

شیوارد نادزې په کابل کې کوښښ کاوه نجیب الله په دې قانع کړي چې د شوروي پوځ ایستلو (بلاتي) ته غاړه کېږدي. نجیب الله بله چاره نلرله، مگر دا چې هغه وغې - خو په دې یې ټینگار وکړ چې د شوروي ملاتړ دې ورسره وي، او دغه دادینه نجیب له گورباچوف ده ته ورکړی.

# نجیب الله او گورباچوف په تاشکند کې

شیوارد نادزې او نجیب الله د اپریل په شپږمه تاشکند ته لاړل او هلته په بله ورځ نجیب الله او گورباچوف چې هغه هم له مسکو نه هلته تللی و، سره ولیدل. د مطبوعاتي خبرونو له مخې گورباچوف نجیب الله ته څرگنده کړه چې د شوروي پوځ نه غیر دې خپله چاره وکړي، خو دا کولی شي دې د پنځلسمې نه د مخه چې په دغه ورځ به د پوځ

په ایستلو پیل کېږي ، د شوروي په نبې نږیاتې نظامي مرستې حساب وکړی. تر هغه وروسته به هم په سخته پیمانه وسلې ورته استولې کېږي

په همدې ورځ یعنې د اپریل په اوومه په یوې گډې اعلامیې کې د نوړو تکو په ترڅ کې څرگنده کړه چې د ژنیو د خبرو په هکله « وروستي خنډ له منځه ولاړ شوی دی ، » او د ژنیو د تو افقاتو د لاسلیک کېدو د پاره بل مانع وجود نه لري ، د همدغې پنجشنبې په ورځ په مسکو کې د بانډیو چارو وزارت په یوې وینا کې مشخصه کړه چې د شوروي او امریکې ترمینځ د وسلو د متناظر اصل په باب موافقه شوې ده - په هماغه ورځ تر دغو دواړو څرگنده ونو نه لا د مخه په اسلام آباد کې د پاکستان مشر جنرال ضیاء الحق د پارلمان یوې گډې غونډې ته همدغه زیری ورکړی و او وکیلانو دغه زیری په ډېرې خوښۍ سره بدرگه کړی او په همدغه ورځ د امریکې د حکومت یوه ویندوي څرگنده کړه چې د شوروي حکومت د امریکې هغه فارمول منلی چې په هغه سره به د ژنیو خبرې بریالۍ شي . کره دوه ورځې په بله ورځ یعنې د اپریل په اتمه څرگنده کړه چې اوس د افغانستان د کشالې د حل په باب ټول سندونه تکمیل شوي او د لاسلیک کېدو د پاره تیار دي ، او د جاري میاشتې تر خوارلسمې پورې به لاسلیک شي .

. . .

# دوسلو په متناظر اصل د امریکې د حکومت ټينګار

موضوع سره له دې هم پوره څرګند او تثبیت نه وه - په امریکې کې له مطبوعاتي لیکنو نه پرته رسمي څرګندونه نه وه شوې - د اپریل په یوولسمه جارج شولتز د امریکې په سپینې ماڼۍ کې په دغه باب خبریالانو ته په دغو الفاظو وینا وکړه «اوس ترهغه ځایه چې د امریکې په ژمنو پورې اړه لري، مونږ په ټينګه ویلي دي چې څوا له دې چې مونږ تضمین کوونکي شو د تضمین کوونکو ژمنې باید د متناظر اصل له مخې وي - زمونږ غوره شوې لاره چېله زمونږ او د شوروي اتحاد له خوا دغسې تعهد وچې د هغه له مخې مونږ هر یو په افغانستان کې خپلو دوستانو ته (دوسلو) د ورکولو حق ولرو، خو مونږ به د نورو وسلو په هکله دیوې تاکلې مودې د پاره بندیز ولګوو خو دوی (شوروي اتحاد) غوره ونه ګڼله چې دغه فکر ومني او سمونو مونږ په باور سره په افغانستان کې خپلو دوستانو ته څنګه چې مونږ یې ضرور بولو (دوسلو) د ورکولو حق ساتو - او نه مونږ د ضرورت احساس بر په هغه احترازسره متاثر کیږي چې مونږ یې په شورویانو کې وینو.» په بله ورځ د امریکې د باندنیو چارو د وزارت ویاند چارلز ریدمن په

افغانستان کې د واړو مخالفو خواوته د امریکې او شوروي له خوا د
وسلو ورکولو موضوع لا هم مشخصه کړه او ويې ویل چې د دواړو
حکومتونو ترمینځ « د دغې خاصې موضوع په هکله لا د مخه لیکونه
مبادله شوي دي ... او دوی ( شوروی اتحاد ) موافقه کړې چې د همدغه
تفاهم له مخې به ژنیو کې د مخه ولاړ شي . » ده اضافه کړه چې « دوی
( شوروي اتحاد ) دغه راز حال چې سره پرې جوړ راغلو، او اوس
پرې ټینګ ږدو، غوږ به بولي . » د سپینې ماڼۍ ویندوی فتز واټر په
قول شپوارد نادري د اپریل په نهمه نېټه یوه لیک کې په افغانستان کې
جنګ کوونکو ډلو ته د نظامي کومک ورکولو په باب د پېر ټکي روښانه
کړي وو . د هغو مرکزي او کلیدي ټکی دا دی چې د هغه له مخې به
امریکا مجاهدینو ته تر هغو وسلې ورکوي تر څو شوروي يې د کابل
رژیم ته ورکوي . جمهور رئیس ریګن د اپریل په یوولسمه د ملګرو
ملتو په مینځګړیتوب د ژنیو د موافقې په باب چې د هغه له مخې به شوروی
ځپل پوځ له افغانستان ځخه وباسي ، خپل ملاتړ څرګند کړ او ويې ویل
چې « زما په فکر امریکا اوس د ژنیو د سندونو د تضمین کوونکو په توګه
له شوروي سره ګډون کولی شي . » د غه وخت تاکلی شوې وه چې د ژنیو
توافقات به د پنجشنبې په ورځ د ۱۹۸۸ کال د اپریل په څوارلسمه
د ۱۳۶۷ د حمل په ۲۵ مه لاسلیک کیږي .

.....

# توافقات او د هغو لاسلیک کېدنه

په تاکلې ورځ د ژنیو د ملتونو په ماڼۍ کې د افغانستان د کشالې په باب په وقفو کې د شپږو کلونو له خبرو کولو نه وروسته شوي توافقات د ملګرو ملتو د سرمنشي پریز دي کویلار په حضور غونډه کې د پاکستان د حکومت په نمایندګۍ د زین نورانې له خوا، د کابل د رژیم په نمایندګۍ د عبدالوکیل له خوا، د شوروي اتحاد په نمایندګۍ د شېوارد نادزې له خوا، او د امریکې په نمایندګۍ د جارج شولتز له خوا لاسلیک شول، البته د ملګرو ملتو د عمومي منشي خاص استازي او د ژنیو د خبرو منځګړي ډیګو کوردوویز هم په غونډه کې حاضر و. ټول جریان یوازې دوولس دقیقې دوام وکړ. فضا چوپه او سړه وه. له تلویزوني تصویرونو څخه داسې ښکارېده چې غونډه د وېر وې، نه د کومې موفقې او خوښې. ګډون کوونکي ټول خفه او اندېښمن ښکارېدل. خوښي څه کوې، حتی هېڅ یو یې هم د تظاهر او عکاسانو د پاره موسکی نه و. تا به ویل دلته هغه څه کېږي چې باید هېڅ ونشي. په مسکو کې د یوه لوېدیځ ډیپلومات په قول عبدالوکیل په دغې سړې فضا کې ربړ دیده، او خولې پړې ماتې وې.

.....

دغه ټول توافقات له څلورو سندونو او يوې ضميمې يا يادښت نه متشکل دی دوه شوي تفاهمات هم په هغو کې راځي ، خو جزئي نه دی - لومړی سند يې د " پاکستان د اسلامي جمهوريت " او د " افغانستان د جمهوريت » ترمينځ ديوه بل په هيواد کې د نه مداخلې او نه لاس وهنې تعهد دی ، او دغه تعهد بېخي زيات پراخ او په تفصيل سره ذکر شوی دی . بل سند يې د امريکې او شوروي له خوا د شوې موافقو تضمين دی ، په دې عبارت چې دوی « ژمنه کوي چې د افغانستان جمهوريت او د پاکستان اسلامي جمهوريت په دننيو چارو کې له هر راز مداخلې او لاس وهنې نه په قطعي ډول ډډه کوي او د هغو تعهداتو درناوی کوي چې د افغانستان د جمهوريت او د پاکستان د اسلامي جمهوريت ترمينځ دوه اړخيزې موافقې د دوه اړخيزو مناسباتو ، په تېره د نه مداخلې او نه لاس وهنې په باب راغلي دي ، » او « له نورو دولتونو څخه په کلکه غواړي چې همدغسې وکړي . »

دریم سند يې د افغانستان د جمهوريت او د پاکستان د اسلامي جمهوريت ترمينځ افغاني مهاجرينو ته د خپلې خوښې د ستنيدو په باب دوه اړخيزه موافقه ده - د دغه سند په لومړنۍ ماده کې راغلي چې « ټولو افغاني مهاجرينو ته چې د پاکستان په اسلامي جمهوريت کې په موقتي ډول دي موقع ورکړه شي چې د هغو ترتيباتو او شرايطو له مخې چې په دغې حاضرې موافقې کې ذکر شوي دي

په خپله خوښه وطن ته ستانه شي . » په دوهمه ماده کې دافغانستان جمهوریت په لاندې دول مکلفیت منلی دی .

« الف - ټول مهاجرین باید مجاز وی چې هېواد ته په آزادۍ سره ستانه شي . »

« ب - ټول بېرته ستانه شوي دې دافغانستان په جمهوریت کې دننه دمېشته کېدلو له آزاد انتخاب او دحرکت له ازادۍ نه بهره من وي . »

« ج - ټول بېرته ستانه شوي دې له هغه حق نه بهره من وي چې دافغانستان دجمهوریت په مدنی چارو کې د برابرۍ له مخې برخه واخلي - دوی ته دې دمځکې د حل په باب داوبو او دمځکې د اصلاحاتو په اساس برابرې گټې یقینی کړی شي . »

« د - ټول بېرته ستانه شوی دی دمذهب دازادۍ په شمول هغه حقوق او امتیازات او هم هغه وجایب ولري چې دافغانستان دجمهوریت نور ټول مدنی افراد یې لري . » په نورو مادو کې وطن ته دمهاجرینو دستنیدو په منظور دگډو کمیسونو سره دخاصو تو افقاتو کول هم په نظر کې نیول شوی دي .

څلورم سند دافغانستان دکشالې دفیصلې په ارتباط دځینو مینځنی اړیکو په باب موافقه ده - دغه موافقه هم ، دلومړنیو دوو ځینو موافقو په شان ، اوږده او له مکرراتو نه دکه ده - دځینو دخبرو

لندویز هم یکې ځای شوی . د انو سرګیچه ووتکو ما دو له جملې نه ترټولو مهمه یې پنځمه ماده ده چې د هغې په یوه برخه کې راغلي چې ،، د هغه مهال ویش له مخې چې د افغانستان د جمهوریت او د شوروي اتحاد د سوشلستي جمهوریتونو ترمینځ یې موافقه شوې ده ، د باندنیو لښکرو وتنه به مرحله په مرحله وي او په هغه تاریخ به پرې پیل کیږي چې څنګه چې پاس یې ذکر شوی ( د مې ۱۵ ) نافذ کېږي . د لښکرو نیمایي به د اګست تر پنځلسمې ( ۱۹۸۸ ) وځي او د ټولو لښکرو وتنه به په نهو میاشتو کې پوره کیږي . ،،

په ضمیمه یاد دښت کې راغلي چې د ټولو توافقاتو د څارنې د نده به د ملګرو ملتو د سرمنشي دیوه نماینده او د هغه د نظامي نایب په غاړه وي چې هغوی به تر پنځوسو پورې نظامي کدرونه او پیوشو ملکي مامورین له ځانه سره لري دوی به د ژنیو د توافقاتو له نافذ کېدو نه ۲۰ ورځې د مخه په کار پیل کوي او د مهال ویش د ختم نه وروسته دوه میاشتې به هم خپل کار ته دوام ورکوي .

د ژنیو د دوه ګونو تفاهماتو څخه یو یې هغه تفاهم دی چې د هغه له مخې امریکا او شوروي اتحاد به په ترتیب سره مجاهدینو او د کابل رژیم ته د متناظر اصل په قرار وسلې ورکوي . د دوهم تفاهم له مخې د ژنیو د توافقاتو څلور واړه خواوې به له دیګو کورو دوو سره د هغه هغو کوښښونو سره همکاري کوي چې دی

به د شخص په توګه ، نه په رسمي توګه ، زیاں باسي په افغا-
نستان کې د یوه ائتلافي حکومت د جوړېدلو د پاره لاره هواره
کړي .

# دریم فصل

# دفیصلې تحلیل اودحکومت بیا رغونه

## مقدمه

دژینودغه فیصلې د دغومره اوږدو خبرو په نتیجه کې په لاس راغلې چې د ډیپلوماسۍ په ټول تاریخ کې ساری نه لري . خو تعجب په دې کې دی چې دکوم هغه ولس په باب چې فیصلې په نظر کې دي ، د هغو واقعي نماینده ګانو پکې ګډون نه درلود . په داسې حال کې چې همدغه ولس په خپلې خاوره او خپل آزاد او تونده باندې دیرغلګر طاقت په مقابل کې چې د عصر دوهم ستر قدرت شمېرل کیږي ، دیرغل دطرد اودخپلې خپلواکۍ دبیا تحقق دپاره د دنیا والو دتوقع په خلاف په نهایت میړانې جنګېده اوناکام کړی یې و - په نتیجه کې دغه یرغلګر طاقت چې د همدغه مبارز ولس په مقابل کې په نظامي ډګر کې په مقصد ونه رسېد له ناچارۍ په دې لټه کې شو چې په ډیپلوماسۍ اوبین المللي موافقو سره خپلې لښکرې وباسي او د

متعرض له مسئولیتونو نه ځان بچ کړي . په دې حال کې به د غو توافقاتو کې د مدافع ولس هیلې له نظره ولویدلې ، او د فیصلې د نورو اړخو ملاحظو له نظره وشوې . په راتلونکو پاڼو کې د دغو توافقاتو د تحلیل په رڼا کې به همدغو ټکو بحث کیږي .

## د فیصلو په باب د دخیلو هېوادونو د لویانو نظرونه

د توجه وړ ده چې د توافقاتو د لاسلیک کوونکو هېوادونو په مشرانو کې د شوروي لویانو تر نورو زیات د غه توافقات ډېر ستایلي دي . ګورباچوف د منځني واټن وسیشتونکو هستوي راکټونو د له - منځه وړلو د معاهدې په اندازه مهم وبلل چې د نړۍ د ډروي بې وسلو کولو د پاره لومړنی اساسي ګام بلل کیږي . ده دا هم روویل چې « متحده ایالات او شوروي اتحاد د افغان کشالې د فیصلې کولو په منظور د منځګړیو او رسمي تضمین ورکوونکو په حیث په خپل ګډون کولو سره د ګډ تعمیري عمل د پاره سرمشق او دود جوړوي » ده زیاته کړه چې « مونږ هیله لرو چې د افغانستان په باب د ژنیو د موافقې لاسلیک کول به د سیمه ییزو کشالو د هوارولو د پروسې د پاره یو محرک وګرځي . »

د ژنیو توافقات زر د سیمه ییزو کشالو د حل د پاره سرمشق او طرح وګرځید - بس څو اونۍ وروسته د انګولا د کشالې د -

هوا ړولو د پاره د ځینو هیوادونو یعنی انګولا، کیوبا، جنوبي افریقی او امریکی د نماینده ګانو ترمینځ په لندن کي خبري پیل شوي او لومړی پړاو یې ګټور وبلل شو. نښي نښاني څرګندی دي چې د ژنیو سوړی به د کمپوچیا، او نکاراګوا په کشالو هم ښه اثر وکړي.

مهمه داده چې د ژنیو تړون توافقاتو د لویو طاقتونو ترمینځ د اعتماد دفضا له پیدا کیدلو سره مرسته کړېده، او د هغه سوړی د ریګن او ګورباچوف په څلورمې جرګې کي چې د مې په ۲۹ مه په مسکو کې پیل شوه څرګند و. لکه چې ریګن وروسته د لندن په تاریخي ګیلډهال کې د یوې وینا په ترځ کې څرګنده کړه چې « پوره ممکنه ده مونږ په دې پیل کوو چې د جنګ نه وروسته عصر خندونه له مینځه وړو، » او مونږ د تاریخ په یوه نوي پړاو کې ننوځو، چې هغه د ده په فکر په شوروي اتحاد کې د دوام لرونکې بدلون وخت دی. د هغه ریګن له خوا د شوروي په باب دغه تاوده کلمات چې شوروي یې « خبیثه امپراتوري » نوموله ده او ویل یې چې « د کمونیزم وروستی فصل لیکل کیږي » د پوره اهمیت وړ دي، خو ده د ژنیو د توافقاتو په هکله د ګورباچوف په شان تاوده کلمات ونه ویل. ده لا دغه ویلي وو چې د هغو کړیدت په افغان مجاهدینو پوري اړه لري، او مونږ ویاړو چې له هغو سره مو مرسته کړې او وایو چې تر څو شوروي اتحاد د کابل رژیم ته وسلې ورکوي، مونږ به یې هم د متحدینو او متناظر اصل له مخې مجاهدینو

ته ورکوي. شوروي هم په همدغې روحیې سره وغږېده.

ایران لا د مخه تردې چې د ژنیو توافقات لاسلیک شوي وي د اپریل په یوولسمه هغه رد کړل. په دغه ورځ د دغه حکومت د بهرنیو چارو د وزارت یوه ویندوي څرګنده کړه چې کومې هغه مذاکرې چې د کابل رژیم او پاکستان ترمینځ روانې دي «له بده مرغه بل څه نه، بلکه د استکبارانو (سترو طاقتونو) د دیپلماسي د کړه یو سرپوښ او د افغانستان په باره کې د هغو دسیسې دي.»، ده دا هم وویل چې د حل یوازینۍ لاره د شوروي پوځ بې قید او شرط وتنه او بخپله د افغانانو له خوا د حکومت جوړول دي.

د پاکستان جمهور رئیس د ژنیو د توافقاتو له مخې له افغانستان نه د شوروي پوځ وتنه «د شلم قرن معجزه» وبلله. ده د اپریل څوارلسمه «تاریخي ورځ» وګڼله، خو ده دا هم څرګنده کړه چې په افغانستان کې «د ناآرامی او ناکرارۍ» ورځې راتلونکې دي. له دې نه د ده مطلب دا و چې په توافقاتو سره اوربند نه دی راغلی، او جنګ نه دی ختم شوی، او مجاهدین په توافقاتو ځان مقید نه ګڼي، په دې چې دوی په هغو کې ګډون نه لاره. د پاکستان صدراعظم محمدخان جونیجو په پارلمان کې څرګنده کړه چې په موجودو حالاتو کې تر ټولو ښه توافقات همدغه د ژنیو توافقات وو، چې وشول. د دې و بیا مفهوم دا و چې توافقات هغه څه نه دي چې پوره مطلوب و.

بخپله کوږ دوويز هم په همدغې روحيې د ژنيو په توافقاتو باندې نظر واچاوه ؛ ده « هغه نيمګړي » وبلل ، خو د نيمګړتيا دليل يې د انساني نيمګړتيا نتيجه وګڼله. شيوارد نادزې د ملګرو ملتو رول ته په توافقاتو کې اشاره وکړه او د هغو د لاسليک کېدو په ورځ يې وويل چې په عمومي ډول کې د سرمنشي او د هغه د خاص استازي وجود « نه يوازې مطلوب هدف ته د رسېدلو ، بلکه د سيمه ييزو او نړيوالو د هلو ځلو دپاره هم د يو نوي د نهايت ډېرو څرګندوي کنترل کېږي. » د ژنيو نوره اني نظر داوه چې « د ژنيو توافقات د افغانستان د کشالې د جامعې فيصلې په لوري لومړنی ګام وي. » سناتور ګولډن همفري چې د امريکې په سناتورانو کې شايد تر ټولو زيات د افغان د داعيې کلک ملاتړ وي ، تر هر بل چا نه زياته د غه توافقات په تيندګه ډېر کړل ، او هغه يې د مجاهدينو تدريجي « خرڅېدنه » وبلله.

## دفيصلې په باب دافغانانو تبصرې

څرګنده وه چې په افغانانو کې د کابل رژيم چې نماينده يې توافقات لاسليک کړل ، د هغو هرکلی کوي. د لاسليک کېدو په مراسمو کې د د غه رژيم استازي د لومړي ځل دپاره په يوه سالون کې د امريکې او پاکستان له استازو سره عين سند ونه امضاء کړل ، او په دې ډول يې لږ تر لږه د دوسو

دقیقو د پاره د خپل حکومت موقف د هغو له دریځ سره برابر کړ، او

خپل رژیم ته یې یو راز مشروعیت وربه نصیب کړ؛ د دغه تکي په باب

به زر په تفصیل خبرې وشي. خو د دغو تړونو په باب د افغانانو د

د ډېرې زیاتې برخې دریځ متفاوت و - د مجاهدینو د اووه گونو

تنظیمونو د اتحاد مشر گلبدین حکمتیار د ژنیو توافقات څخوا له دې چې

لاسلیک شي رد کړي وو؛ ده ویل چې اووه گوني اتحاد د ژنیو پروسه

له اوله نه رده کړې وه، په دې چې په هغې کې یې برخه نه لرله. ده په

غوڅه توگه ښرگنده کړه چې د ژنیو توافقات به په افغانستان کې جنگ

ختم کړي، او اتحاد به په هیڅ ډول ځان په هغه مقید ونه بولي - تر

هغه لاد مخه د اپریل په نهمه حکمتیار په یوه خپره شوې بیانیه کې

ویلي وو چې «(د ژنیو) خبرې د دې په ځای چې د هغو واقعي خواوو

ترمینځ وشي چې د جنگ په جبهو کې سره مقابله کوي، د غیر واقعي

خواو ترمینځ شوې دي. پاکستان متاثره خوا ده او هغه د افغانانو

تمثیل کولی نشي، او نه د نه په افغانستان کې د هیڅ ډول توافق

تضمین کولی شي.» د وطن نامتو او مجرب دیپلومات عبدالرحمن

پژواک چې ویل کېدلی شي په دغسې موضوعاتو کې د افغاني ذهنیت

ممثل وي لاهم قاطع و. د ژنیو د توافقاتو په باب یې په مجاهد ولس

(اپریل ۲۱، ۱۹۸۸) کې خپل اعتراض په لاندې الفاظو کې څرگند

کړی دی. «... من از آغاز گفتگوهای ژنیو به آن مخالف بودم و آنرا

غیرمثمر ومخالف با منافع ملي وآرزومندي های مردم افغانستان

میدانستم ...... روز امضای موافقه های ژنیو روز بازار سیاست

بود که منافع ملي افغانستان در آن رایگان فروخته شد ... معلوم

شد منظور صلح در افغانستان نبود زیرا فیصله ژنیو جنگ وخونریزی

را شدت خواهید بخشید ... در یک جمله فیصله ژنیو غیرعادلانه ، غیر

عملي وغیرمثمر است . درحالیکه هیچ مسئله را حل نمی کند معضلات بیشتری

را ایجاد می نماید .» دافغانستان بل مشر سیاستمدار او دعدلیې پخوانی

وزیر مشهور سید شمس الدین مجروح هم دامریکا له غږ سره دیوې مرکې

په ترڅ کې د ژنیو د توافقاتو په هکله وویل چې په هغو سره د افغانستان

کشالې هوارې بدلی نه شي ، اوسوله خوندي کېدلی نه شي . له دې امله

هغه یې غیرعملي اوغیرمفیدې وبللې . خو پخوانی پاچا هغوته په ضمني

دول دقبول په سترګه وکتل او خپله هیله یې دمجاهد ولس په ذکر

شوې ګمنې کې په دې دول څرګنده کړه . « باوصف اینکه درمذاکرات ژنیو

طرفهای اصلي قضیه یعنی نمایندګان واقعی ملت مجاهد افغانستان و

اتحاد شوروي مستقیماً شرکت نداشتند بازهم امید میرود این

موافقت راه را برای خروج قوای شوروی از افغانستان که متضمن

استقلال کامل ، تمامیت ارضي کشور وحق خود ارادیت مردم افغانستان

بدون مداخله خارجی در امور سیاسي ، و داخلي ، و اجتماعي ان -

باشد ، باز نماید ، وبه این طریق افغانستان بتواند بار دیگر به حیث

یک کشور آزاد، بیطرفي وعدم انسلاک خود را از سر گرفته از این راه در تامین ثبات در داخل کشور وهمچنین در این منطقه حساس که صلح وامنیت جهان تا اندازه زیاد به آن بستگي دارد نقش موثری را ایفا نماید.»، خو پخواني پاچا په دې باب څه ونه ویل چې د دغو توافقاتو نتایج به دعمل په میدان کې هغه څه وشي، کوم چې دی یې هیله من دی ؟ یو شولاندې اخباري تبصرې به ممکن په دې باب رڼا واچوي -

## دفیصلې په باب داخباري مبصرینو تبصرې

روزنتال پخوا له دې چې لاتوافقات لاسلیک شوي وي داپریل په پنځمه په نیویارک تایمز کې دیوې لیکنې په ترڅ کې ویلي وو چې دژنیو په توافقاتو سره «دادګورباچوف معقول تمارو ی چې اوس خپل پوځ ایستلی شي، او بیا هم په افغانستان کې تردې اندازې قدرت لرلی شي چې د دغه هیواد په سرنوشت باندې کنترول ولري.»

ماستي په وال ستریت جورنال ( داپریل ۱۸ مه ) کې ورته نظر ښکاره کړی، خو د ژنیو موافقه په اصل کې بې مفهومه بللې ده. دی وایي چې د دیپلوماتانو دپاره د ژنیو په شان دیپلوماتیکې پروسه زیاته بې دلیل وګرځي، چې دوی باید یو څه لاسلیک کړي، که څه هم هغه

د هیڅ معنی ولري. که تر هغې لږ وشي یا خبرو ته خاتمه ورکړه
شي، هغه به د ډیپلوماتیکي او حرفوي ماتې په شان وي. دا د شوروي
په ګټه تمامیږي ځکه د ژنیو په موافقې سره د دوی کابل رژیم ته د مشروعیت
نوی پوست ورکول کیږي. عبد الرحمن
د وسلو د متوازن او متناظر اصل په رعایت سره د ژنیو توافقات «غیر
اخلاقي» او «ټګي» بولي (فرنټیر پوست، اپریل، ۲۷، ۱۹۸۸).
غاني ایرابي د اپریل په ۲۴ مه د مسلم په ورځپاڼې کې په یوې اوږدې تحلیلي
لیکنې کې عقیده څرګندوي چې «چې ژنیو تړیوه مفهوم نه زیات
نه ساري وي - هغه بې له اوربند نه د جنګ ختمول غواړي. د دوو
سترو طاقتونو ترمینځ د مستقیمې نښتې دوره له مینځه وړي ځکه خپلو
نمایندګانو ته د جنګ اجازه ورکوي». دا وړاندې لیکي که «د ژنیو
توافقات په دې بریالي نه شول چې په ظاهره کې نا ممکن یعنې د شوروي
د اشغالي قواوو وتنه (ممکنه کړي) هغه به په تاریخ کې تر ټولو ډیرو
بې نتیجو د ډیپلوماتیکي ترهیانو په ډله کې حساب شي.» بس د یوې
بلې تبصرې په ذکر سره به دغه لړۍ ختمه شي - اکرام الله د پاکستان
ټایمز د اپریل په ۷ مه ګڼه کې لیکي چې تر هر څه زیات د ژنیو د سترا-
جیکي دوره نما سهره وه. لومړی دا چې د لومړي حل د پاره د پاکستان
په تاریخ کې شوروي اتحاد د پاکستان ځمکنۍ بشپړتیا تضمین کړه
او د یوه نوي ارتباط د پاره یې ورخلاص کړ - دوهم دا چې

له ټول افغانستان نه د شوروي قواوو وتنه دا معنی لري چې روسیه به خپلې قواوې له واخان ځنې وباسي، او دا کار به پاکستان له دې نه وژغوري چې د روسیې غونډې یو لوی طاقت سره نیغ په نیغه اوږه وږي - دده په نظر دا ټول دپاره خطرناک دي چې دیوه ستر طاقت سره ګډه پوله ولري شي - د افغانستان هغه ژمنه چې په پاکستان کې باید نظامي عمل ونکړي، د نه جنګ حالت مینځ ته راولي، او دا حال به پاکستان د دوو جبهو له خطرونو څخه وژغوري. په دې ډول د ژنیو توافقاتو ته چې د ستراتیجیکي او د پاکستان د امنیت له نظره کتل شي هغه په سیمه کې په تېره په جنوبي آسیا کې چې پاکستان او هندوستان یکې شامل دي، او د فارس خلیج ترې نه سوا دی د سولې په لوري یو مخ په وړاندې ګام دی.

## د ژنیو توافقات او حقوقي او اخلاقي ارزښتونه

د ژنیو د توافقاتو په باب چې لومړنۍ شی ویل کېدلی شي، دا دی چې په هغو سره د کابل رژیم «د افغانستان جمهوریت» په توګه منل شوی دی - د دې معنی دا کېږي چې دغه رژیم ګواکې د ټول افغانستان او ټولو افغانانو نماینده رژیم دی. خو دا په ښکاره څرګند حقیقت دی چې دغه رژیم د ۱۹۷۹ کال په دسمبر

کې شوروي پوځ په زور په کابل کې په قدرت رسولی، او له هماغه
اول نه نږدې ټولو افغانانو په سترو پاڅونونو سره له هغه او پر وطن
کې د شوروي پوځ رشته والي سره مخالفت کړی، او دغه مخالفت
یې په دوه م ټینګ او پرله پسې ډول کړی چې د کابل رژیم د شوروي
غونډی یوه ستر قدرت ملاتړ سره سره ځان مستقر کولی ونه شو
او هم یوازې په ښارونو، لویو لارو او نظامي پوستو باندې حا-
کمیت لري، او د ملک ستره برخه چې په سلو کې اتیا تخمین شوې په
شریکه ډول د مجاهدو تنظیمونو په لاس کې او د کابل د رژیم له کنترول
نه آزاده ده. په دې ډول د افغان د ولس نمایندګان د دوی
مجاهد تنظیمونه کېدلی شي، نه د کابل رژیم. همدغو تنظیمونو د افغانانو
په نمایندګۍ د نږدې نهو کلونو په بهیر کې په وطن کې د یرغلګرو روسي
له پوځ سره مقابله کړې او هغه یې په شا تللو ته اړ کړی دی.
برسېره پردې د کابل د حکومت او هم د افغانستان په هکله د شوروي
حکومت د سیاست او جګړو په نتیجه کې له افغانانو نه هر درېیم له
وطن نه په هجرت مجبور شوی، او هر لسم وژل شوی دی، د افغانانو
د تلفاتو دغه تناسب د شوروي اتحاد د تلفاتو تر تناسب په دوهم جهاني جنګ کې ډېر زیات دی چې
مطلق شمېر یې د شوروي د رسمي احصائیې له مخې شل
میلیونه ښودل شوی. د غوایي کودتا نه راپه دېخوا پرچمي او خلقي
حکومتونو تر اوسه لږ تر لږه د خلوېښتو زرو او پنځوسو زرو تر

ترمینځ بندیان اعدام کړي دي ، په داسې حال کې چې د صدیق الله په قول یوازې هغه وخت چې دوه ورور ( نجیب الله ) د خاد رئیس و، اتیا زره بندیان اعدام شوي دي . د غو حکومتونو د دغو اوږدو دېرو جنایتونو په سبب چې د افغانستان د انسانانو په مقابل کې کړي دي ، په اخلاقي او حقوقي لحاظ دغه صلاحیت له لاسه ورکړی چې د افغانانو او افغانستان نماینده ګي وکړي ، همدغه سبب دی چې د شوروي اتحاد ، دهغه له متحدینو او یو څو نورو هېوادونو پرته د نړۍ نورو په کراتو دېرو هېوادونو دغه رژیم په رسمیت یعني د قانوني حکومت په توګه نه دی پېژندلی . دغه رژیم د اسلامي هېوادونو د سرانو ، او دد غو هېوادونو د باندنیو چارو د وزیرانو د جرګو له غړیتوبه نه محروم ګرځول شوی او د ملګرو ملتو عمومي اسامبلې هر کال په غوڅ اکثریت سره ( ورستی ځل یې د ۱۹ رایو په مقابل کې په ۱۲۳ رایو سره ) له افغانستان نه د شوروي پوځ د وتنه غوښتې وه - پخپله د پاکستان حکومت هم په ژنیو کې د کابل د رژیم له نماینده سره د افغانستان د حکومت د استازي په توګه نه ، بلکه د رسمي ګوند د استازي په توګه خبرې کړي ، او خبرې یې هم له هغه سره مخامخ نه ، بلکه د کوردوېز په وساطت کړې دي . په دې حساب د پاکستان حکومت د کابل د رژیم استازي لکه د هندوستان د untouchable یاد « ناولو » د طبقې نماینده ګڼلی دی . دا نتول د دې د پاره شوي چې د کابل رژیم

ته قانوني رنګ ور په برخه نه شي- په تېر ژمي کې پخپله جنرال
ضیاء الحق څرګنده کړې وه چې د دغه حکومت به هیڅ وخت دېته
حاضر نه وي ، د نجیب الله له حکومت سره د همغو جنایتونو په سبب
چې یې کړي ، موافقه لاسلیک کړي . د پاکستان حکومت اوس هم ، سره له
دې چې موافقه یې ورسره لاسلیک کړې په خپل دغه سیاست ټینګ
ولاړ دی ، او د توافقاتو تر لاسلیک کېدو نه وروسته یې څو ځله څرګنده
کړې ، چې پاکستان د کابل اوسنی رژیم په رسمیت نه دی پېژندلی او
نه به یې په راتلونکې کې د قانوني حکومت په حیث وپېژني . د دغه حال
څرګنده معنی دا کېږي چې هیڅ ملي افغان حکومت به د ژنیو په
توافقاتو ځان مکلف ونه ګڼي . همدا اوس هم انجنیر ګلبدین حکمتیار
د اووه ګوني اتحاد په نماینده ګۍ ، او هم د هر جهادي تنظیم مشر
په بیل بیل ډول ، په وار وار څرګنده کړې ، چې دوی ځانونه په
همغو مقید نه بولي . که دغه توافقات ومنل شي باید ټول همغه دوه-
اړخیز توافقات هم ومنل شي ، چې د کابل حکومت تر اوسه له شوروي
حکومت ، او له نورو سوشلستي هېوادونو سره کړي ، چې ټول شمېر
یې ممکن څلورسوو ته ورسیږي . او د همغو په نتیجه کې به افغانستان
دا ابد د پاره د شوروي تابع هېواد وي .

برسېره پر دې آیا د سیاست او واقعیت په میدان کې د کابل
رژیم د دې وس ولري چې د ژنیو د توافقاتو په تطبیق کې

پوره موثر وي ؟ ایا ممکنه ده چې دغه توافقات د افغان مقاومت او جهادي حرکت له همکارۍ نه پرته تطبیق شي ؟ [illegible] پوښتنو ځوابونه منفي دي . په دې حال کې پوښتنه کیږي [illegible] توافقاتو کې د کابل رژیم ولې د « د افغانستان د جمهوریت » په نامه ومنل شو ؟ ځواب دا دی چې شاته یې د شوروي غونډې ستر قدرت ولاړ و ، او د دغه قدرت په زور سره چې مسکو ته متمایلو مبصرینو د « ریلیزم » یا واقع بیني په نامه یادکړې ، د کابل د رژیم د پاره دغه امتیازات ومنل شول ، ترڅو د هغه له مخې له افغانستان نه د شوروي د لښکرو د وتلو د پاره لاره هواره شوي وي . په دې حساب د افغانانو ملي منافع له نظره وغورځول شول ، په بل عبارت د ژنیو توافقات اصلاً په دغسې « ریلیزم » بنا دي ، او اخلاقي او حقوقي ارزښتونه او نارمونه چې بین المللي توافقات باید پرې بنا وي ، له نظره غورځول شوي دي . په دې حساب دغه وینا اساساً سمه ده چې شوروي اتحاد هغه څه چې د جنګ په میدان کې ترلاسه کولی ونه شول ، د توافقاتو له لارې ترلاسه کړل .

# د شوروي پوځ وتنه

د ژنیو د توافقاتو سرباج د شوروي د حکومت هغه ژمنه ده

چې د هغې له مخې باید خپلې قواوې په نږدې یا شتو کې له افغانستان نه وباسي - د غسې زمنه تراوسه نه تزاري روسیې ، او نه شوروي روسیې د ملک نیونې او د امپراتورۍ په پنځه سوه کلن ۱۸۵۰ کال

چې په سپارسمې پېړۍ کې بې د یورال له غره څخه په ارسطو سر

پرې پیل کړې ، او تراوسه یې د ختیځ ، لویدیځ او سهیل په لوړه

پراخ ملکونه لاندې کړي ، او خپل پوځونه یې پکې هستوګن کړي ، ورکړي.

داسمه ده چې شوروي اتحاد په کال ۱۹٤٦ کې له ایران څخه او په کال

۱۹۵۵ کې له استریا څخه خپلې لښکرې وایستلې ، خو دغو دواړو

هیوادونو ته یې په اصل کې د جنګ په شرایطو کې لښکرې استولې

وې ، په داسې حال کې چې د شوروي له خوا د افغانستان نظامي

اشغال د روسانو د تاریخي ملک نیونې په بهیر کې د تاکلي او سنجول

شوي پلان له مخې شوي وو - د برژنف د نظامي دکتورین له مخې

د کوم ملک د سوشلستي کولو د پاره چې شوروي قواوې استول

کېدلې ، بېرته نه غوښتل کېدلې . د نوړو اروپایي هیوادونو امپراتورۍ -

ګانې چې د تېرو څو پېړیو په بهیر کې د دنیا پر مخ جوړې شوي

وې ، په جاري پېړۍ ، په تېره له دوهم جهاني جنګ نه وروسته

ړنګې شوې ، او مستعمره ملکونه یې خپلواک شول . خو یوازې د

شوروي اتحاد امپراتورۍ د اتحاد یا فیډریشن په غولوونکي نامه

تراوسه نه یوازې پاتې ده ، بلکه په نظر کې وه چې د افغانستان په

نیولې سره لاس پراخ شي. د شوروي دغه او سخه ژمنه چې باید خپل پوځ له افغانستان نه بیرته کړي، هغه خه دي چې د روسیې د ملک نیولې د پیړیو پیړیو تاریخي بهیر قرنطین کوي، چې باید هغه په حقه د جنرال ضیاءالحق په قول د شلمې پیړۍ «معجزه» وګڼله شي. افغانانو په دې ډول د «خبیثې امپراتورۍ» په قرنطین کولو سره نه یوازې د خان دپاره، بلکه د آزادو انسانانو دپاره خدمت کړی دی. له دې وروسته د دغې «خبیثې امپراتورۍ» د اسیرو ولسونو په تېره د ختیځې اروپا د هېوادونو وار دی چې خپل پوره خپلواکي دپاره پاڅیږي، او دغه په ځای پاتې شوې وروستئ امپراتوري ړنګه کړي، او ځای یې خپلواک هېوادونه ونیسي.

دلته سوال دا دی چې شوروي اتحاد د پوځ ایستلو دغه ژمنه د سولې د سپینې کوترې غوندې په صاف او پاک زړه کړې، یا دا چې ورته څرګنده شوې چې په افغانستان کې یې ټول سیاستونه د نظامي عملیاتو په شمول ناکام شوي، او د کامیابیدو هیله یې نه وه، مګر دا چې ټول ملک یې له وګړو سره سوځولای وای، کوم څه چې په دې باب یې چندان صرفه نه کړې؟ افغانانو نه له روسانو سره د څه کم نهو کلونو له غمیزې تجربو نه ثابته شوې چې د کرېملن واکداران تر هر څه زیات د زور الاهه لمانځي. په ملي او بین المللي موضوعاتو کې لومړی له وچ زور نه کار اخلي، خو چې کله په زور ونه شو بیا

نو د تاکتیکي لارو چارو ته رجوع کوي ، او په هر حال خپل ټاکلي
هدف ته رسیدل غواړي -

شوروي اتحاد کله چې په افغانستان ورداننګل په دې فکر و
چې د هغه سرې لښکرې به بس په اونیو یا میاشتو کې د مقاومت په
ځپلو سره د هغه ملک لاندې کړي ، خو د هغه فکر څنګه چې اوس ټولو
ته څرګند شو ، غلط ثابت شو - د ډاکتر مراد علي شاه په قول (مسلم-
جون ۳ ، ۱۹۸۸ ) ،، د ژنیو پروسه په کال ۱۹۸۲ کې کله چې د
افغانستان مقاومت د شوروي یرغلګرو په مقابل کې په کافي
اندازه بریا تر لاسه کړه شروع شوه - یرغلګرو ته روښانه شوه چې
دوی د مجاهدینو د کلکې ارادې په مقابل کې په جنګ کې بریالي کیدلی
نه شي ،، څنګه چې یې د مخه یادونه شوې شوروي د همدغه تش
په نامه د سولې قاصد ګورباچوف هم دیوه کال د پاره خپل نظامیان
په افغانستان کې آزاد پرېښودل چې افغانستان په زور لاندې کړي ،
هغوی په دغه کار بریالي نه شول ؛ او معکوساً ورته څرګنده شوه
چې مجاهدین د عصري یا پیچلو وسلو سره تر پخوا لا زیات پیاوړي
شوي ، او جنګ به تر نا معلومې مودې پورې دوام کوي . د همدغه
ګورباچوف په واک کښیدو سره په ۱۹۸۵ کې وو چې د پاکستان
په خاوره د کابل د رژیم بمبارۍ ګانې شروع شوې - په ۱۹۸۶ کې
۲۰ ځله ، او په ۱۹۸۷ کې تر سل ځله زیات پرې بمونه وغورځول

شول. مطلب دا و چې پاکستانیان دوېره ورپېرول شي، چې د افغانانو پر ضد وپارول شي. خو د دغه زور ښودلو نتیجه سرچپه شوه او د پاکستان واکمن د افغانستان په سر لا هم تېبنګ ودرېدل-

په عین حال کې شوروي په جهاني سطح کې د امریکا د لویو ستراتیجکي نظامي پروګرامونو سره په خطرناکې مقابلې کې ګیر پاتې ده، او په دې حال کې یې نوي داخلي اصلاحي پروګرامونه د جامعې سر- خلاصولي ( glasnost ) او بیا رغونې ( Perestroika ) په نامه چې د دوی په فکر دوی ورته سخت ضرورت لاره، نه ترسره کېدل - نو یې له افغانستان نه د خپل پوځ په ایستلو د شپږو کلونو د خبرو په وروستیو وختو کې هغه هم تمګه چې د هغه یې یادونه وشوه، په ډېرې سختۍ موافقه وکړه، خو په دغې ژمنې سره یې افغانستان بیا هم پرې ایښی نه دی، ځان یې د ټولو توافقاتو تضمین کوونکی تثبیت کړی دی. د هغه په فکر خپل لاس لاندې کابل رژیم به یې په ځای وي، او هر راز مرستې به ورته ورکوي. له دې نه یې یوغت مطلب دا دی چې په افغانستان باندې د خپل تجاوز او د جنګ له عواملو له تادیې او له هغو مسئولیتونو نه ځان بچ کړی وي چې په دغه ملک کې یې واقعاً بې حسابه انساني او مالي تلفات او ورانۍ کړې دي. له افغانستان نه به په ظاهر کې د عصري پوځ په وتلو سره

د اوس د پاره په نظامي لحاظ وتلي وي، ځو لکه څنګه چې د روزنتال له خوله د مخه یادونه شوې، په هغه به د تل د پاره نفوذ لري، او افغانستان به په واقع کې پوره خپلواک نه وي.

ځو یو مهم سوال دا دی چې شوروي به په رښتیا خپل ټول پوځ له افغانستان څخه وباسي؟ خوش بینان په ټینګه باندې خوش بینان همدغسې فکر کوي. د لته باید په دغه ټکي ښه څیړنه وشي چې شوروي ولې خپل پوځ په نهو میاشتو کې ایستل غواړي په داسې حال کې چې د [illegible] کار کې د نظامي متخصصانو په نظر د لوجستیکي ضرورتونو په پام کې نیولو سره په [illegible] میاشتې کې کولی شي؟ معلومه ده چې د دغه فکر ملاتړ کوونکي دا طرحې دي، چې اوس څرګندې نه دي، او په وخت پورې اړه لري - یوه طرح یې ممکن دا وي چې د کابل رژیم ته وخت ورکړي چې ځان ټینګ کړي - بله طرح یې ممکن له خطرونو ډکه وي - له دې رو هغو کړنو نه چې شوروي د تیرو دوو کلونو په بهیر کې، یعنې د همدغه ګورباچوف د واکمنۍ کلونو وروسته، د افغانستان په شمالي ولایتونو کې یا پخپله، یا د کابل د رژیم په وسیله کړي، او د لته یې له یادولو نه ډډه کیږي، ښکاري چې شوروي یا د افغانستان د وه برخې کول په نظر کې لري، یا لږ تر لږه غواړي شمالي افغانستان د یوې حایلې سیمې په شکل ولري. بیا له [illegible] چې له دغو سیمو نه یې خپل پوځ ایستلی وي د شوروي حکومت ممکن د ترینو د همدغو توافقاتو په موجب د یرې یلمې پیدا کړي چې له هغو

نه په استفادې سره د خپلو پاتو لښکرو په وسیله په دغه کار لاس پورې کړي، په هر حال افغانان د شوروي په دغې ژمنې بوازې هغه وخت باور کولی شي، چې دوی خپلې ټولې قواوې له افغانستان نه ایستلې وي.

# د وسلو متوازن اصل

د ژنیو د توافقاتو بله غټه نیمګړتیا هغه تفاهم دی چې پخپله د هغو کومه برخه نه ده، خو بې له هغه د هغو لاسلیک کیدل ناشونکی ګرځول شوی و. مطلب د متناظر هغه اصل دی چې د هغه له مخې به شوروي د کابل رژیم، او امریکا به مجاهدینو ته وسلې ورکوي. لکه چې ولیدل شول په دې باب امریکا شوروي د پته وبلله چې په دواړو خواو وسلې ردرولی شي، یا حتی دیوه ټاکلي وخت مثلاً د دریو میاشتو د پاره هغو ته وسلې ورنه کړای شي. شوروي دغه فکر ونه مانه، او په دې ټینګ ودرید چې، د کابل رژیم ته به حتماً وسلې ورکوي. په پای کې دواړو خواو ته د وسلو د ورکولو د متوازن په اصل مفاهمه او موافقه وشوه. د دغه فکر عواقب به حتماً ورانوونکي وي. څنګه چې په اوربند هیڅ راز موافقه نه ده شوې، او څنګه چې مجاهدین د توافقاتو کومه برخه نه ده، یعني هغوی د هغو په رعایت هیڅ قانوني مکلفیت نه لري، جنګ به لکه څنګه چې ګلبدین حکمتیار ویلی « نه یوازې دوام کوي، بلکه تر

غوښتل به لا هم شدید کیږي. » د شوروي له هغه ټینګار نه چې د کابل رژیم ته یې د وسلو په ورکولو لاره، او هم د هغه له هغه ټینګ مخالفت نه چې د پاکستان د تجویز په مقابل کې چې د ټولو افغانانو نه د مخه یې په کابل کې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب سنوده څرګندېږي چې شوروي په افغانستان کې د ټولو افغانانو سره سره د جنګ او بېډېدل په نظر کې لري، تر څو خپلې طرحې چې د مخه یې یادونه شوې، عملي کړي - که نور هیڅ نه وي شوروي به کابل رژیم ته د وسلو له لارې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې ساتل غواړي.

دواړو مخالفو خواوو ته د امریکا او شوروي له خوا د وسلو ورکولو د متناظر پرنسیب منل تر هر څه زیات یو بلغتي خطر له ځان سره مل لري او هغه دا دی چې د داخلي جنګ په نتیجه کې به له دواړو خواوو نه افغانان وژل کیږي، او د افغانستان لا د مخه کم شوي نفوس به نور هم پسې کمیږي. بر سېره پر دې په یقین سره نشي ویل کېدلی چې ټول مهاجرین، یا لږ تر لږه ډېره برخه به یې، د داخلي جنګ او د ژوندانه د نامصؤنیت په حال کې وطن ته ستانه شي، هسې خو د مهاجرینو بېرته تګ په دې چې وطن له انتي پرسنل ماینونو نه ډک دی ( روسانو د امریکايي متخصصانو په قول په افغانستان کې نږدې درې میلیونه او د مجاهدینو په تخمین پنځه میلیونه

ماینونه خنبې کړي دي (۱) او زراعتي په تېره د ابو لګولو سیستم هر چېرې لږ و ډېر له مینځه تللی او کلي او کورونه یو ځای بل ځای ډېر وران شوي دي، یو مشکل کارګر چېدلی دی. خو د جنګ په حال کې په هغو بزګرو ممکن د مهاجرینو برخه، په تېره هغوی چې اروپا او امریکې کې دي، او تعلیمیافته دي، وطن ته هیڅ ستانه نه شي. نو د افغانستان په مجموعي نفوس کې به نور هم کمی راغلی وي، او د نفوسو دغه کمی به یقین دی چې افغانستان ته د یوه ملک په حیث چې د نفوسو په لحاظ د ډېرو لویو ملکونو له خوا چارپېر دی په آینده کې داسې اساسي مصیبتونه راپیدا کړي، چې اوس یې فکر نه کېږي، که څه هم د افغانستان خپلواکي د ژنیو په توافقاتو کې تضمین شوې ده. شکاکان حق لري چې ووایي لکه ډېر یې چې وایي شوروي د وسلو ورکولو د مثبت ترتیب په طرح کولو او ملو سره د افغانانو تباهي په نظر کې لري او غواړي خپله د نظامي ناکامي په دې ډول د افغانانو په وینو جبران کړي.

---

(۱) د صدرالدین آغاخان په قول چې د افغاني مهاجرینو د ستنیدو او ځای په ځای کولو پروګرام متصدي مقرر شوی دی، په حاضر وخت کې په افغانستان کې له دریو زرونه تر شلو ملیونو پورې انتي پرسنل ماینونه د روسانو له خوا په ځمکه کې خنبې شوي دي او څنګه چې دغه زیاتره ماینونه پلاستیکي دي کشف یې ممکن نه دی، او دا د مهاجرینو د پاره مشکله کوي چې وطن ته ستانه شي. (مسلم، جولای ۲، ۱۹۸۸).

یوه لیکوال عبدالرحمن (فرنټیر پوست، اپریل ۲۷، ۱۹۸۸) د متناظر مثبت اصل له هغې لوټي سره ورته بللې چې په لرغوني روم کې د امپراتور په امر به په یوه سرخلاصي تیاتري میدان کې دوه غښتلي ځوانان وروسته له دې چې ښه به اباد شوي وو، د شدارچیانو د سات تیري د پاره سره په جنګ اچول کېدل - که دواړه به وژل کېدل چا به پرې اوښکې نه بهولې - برعکس د ننداره‌چیانو سات به ښه تېرېده - په افغانستان کې د دغه اصل له مخې کله د وسلو ورکول علمي شي، او دوام وکړي، د افغانانو د پاره له دغه مثال نه غیر بله معنی لرلی نشي-

د وسلو د مثبت متناظر اصل بل خطرناك اړخ دادی چې د هغه په رعایت او دوام سره ممکن د ژنیو توافقات علمي نشي - د ژنیو د توافقاتو په دقیق نافذ کېدو سره به یوې خوا یعنې مجاهدینو ته د وسلو رسول د کاغذ له مخې ناممکن شوي وي - د توافقاتو د لومړي سند له مخې - پاکستان او افغانستان د یوه بل پر ضد له هر راز فعالیت کولو نه د ډډې کولو ژمنه کړې - هر یوه تعهد کړی « چې د بلې لورې عهد کوونکي خوا وکمني - سیاسي خپلواکي، ملي اتحاد، مصئونیت او ناپیلوتوب .... درناوی به کوي . » په بلې مادې کې هریوه ژمنه کړې « د هر عمل یا هر کوښښ نه په هره بڼه یا هره پلمه چې وي ډډه کوي چې د بلې عهد کوونکي خوا یا د هغې کومه مؤسسه ګډوډه کړي، یا یې سیاسي ثبات تخریب کړي . » لکه چې دا بس نه وو، په بلې مادې کې هره خوا متعهده ده -

شوې چې « د بلې لورې عـهد کوونکې خوا پر ضد د دښمنانه ډکو فعاليتونو په مقصد په خپلې خاورې کې له هرې منبع نه او د هر مقصد دپاره چې وي د اجيرانو د روزلو، تجهيز کولو، تمويل کولو او جلبولو غښتنه کوي. » بيا هم په يوې بلې مادې کې هرې خوا ژمنه کړې چې « د بل لوري عهد کوونکې طرف په خاوره کې به د ورانکارۍ، کودتا او نا رامۍ جوړولو په منظور د نورو په خپلې خاورې کې، په کمپونو او پاېګاهو کې د افرادو او سياسي، اتنيکي او نورو ډلو د موجوديت هڅونې، يا په بل ډول د تنظيم کولو، روزلو، تمويل کولو، مجهز کولو وسله وال کولو غښتنه کوي. » دا او د غسې نورې مادې په دغه سند کې په دغسې تفصيل او دقت سره بيان شوې، چې تکه د دغو دولتونو ملکونو ترمينځ د سولې کوم تړون لاسليک شوی وي. تړون يا تړون د پاکستان له لارې د نورو په افغانستان کې مجاهدينو ته نظامي مرسته رسول، يا هڅونه د نورو د پاکستان په خاوره کې د فعاليت اجازه ورکول د ژنيو له توافقاتو نه سرغړونه کيږي. دا به د کابل رژيم او شوروي دپاره، او تر هغو لا زيات د نورو په پاکستان کې د شوروي پالو ډلو دپاره کافي وي چې د پاکستان پر حکومت په بوله پسې ډول فشار راوړي - شبير حسين د پاکستان ټايمز په نيمه رسمي ورځپانه کې ( مې ١، ١٩٨٨ ) ليکي چې شوروي په څلکې ځوکلونو کې په دې برياله شوی چې په پاکستان کې دغسې يوه ډله د ځان په خوا کړي

چې هغه « د دې د پاره چې په ملک کې حالات ګډوډ کړي ، او د
شوروي اتحاد په بلوې علاقمندي او د دا احساس خلق کړي ، له
هېڅ شي نه به ډډه ونکړي . » د پاکستان او افغانستان ترمينځ پوره نه
دوه اړخيزې ژمنې د ژنيو په لومړي سند کې درج شوي ، په داسې
حال کې چې په افغانستان کې د امريکې او شوروي له خوا مخالفو ډلو
ته وسلې رسول ، د دغو سترو طاقتونو ترمينځ د تفاهم نتيجه ده ،
چې محتويات يې پوره څرګند شوي هم نه دي ، معنی دا چې د دغه سند
اخلاقي او حقوقي قدرت تر دغه تفاهم نه په کراتو پياوړی دی .
يقين دی چې شوروي اتحاد ، د کابل رژيم او د هغو پلويان به د
دغې موضوع په سر ښې زيات پروپاګند وکړي . دوی به د امريکې له
خوا د مجاهدينو سره مرسته کول يو غير قانوني کار او په هر حال د ژنيو
لړ توافقاتو نه سرغړونه بولي ، که څه هم شوروي څه وخت چې يې د
نظامي کومک ورکولو له اصل سره موافقه وکړه په دې سر پوهېده چې
له مجاهدينو سره مرسته کول يې د پاکستان له لارې ممکنه نه ده ، او د -
امريکې حکومت شوروي ته په واضحو عباراتو په وار وار پوره څرګنده
کړې وه چې ترڅو شوروي اتحاد د کابل رژيم ته وسلې ورکوي
امريکا به يې هم په « برابره او متوازنه اندازه » مجاهدينو ته له هرې
لارې چې وي وسلې رسوي . دغه « هره لاره » يې د پاکستان له لارې
بله نشي کېدلی .

پوره یقین دی چې پاکستان به دوړوری، او اسلامي دهغو ښېګړو علایقو په سبب چې د افغانستان له خلکو سره یې لري او دغه علایق په عمل کې تر رسمي غولوونکو سندونو ډېر قوي ثابت شوي، او د جنرال ضیاءالحق د دغې وینا له مخې چې افغانان په دغه جاري جنګ کې د پاکستان د پاره هم جنګ کوي، د ځوا په شان دا مجاز بولي چې تر څو د کابل غیرقانوني رژیم ته ورسلي ورسولې کیږي، افغاني مجاهدینو ته هم د پاکستان له لارې نظامي مرسته ورسوله شي، لکه چې همغه ځنېله د ژنیو د توافقاتو د لاسلیک کېدو په ورځ په اسلام آباد کې ګڼو ژورنالستانو ته څرګنده کړه چې «موږ به پوره زیار وباسو چې د ژنیو توافقات په عمل کې پلي کړو، بې له دې چې همغه د افغانستان په داخل کې په مجاهدینو تاثیر ولري.» ده دا هم څرګنده کړه چې «پاکستان تیار دی ددې د پاره چې مجاهدین د کابل رژیم په بدلولو سره په خپل مقصد ورسیږي، قرباني ورکړي.»

# د ژنیو توافقات او سرحدي موضوع

د ژنیو د توافقاتو یو بل ستر خصوصیت دا دی چې افغانستان او پاکستان په لومړي سند سره د لومړي ځل د پاره دیوه بل سرحدات په رسمیت پېژندلي. دوی د لومړي ځل د پاره ژمنه وکړه چې «دیوه

بل له سرحداتو نه به تخطي نه کوي .»» په همدې ډول هر یو لې متعهد شوچې دا به «یقیني کوي چې خاوره به یې په هیڅ ډول د دې پاره نه پکاریږي چې د هغې لوړې اعهد کوونکې خوا وکمتي، سیاسي خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي اتحاد نقض شي . یا یې سیاسي اقتصادي او اجتماعي ثبات ګډوډ کړل شي .»» د افغانستان او پاکستان د پاره دغه ټهمې کله چې د دوی ترمینځ پخواني ترخه مناسبات د پښتونستان د مسئلې پر سر په نظر کې ونیول شي ، د آینده د پاره ممکن ډیرې مهمې ثابتې شي . له دې امله د دغې موضوع تاریخ ته یوه لنډه اشاره دلته ضروري بریښي .

افغانستان په کال ۱۹٤۷ کې د لوی هند په ویش سره یعنې هغه وخت چې پاکستان مینځ ته راغی پیشنهاد وکړچې په هغو سیمو کې چې په کال ۱۸۹۳ کې د ډیورنډ د معاهدې له مخې له پخواني افغانستان نه بیلې شوي دي ، د خود ارادیت د اصل له مخې د سیمې خلک وپوښتل شي . افغانستان دغه سیمه پښتونستان ونوموله . پاکستان دغه نظر ونه مانه او د دواړو هیوادو ترمینځ کشاله پیدا شوه ؛ اړیکي سره خراب ، او حتی یو ځل و شلیدل ـ ځکه چې پاکستان وروسته د سنتو او سیټو په نظامي سیمه ییزو ـ پکتونو کې غړی شو ، او له دې امله له امریکې سره یې خاص اړیکي ټینګ کړل ، او ځکه چې د هندوستان او پاکستان ترمینځ د کشمیر

کشاله جدي وه ، او ځو ځله سره پرې وجنګېدل ، شوروي او هندوستان دواړو د پښتونستان په سر د پاکستان پرضد د افغانستان څخه خوا ونیوله او کوښښ یې وکړ چې د پښتونستان د کشالې نه په استفادې سره د پاکستان حالات بې ثباته او ګډوډ کړي . د افغانستان کمونستانو هم د پښتونستان کشاله په همدغه منظور ټینګه ونیوله ـ له پاکستان سره د اړیکیو په خرابېدو سره بېرته پاتې افغانستان د ډېر ځنډ په منظور ورو ورو په شوروي اتحاد متکي شو . شوروي په دې ډول په افغانستان کې خپل نفوذ خپور کړ ، او کمونستان یې وروزل . خبره دې حد ته ورسېده له ترځو په پای کې شوروي په افغانستان ودانګل . په دې ډول د شوروي دغه تېری او دغه خونړی جنګ په اصل کې د پښتونستان د کشالې سره نېغ اړیکی لري ، په عین حال کې د سرحد په حیث د دیورند همدغه کرښه چې د شوروي او کابل د نا کامۍ او د افغانانو د بریالیتوب یو لیرې مګر مهمه عامل وګرځېد . په میلیونو افغاني مهاجرینو له دغې کرښې نه هغه غاړه د خپلو قومي ، دیني او ژبنیو ورونو په منځ کې په پراخ تندي او خلاصې غېږې سره د مهاجرت ژوند ومونډ او د دوی وسله وال تنظیمونه هلته ډېره شول ، او له هغه ځایه یې دښمن په افغانستان کې نه داچې یې له کوم خنډ نه ، بلکه د پاکستان د حکومت او خلکو او د نورو ملکونو په کومک سره د آزادۍ جنګ ته دوام ورکړ . د کابل او شوروي

حکومتونو د پاره ممکن نه شوه چې يا د ډيورنډ له کرښې نه هغه خوا
د ميليونو افغانانو د مهاجرت مخه ونيسي که څه هم يې د مهاجرت
په لاره کې ترېنه ووژل، او يا د ډيورنډ کرښه د بېخي ډېر پوځ په
مېشته کولو سره په اغېزمنه توګه بنده کړي، او په دې ډول افغانان د دننه
په خپل هېواد کې اول قرنطين او وروسته لاندې کړي. د کابل حکومت
د "د ستر سرحدات" په نامه پرله پسې هلې ځلې په همدغه سبب بې نتيجې
شوې. د کابل رژيم وروسته په دې فکر شو، چې د پښتونستان
موضوع بېرته ژوندۍ کړي. د همدغه رژيم د باندنيو چارو
وزير عبدالوکيل د مارچ په نيمايي کې د ژنيو په خبرو کې د ډيورنډ
موضوع بر سېره کړه، او د ډيورنډ کرښې له منځه وړل يې وغوښتل.
د مارچ په ۳۱ مه شېوارډنادزې د بلغاريې په مرکز صوفيې کې په دې باب
تر هغه لا د مخه لاړ، هغه حتی د ژنيو خبرې په هغې پورې ستړې
وګڼلې او څرګنده يې کړه چې د افغانستان او پاکستان سرحد ناحله
موضوع ده، او پاکستان د لارې خنډ - د ده په قول "هېڅ افغان
به له هغه سره موافقه ونکړي، ځکه چې هغه په عمومي ډول د ملي او
په خاص ډول د پښتنو د ګټو په خلاف دی." د دوی دغه ناره
د بل څه د پاره نه، بلکه د دې د پاره وې چې په پاکستان فشار
راوړي ترڅو د ژنيو موافقه د دوی په خوښه لاسليک شي - خو د
پاکستان په درېځ کې څه توپير رانه غی، ځکه چې پاکستان په ۱۹۸۱

کې هم د همدغې موضوع په سر د کابل د رژیم یو لیک بیخي بېځوابه پرې ایښی و. لیک په دې باب و چې که پاکستان د کابل له حکومت سره خبرې و کړي تاریخي سرحدي کشالې به له مینځه لاړې شي. د کابل رژیم په دغه لیک کې د بېته اشاره کړې وه چې حاضر دی د دیورنډ کرښه د بین المللي کرښې په توګه ومني - خو چې پاکستان له هغه سره خبرې وکړي، او په دې حال یې په رسمیت وپیژني. د دیورنډ د کرښې په هکله د دغه دوه متضاد دریځونه بس دي دپاره چو څرګنده شوي وو چې د کابل حکومت د ځان د استقرار دپاره ترېنه استفاده وکړي. کمونستان تل او هر چېرې یا همدغسې کوي او دوی په ۱۹۱۸ کې د برست لیتافسک تړون د ځان دپاره سرمشق ګڼي، چې په هغه سره لینن د خپل نوي حکومت ګټه په نظر کې لرله، نه د روسیې د ملت.

کله چې په ژنیوکې په نوموړو تړونو لاس وشوه، د کابل حکومت د دیورنډ د کرښې په باب خپل دریځ پوره واړاوه، او د دیورنډ کرښه یې د خپلو تېرو نارو په خلاف په رسمیت وپېژندله. خو په یقین سره ویل کېدای شي چې د کابل رژیم دپاره (که د ژنیو د تړون تر نافذ کېدو وروسته باقي شي) دغه منتر تاکتیکي ارزښت لري د قبول وړ دی چې حاکمیت یې ټینګ شي دوی دې دپاره چې افغانستان په شوروي وتړي، کوښښ کوي د افغانانو

او پاکستانیانو ترمینځ اختلاف پیدا او شدید کړي . اورس تجربو
ثابته کړې چې څومره چې افغانستان علایق د پاکستان سره خراب شي
افغانستان په هماغې اندازې په شوروي اتحاد متکي کیږي او شوروي
دیره قوي ګاونډي په توګه د دغه حال نه د ځان د پاره استفاده کوي.
همدغه راز کمونستان او روس پالان د دیورند د کرښو په دواړو
خواوو کې د هغې په خلاف فعالیت کوي . کمونستان د دې د پاره
چې په هدف ورسیږي په ظاهر کې نشلستان هم کیږي ، یا لږ تر لږه
د هغوی پیښې کوي . هغه کسان چې غواړي د دیورند کرښه یوه
موضوع وګرځوي ، په حقیقت کې کوشش کوي افغانستان بیا
په کوم ثور ګرداب کې غرق کړي ، او د روس او کمونیزم غیږ ته یې
وسپاري - وایي لیونی خپله خوله د دوهم ځل د پاره نه ورکوي.
دا به دیوه ولس خامي وي ، چې ملي تېروتنې تکرار کړي . اورس
پېښو ثابته کړه چې د پښتونستان په سر د افغانستان د حکومتي لوبانو
چلند ناسم و - یوازې موسی شفیق په دې فکر و چې « موږ نه
غواړو افغانستان د پښتونستان نه قربان کړو . » ( د موسی شفیق
پیغام ، مخ ۱۸ ، پښتون ۱۳۶۷ ) . د تېرو لسو کلونو پېښو په عمل
کې ثابته کړه چې څومره چې افغانستان له پاکستان سره خواږه ښې
ټینګ اړیکې لري ، له بل هیڅ ملک سره یې نلري . د افغانستان په
روانې تراجیدۍ کې تاریخي دوستي پوځل بیا د ازموینې د بوټې نه

ورتله، او ورسره د واړو ولسونو سره لا هم نږدې او خپل شول.
په نړۍ کې به دوه داسې ولسونه وي چې سره دومره ټینګ خواخوږه
علایق ولري، دا به د دواړو هیوادونو په اساسي ګټه وي، چې په
خپلو کې له دې ورسته بشري، تجارتي، تعلیمي او داسې نور علایق
لا پسې هم زیات، او سرحدي بندیزونه تر ورستي حده کم کړي
پاکستان ته د افغانستان په صناعتي کېدو کې ښه ونډه ورکړه شي،
او پاکستان د افغانستان د پاره په کراچۍ کې د سوداګرۍ مالونو د
پاره اساسي او دایمي اسانتیاوې برابرې کړي، لکه چې د یوه خلقي
وزیر په قول په ۱۳۵۸ کې جنرال محمد ضیاء الحق همدغسې وعده
ورکړې وه. افغانستان به د پاکستان له لارې د غربي نړۍ له
تخنیکي او ساینسي غنا او پرمختګ نه هم مستفید شي او د روس
او کمونیزم له خطرونه به لیرې شي، په هرحال په دې ډول به افغا-
نستان او پاکستان د برابرۍ په اساس په واقعي توګه د یوه بل متمم
او مکمل وګرځي، او خلک به یې د سولې او ارامۍ په سیوري کې د
ښه ژوند کولو، او د ورورۍ او انساني ښو اړیکو د پاللو د پاره
د ښو او دایمي او بېمثاله فرصتونو خاوندان شوي وي.

خو باید په یاد ولرل شي چې د پاکستان او افغانستان دواړه
ولسونه په سره بېلو او نا کلو خاورو کې ژوند کوي، او د ځینو
توافقاتو او مهمې سند د «د هر یوه سرحدونه» د هر یوه «واکمني»

د هریوه «ملي خپلواکي» د هریوه «ملي اتحاد» او د هریوه «ځمکنۍ یشپړتیا» چې دا ټول د ملي دولت اساسي عناصر ګڼل کیږي، په کلکه تاثیل کړي، او په دغه سند سره دوا پوه ژمنه کړي، چې هغه به نه نقض کوي - دغو مرو چې پاکستان او افغانستان په دغه سند سره د شه ګاونډیتوب په مقصد دړې او دقیقې ژمنې کړي، شاید د انسان په ټول تاریخ کې دوه نوره ګاونډیو هیوادونو په خپل مینځ کې سره نه وي کړي .

# د ژنیو توافقات او د حکومت بیا رغونه

خو دغه و روستۍ خبره په هغه وخت مفهوم ولرلی شي، چې په افغانستان کې بې له بهرنۍ مداخلې او لاس وهنې نه پخپله د افغانانو له خوا د عمومي انتخاباتو په نتیجه کې حکومت مینځ ته راغلی وي، طبیعي ده چې دغسې حکومت هغه وخت مینځ ته راتللی شي، چې هلته حالات نورمال شي - ترڅو دغسې حکومت مینځ ته راځي باید دیوځه مودې د پاره لږ تر لږه دغسې سیاسی نظم د عبوري یا موقتي حکومت په نامه فعال وي چې د خیلې دلې او خواوې پرې اتفاق وکړي، او د دغه اتفاق له برکته او پابند مراعات شي که دغه کار ونه شي - د ژنیو ټول توافقات به د سیلاو په مخ کې د شګو بند وي . په دې حساب په انتقالي دوره کې د موقتي حکومت شته والی اساسي اهمیت لري .

په انتقالي دورې کې د مؤقتي حکومت د تشکیل موضوع په ژنیو کې د دخیلو حکومتونو استازو د یوې مفاهمې له مخې کوردوویز ته وسپارلې چې هغه به په شخصي لحاظ، نه په رسمي توګه د هغه د مینځ ته راتللو د پاره لاره هواروي. او د دوی حکومتونه به له هغه سره په دې باب همکاري کوي. د هغه اهمیت له مخې چې دغه موضوع يې لري، دغسې فکر کیږي چې کوردوویز ته مشکله وظیفه نه، بلکه ناممکنه وظیفه ور په غاړه شوې ده مګر دا چې ټولې خواوې په تېره شوروي اتحاد له هغه سره د زړه همکاري وکړي. څو له بده مرغه د غوايي تر کودتا نه وروسته د کابل حکومتونو د شوروي عمالو په هڅونې او ملاتړ دومره ډېر او غټ جنایتونه په افغانستان کې کړي دي چې د هر مسلمان او ملي افغان د پاره يې ناممکنه کړې چې په شوروي او د هغه په کابل رژیم باندې اعتماد وکړي. د یوه جلاوطني افغان سیاستمدار په قول «ترڅو (د کابل) حکومت سقوط ونه کړي او بل حکومت يې په ځای ونه دریږي، خطر لا هم موجود دی. دا باید هېڅکله هېر نکړو.»

بېخکي مشکل په دې کې دی چې د غوايي په کودتا سره په افغانستان کې سیاسي خلا پیدا شوې، او دغه خلا تر اوسه په ځای پاتې ده، که څه هم د شوروي غوندې یو ستر طاقت د هغې د ډکولو د پاره لښکرې را دننه کړې، خو د افغان د ارادې په مقابل کې ناکام

شو . د دغو لښکرو په وتلو سره به یقین دی چې د دغې خلا د ډکولو د پاره هڅې ليدل شي . باید هېره نه شي چې د غوايي ترکودتا نه وروسته ، یعنې د شوروي له نظامي حضور نه دمخه هم، د حکومت په سر ، یا په بل عبارت د همدغې سیاسي خلا د ډکولو په سر جنګ و ، چې د موضوع اهمیت ښکاره کوي .

## د موقتي حکومت په باب د کابل رژیم دریځ

د دغې خلا د ډکولو د پاره اوس د ټولې پراخې دلې سمله لاسه په نظر کې راځي يوه دله يې د کابل رژیم دی . د کابل د حکومت سروال او د ګوند یانو په اصطلاح د جامعې او حکومت « لوړی ورکونکي » د خلق دموکراتیک ګوند دی . دا په اصل کې مارکسیستي ګوند دی او غواړي ټولنه په مارکسیستي او کمونستي اصولو اداره کړي . په اصل کې په یوه ګوندي طرز یعنې یوازې په خپل حاکمیت معتقد ګوند دی . خلقیانو د شل میاشتني حکومت په دوره کې عملاً د همدغه اصل له مخې حکومت کاوه . نه یوازې نورو ګوندونو ، حتی غیر ګوندي اشخاصو ته یې په حکومت کولو کې چانس نه ورکاوه ، بلکه هغوی یې ترویجي پورې وځپل او له مینځه یوړل . وروسته د ګوند پرچمي جناح د ببرک کارمل په مشرۍ ، چې شاته یې د شوروي نظامي ملاتړ و ، د اشتلافي حکومت نارې سر کړې ، خو په عمل کې یې زیاتې

یو شمیر غیر ګوندي تکنوکراتان په حکومت کې داخل کړل او حکومت د ګوند په لاس کې و. د ۱۹۸۶ کال په مه کې چې نجیب الله د ګوند سر وال وګرځول شو، غیر ګوندیانو ته په حکومت کولو کې موقع زیاته شوه. د ۱۹۸۷ کال په جنورۍ کې چې نجیب الله د تش په نامه « ملي روغې جوړې » سیاست اعلان کړ، حتی اسلامي مجاهدو ګوندونو ته هم په ائتلافي حکومت کې د برخې ورکولو بلنه ورانديز شوه - ورپسې حتی پخوانی پاچا هم وبلل شو. د همدغه کال په اوړې کې نوی اساسي قانون راایستل شو او پخپله نجیب الله په یوې فرمایشي لويې جرګې کې د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. په عین حال کې څو ګوندي سیستم هم اعلان شو، او د هغه له مخې یو شمیر پخوانیو وزیرانو او هم د دوو ورپسې ستمي چپي ډلو - ساز ا او سزا - یو شمیر غړو ته په حکومت کې مقامونه ورکړل شول.

نجیب الله تر اوسه هم د ملي روغې جوړې سیاست او هم د ائتلافي حکومت په باب نارې خوروي، او هم دننه او د باندې د پخوانیو حکومتونو نومیالیو کسانو ته بلنې ورکوي - د ده اصلي مطلب دا دی چې ناپیيلي، نامتعهد او بیطرف افغانان او هم د مجاهدو تنظیمونو څخه ځیني کسان او حتی ډلې د خپل حکومت په لور جلب کړي. د ده د ائتلافي حکومت په دې شکل دی چې د

حکومت اصلي واګی یعنې د قدرت او حاکمیت چلولو واګی نو نه

لکه د ملي دفاع ، دولتي امنیت ، د کورنیو چارو ، او هم د مالیې

وزارت او د دولت سروالۍ به د رسمي ګوند په لاس کې وي په

دې ډول دی او س حاضر دی د خپلو اصولو په خلاف د څو ګوندي

طرز له مخې حکومتي واک وویشي ، خو حاضر نه دی د حکومت

اصلي ستنې یا حاکمې لوړې څوکۍ له لاسه ورکړي . له دغه

ګوند سره ائتلاف هم اسلامي تنظیمونو ، هم پخواني پاچا او هم ډیرشمیر

وتلیو او نومیالیو افرادو په هر حال او هره بڼه چې وي ، په غوڅه توګه

رد کړی دی . ددې دلیل یې یوازې دا نه دی چې دا د ملحدانو

او کمونستانو ګوند دی ، او له دوی سره ائتلاف کول په واقع

کې د خلکو د هیلو سره مخالفت کول ، او د ټولو هغو قربانیو او -

مجاهدو باطلول دی چې دا د غوبرمړ کلونه یې له هغو سره کړي

دي ، بلکه له دې امله هم دي چې دغه ګوند د شوروي د لاس اله

او په بالقوه ډول د کمونستي انترنشنلستي خصوصیت په وجه

د افغان د ملي حاکمیت ، او په یوه کلمه د هېواد د آینده د پاره په

اساسي ډول خطرناک دی . دغه خطر ځکه اساسي دی چې شوروی

دیوه ستر نظامي او بې رحمه قدرت په توګه د افغانستان ګاونډی

دی ، او د شوروي د همدغه ګوند له لارې په ډیره وړه پلمو کولی

شي ، د افغانستان د پاره د اوس په شان بیا خطر شي . نو له دغه

ګوند سره ائتلاف کول، یعنې هغه پیاوړی کول، او لمن ترلېږه یې په ځای د ړول، په واقع کې د افغان د ملي بنسټ ضعیفول دي. ورد بل غټ دلیل یې دادی چې د همدغه ګوند لوبانو د خپل حاکمیت په دوره کې، لکه چې ټولو ته څرګنده ده، د افغانانو په مقابل کې دومره ډېر جنایتونه کړي چې د هغو په سبب دغه ګوند دغه استحقاق له لاسه ورکړی چې د افغانانو سیاسي سرنوشت هغه ته وسپېرل شي. دغه ګوند په خپلو جنایتونو سره هر وجدان لرونکي افغان ته ـ نه هر هغه انسان ته چې اخلاقي، دیني، او انساني ارزښتونه د فردي او ټولنیز ژوند بنسټ ګڼي ناممکنه کړې چې ورسره ائتلاف وکړي. همدغه سبب دی چې د کابل رژیم د نجیب الله د رنګ رنګ ګذشتونو سره سره یوازې یو شمېر ابن الوقتانو، تسلیم طلبانو، او حکومتي مقام لټوونکو له زړه نا زړه همکارۍ نه پرته د ملت د عظیمې برخې له نظره هماغسې بې اعتباره او په میدان پاتې دی.

# د مؤقتي حکومت په باب د مجاهدینو د اتحاد دریځ

لکه چې څرګنده ده د مجاهدو تنظیمونو اووه ګوني اتحاد د اوسنۍ سیاسي خلا د ډکولو د پاره ډېر مهم دی. په اسلامي افغانستان

کې چې هر وخت اسلام ته خطر پېښ بده مجاهد غورځنګونه مینځ ته راغلي، او فعال شوي دي. څنګه چې افغانستان د اسلامي نړۍ په سرحد کې له غیر اسلامي کولتورونو، په تېره هندوېزم سره مخامخ و مجاهد خوځښتونه په زیات شمېر په افغانستان کې مینځ ته راغلي دي. د همغو ترڅنګه اسلامي تصوفي ډلې، په تېره نقشبندیه ډله، دلته په سیاسي ډګر کې هم فعالې شوې دي. د هېواد د غه اوسني اسلامي غورځنګ چې تر زیاتې اندازې د اخوان المسلمین له غورځنګ نه اغېزمن دي. نږدې پنځه ویشت کاله د مخه په کابل پوهنتون کې د کمونستي خطر په مقابل کې تو کېدلی. په خاص ډول همغه وخت چې د محمد داؤد خان په جمهوري کې کمونستانو ته په حکومت کې مقامونه ورکړل شول، غورځنګ دوهره منظم شوی و، چې په ۱۹۷۵ کې یې یو شمېر پاڅونونه هم وکړل، خو هغه ټول وځپل شول. د ۱۹۷۸ کال د غوایي له کودتا، په تېره په افغانستان باندې د روسیې له یرغل نه وروسته د غه غورځنګ په یو شمېر بیلو بیلو تنظیمونو کې تر هر وخت نه زیات د مسلمانو افغانانو له ټینګ ملاتړ نه بهره من په ټول ملک کې خور، او د جهاد په لار کې د یرغلګر روس او د کابل کمونستي رژیم د نظامي او پوځي قدرت په برابر کې د مقابلې نه ماتېدونکی، بلکه ماتوونکی سپر شوی و. د د غو بیلو بیلو تنظیمونو تر مینځ په ۱۹۸۰ کې د اسلامي اتحادیه

نامه پېوستون راغی، خو وروسته په داسې حال کې چې پېښور د ټولو مرکز وُ، او دوی د جهاد په لارکې په بېلو بېلو درجو په اسلامي هېوادونو او اسلامي غورځنګونو، په تېره د پاکستان او سعودي عربستان له ملاتړ نه بهره من وو د دوی د اوو ګوني سني جهادي تنظيمونو ترمينځ د درې ګونی اتحاد، او څلور ګوني اتحاد په نامه دوه ډلې څرګندې شوې چې لومړۍ یې په مطبوعاتي نړۍ کې په غیر دقیق ډول د عنعنه پالې او بله یې د بنسټ پالې یا بنیادګرایي په نامه یاده شوه. حو لومړني یې په دې فکر معلومېږي چې د افغانستان د اسلامي جامعې په تنظيم کې د اسلامي اصولو او ارزښتونو ترڅنګه ملي او عصري ارزښتونه هم په نظر کې ونيول شي - او بله یې په دې فکر ده چې جامعه د اسلامي اصولو او ارزښتونو له مخې له سره او پوره تنظيم شي. دواړه ډلې تنظیمونه د ټولو مسلمانانو په پیروي د اسلامي جمهوريت د تأسيس د پاره فعالیت کوي او ټول د ډاکټر فاروق اعظم په دې شعار کې سره يو دي چې وايي «د خدای رضا زمونږ هدف، محمد زمونږ رهبر، قرآن زمونږ قانون جهاد زمونږ لار، او شهادت زمونږ ارزو ده.» (خپلواکي مخ ۹۰، ۱۹۸۲). د ۱۹۸۵ په مې کې د دواړو ډلو ترمينځ د افغانستان د مجاهدينو اسلامي اتحاد په نامه سره اتحاد وکړ. په واقع کې دا یو ائتلاف دی ځکه چې هر تنظيم خپل خپلواك وجود، او ځانګړې

هویت ساتلی دی . یوازې لوېاتو یې په خپل مینځ کې یوه مرکزي شورا جوړه کړې ، چې د هغې سروال د اتحاد وییلوی یا رئیس په نامه د یوې لنډې مودې دپاره ټاکل کیږي . د غه شورا به ترهغو فعالیت کوي ترڅو انتخابي شورا یې ځای ونیسي . شورا د جنورې په ۳۱ مه د موقتي حکومت په ترکیب جوړه وکړه ، چې هغه به مجاهدینو ، مهاجرینو ، او دننه په افغانستان کې له مسلمانو افغانانو نه جوړ وي . د فبروري په ۲۳ مه د همدغه فورمول له مخې د مؤقتي حکومت تشکیل اعلان وشو ، چې دغه یې پوره یادونه شوې . د همدغې عالي شورا له خوا انجنیر احمد شاه او ذبیح الله مجددي په ترتیب سره د موقتي حکومت رئیس او مرستیال وټاکل شول . بیا د دوی د تنظیمونو له فعالیتونو نه د حکومت غړي اعلان شول او دغه پروسه لا روانه ده -

د اتحاد عالي شورا د روژې د میاشتې په ۲۵ مه په څلویرو فصلونو او ۸۷ مادو کې د موقتي حکومت دپاره په نامه د « دستور العمل » یو عمومي چوکاټ وضع کړ چې د موقتي اساسي قانون حکم لري .

دا هدافو په مادو کې لومړی یې « اقامه نظام اسلامي مطابق نص قرآني « ان الحکم الا لله » دوهم یې « اداره و پیش برد امور کشور برمبنای احکام شریعت اسلامي مطابق

فقه حنفي » او دریمه یې « ادامه جهاد مسلحانه إلی اخراج کامل، فوري و بدون قید و شرط قوای روسي از کشور، سر نګونې رژیم ملحد و تاسیس افغانستان آزاد، مستقل و اسلامی» دي - لکه څنګه چې دمخه یې یادونه شوې ، په دغه دستور العمل کې د رهبری شورا داختیار اوواک له مخې تر ټولو ارګانونو لوړه ده چې د اوو ګوندونو تنظیم له مشرانو او د هرهغه چا نه چې دوی یې په غړیتوب ومني ، جوړه ده - حکومت به د شورا له خوا مینځ ته راځي ، او په ټولو ارخونو کې به هغې ته مسؤلیت لري . شورا به خپلې فیصلې په « عادي مسایلو » کې د رایو په اکثریت، په « مهمو مسایلو » کې د رایو په اتفاق او په « مهمو قضایاوو » کې د رایو په دوه - دریمه کوي - حکومت په واقع کې اجرائیوی، او اداري ارګان دي، چې ۲۱ وزارتونه به لري - د افرادو حقوق په دوو مادو کې په دغه دول ذکر شوي دي ،

« ۷۵ - حق تعیین سرنوشت ملت افغانستان متعلق به مردم افغانستان است . »

« ۷۶ - کافه اتباع افغانستان در استفاده از حقوق حقه شرعي خویش آزادي تام دارند . »

په ۵۸ مادوکې د نورو څیزونو په دله کې د « شرعی حجاب اصل» پابندي ټینګار شوی دی -

لکه چي معلومه وه دستورالعمل په داسي حال کې چې تنظیمونه په وطن کې نه بلکه له هغه نه دباندې، او هغه هم د جنګ او اضطرار په حال کې دی ایستل شوی. کمونستان تر ډېره طوره دي پخوانی پاچا ته یکې ورته خلاص دی. له دستورالعمل نه څرګندېږي چې په تنظیمونو کې داتحاد او همکارۍ تمایل مخ په قوت دی، او ګمان کیږي تر څو روسي لښکرې په وطن کې وي، په هغه کې به تهینګښت راشي. په ازادو انسانانو کې پوره اتفاق سمدلاسه رامنځ ته نه شي. اتحادیوه پروسه ده چې وخت، زغم او متقابل ګذشت غواړي.

# موقتي حکومت او نور افغانان

طبیعي ده چې په وطن کې او دباندې نور افغانان هم ډېر دي چې دحکومت په بیا رغونې کې رول لوبولی شي. داهغه پراخه پله افغانان دي چې دکوم مرکزي فکر په شاوخوا تنظیم نه دی له دې امله په اسانه یې تعریف هم کېدلی نه شي په ډېر پراخ دول دوی دوطن په سیاسي نظم کې د دیني ارزښتونو ترڅنګه هغو ملي غوره دودونو، کاسوشنونو او عنعنوته په پوره اهمیت قایل دي چې افغانان همدا اوس هم په هغو سره خپلې لانجې هوارويي، مرکې او جرګې کوي، او فیصلې صادروي، او د دغه کار په بهیر

کې تنظیم مینځ ته راوړي او هغه ته تکامل ورکوي ، او تر ملي او دولتي سطح پورې رسوي . له دې امله په دوی کې دغه فکر قوي دی چې حکومت ، په هر شکل او بڼه چې وي ، باید اساساً پخپله دخلکو په خوښه مینځ ته راغلی وي - دوی پدې فکر نه بنسټ لري چې د دوی جامعه دې پوره د دوی دفکرونو له مخې تنظیم وي . ددې معنی دا نه ده چې د حکومت او جامعې په تنظیمولو کې به دوی له هغو اړه نه لري ، او فکرونه نه مني چې نوې جامعې پرې تنظیم شوې دي او د هغو مفیدیت په اوږدو تجربو سره ثابت شوی دی . خو دوی له هغو نه هغه غوره کوي چې د دوی له کولتور او تمولنې سره سر خوري ؟ یعنې د هغو یوه برخه کېدلی شي ، هغه تکمیلولی شي ، او غني کولی شي - د غوره کولو په دغه عملیه کې دوی دیوه اصل مراعات حتمي گڼي چې هغه د خوښې او توافق او د عملي کېدو دامکان اصل دی .
توافق به د آزاد قضاوت او آزاد نظر له مخې وي ، په دې حساب دوی ټولې اجتماعي فیصلې د جرگو او هیئتونو له لارې د رایو په اکثریت سره کوي ، او په دې عقیده لري چې دغسې دلهییزې فیصلې تر هغه فکر نه چې دیوه کس ، یا یوې ډلې وي ، که څه هم د عقلمندۍ نوم پرې تثبیت وي ، نه دا چې غوره دی ، بلکه د جامعې په گټه او خیر دی .

د دغې خوړا پراخې دلې بل غټ خصوصیت دا دی چې افراد یې د جامعې د چارو د اجرا- وړې وي که ستړې - په یوې مؤسسه یېزې یا تشکیلي چوکاټ کې د ننه لیتوي ؛ نه دغه دله ، نه هغه طبقه په دې یا په هغې غوره بولي ، او نه یو یا بل مشر سروال ، لیډر ، یا په هر بل نامه چې وي ، تر هغه څرګند مګر تحول منونکی مؤسساتی چوکاټ نه د باندې د سوپرمین ، یا تر نورو پورته فرد په شان د حقیقت او خیر منبع ګڼي ، چې په ټولو حالاتو کې د غیر عادي او اضطراري حالاتو په شمول په دې قادر وي چې په کومې خاصې انحصاري کلي یا کوم خاص - فورمول سره د انسانانو د ټولو کشالو غوټه سمله لاسه خلاصوي او انسان ته به نجات ورکوي ، او په دې ډول به د ځان د پاره د دغه استحقاق تر لاسه کوي چې له ټولو قوانینو او چوکاټونو نه به د باندې د کوم غیر مسؤل ستر فرد په شان حیثیت پیدا کوی -
مؤسساتي طرح ، یا تشکیل به پخپله د دموکراسۍ یعنې د ټولنې د ټولو خلکو د مجموعي اتفاق قرار دادی ټینګ تفاهم نتیجه وي، په دې ډول هغه به په هیڅ وجه په تېره د افغان د اجتماعي - اقتصادي جوړښت او د افغانانو د آزادي پالنې روحیې په نظر کې نیولو سره نه په یوګوندي سیستم بنا وي ، او نه به د هغه لوړ شکل یعنې حکومت د بې مسؤلیتۍ او دکتاتورۍ په حال کې وي ، چې هغه

په د جامعې او خلکو په نامه ټپله د شوېدېو واقعي انسانانو شونه او حیثیت ته ارزښت نه ورکوي، بلکه هغوی به په دغه او هغه پلمه د جامعې په نامه چې په واقع کې د حاکمې سیاسي ډلې په نامه کېږي، قربانۍ ته هڅوي. په واقع کې به افراد که د طبیعت او شخصیت په لحاظ ښه وي، یا بد، غبي وي یا ځیرک، عادي وي یا نابغه - خپل اجتماعي کردار او کړه به د همغه غوره شوي مؤسساتي طرحې له مخې عیار وي، او فرد به په هر اجتماعي او حکومتي دریځ کې چې وي، یعنې یا له عوامو څخه وي، یا له خواصو څخه او یا هم د څه وخت د پاره غوره شوي واکمن او سروال وي د نورو افرادو له برالا انتقاد نه لوړ او غیر مسئول نه وي. په همدغه مؤسساتي چوکاټ کې به دا دیوه مسلم اصل په توګه منل شوی وي چې څنګه چې فرد په اصل کې د رنګ رنګ هوسونو، طبیعي انسیاقاتو یو غیر قابل اعتبار او هم تر ډېره حده تر اوسه نامکشوف او ناڅرګند په ځان مین حیوان دی، او څنګه چې قدرت او واک فرد ته د فرعونیت چانس او نشه ورکوي، باید سروال هم د نورو افرادو په څېر د تضمین شوي مؤسسه یيز برالا انتقاد او له قانوني بندیزونو څخه آزاد نه، بلکه د هغو تابع وي. همدا راز د رغښې پراخې ډلې افراد په لږو ډېر تفاوت سره به دې فکر ښکاره یا چې څومره چې په جامعې کې سیاسي سازمانونه جوړېږي، او څومره

چې په هغوکې ضیق انضباط او دسپلین عملي کیږي ، په هماغه اندازه د افرادو واك او اختیار ته زیان رسیږي ؛ له فرد نه فردتوب ځي ، او دهغه ممکن په یوه لوی او زبېښونکي کل کې ځان ورك کړي . د بېکړها کولو واك ، او په واقع کې بچپله واك په د سازمانونو د ورو لویو مشرانو په لاس کې لویږي ، او دهغوی هر یوه د پاره به ورو ورو دخپل مقام په تناسب هم د حاکمانه حا - کمیت هوس پیدا کیږي . په نتیجه کې به د جامعې په تاوان د اساسي تېروتنو احتمال پیدا او ډېریږي ، مگر داچې ټول سازمانونه اساساً د افرادو د آزادۍ او قانون په بنا عیار شوی وی ، او په هغوکې د انتقاد اصل دیوه اصل په توگه منل شوی وي او غړیتوب پکې ضیق نه وي ، او هغه بس دفرد په خوښه یعنې له هیڅ راز - خارجي فشار او اجبار نه تحقق موندلی وي .

طبیعي وه چې دغسې پراخې دلې ته منسوب افراد به پرکوم بېل تنظیم او گوندکې راټولېدلی نشي - لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه ، په دغسې افرادو کې اساساً د تنظیمېدو تمایل ضعیف وی . دا هم ددوی ضعف او هم د دوی قوت دی - دوی په ځان اتکا او اعتماد لري ، او نه غواړي د مطیع مامور ، مطیع غړي او مادون په حیث خپل شخصیت نفي کړي ، او ځان له ځان نه بېگانه کړي - له بلې خوا له دوی نه په ځینو کې ممکن د ځانگړتوب او

فردیت او په ځان مین توب حس د ومره قوي وي چې دنیا به په خپل ځان کې ګوري او هر څه ته به له شخصي نظره ویني . په دغسې افرادو کې به دابن الوقتیه ، اپارچونزم او بې پرنسیپه احساس بنه قوي هم وي .

دوی به هر یو چې یوې خاصې کورنۍ ، یوه خاص قوم ، یوه خاص ملیت ، یوې خاصې سیمې ، او یوه خاص ژبنی ـ کولتوری ته منسوب وي او دغه انتساب به د ځان او هویت د پاره ضروري ګڼي ، خو د افغان په نامه نورو افغانانو ته په هغه نامه چې وي نه یوازې د مدني قانون او اسلامي شرعې له مخې ، چې ملت شمول او عالم شمول دي ، بلکه د اجتماعي وجدان ، ملي شعور ، او وطني احساساتو له مخې د ورور او وطندار په حیث په یوه او برابر نظر ګوري او د اجتماعي مسایلو په سر به له هر هغه افغان ، او هرې هغې ډلې سره همکاري کوي چې د پورته ذکر شویو خصوصیتونو نښکارندوی او د دغو بېشمېره واحدونو کې یو له دایرې نه وتلی او هسک شوی یعنې تام افغان ثابت شوی وي .

د دغسې افرادو شمېر لکه چې په هرې ټولنې کې زیات دی نو زمونږ په ټولنې کې هم بېخي زیات دي ، او د څو پېړیو اکثریت په نامه په ټول ملک کې خوري ـ له بده مرغه د تېرو لسو کلونو په بهیر کې چې یوه منحط او په خپل فکر او ایډیالوژیکه لحاظ لارې شوې ډله

د شوروي په زور په وطن حاکمه شوه ، وتلي افراد يې د آزادي پالو، قومي پالو، محلي مشرانو ، دموکراتانو ، ملي پالو، بيورو ـ کراتانو ، او د حاکمه طبقې غړيو ، او په يوه کلمه د ضد انقلاب په نامه په خوړا ډېر شمېر د نړۍ مختلفو کونجونو ته په پرار مجبور کړل، او نور يې د ننه په وطن کې وځپل ـ سره له دې هم څرګنده چې هېڅ مدني او انساني جامعه له دغسې افرادو نه غير وجودنشي لرلی ، لهمدا اوس هم په افغاني جامعې کې د دوی شمېر په څرګند ډول ډېر دی ـ اخر تول انسانان نه غواړي سياسيون اوسي ، حتی تول نه غواړي سياست وکړي ـ سياست د ژوندانه په ډېرو اړخونو کې بس يو اړخ دی .

# کوردوویز او افغان ائتلافي حکومت

اوس چې دائتلافي حکومت په باب د افغان مختلفو ډلو دریځونه یوڅه روښانه شول، ایا د کوردوویز د پاره په ممکنه وي چې د هغه د جوړېدلو د پاره لاره هواره کړي، لکه څنګه چې د ژنیو د تړون د خپلو ډلو دیوې مفاهمې له مخې ده ته دغسې ماموریت هم ورپه غاړه شوی دی؟

دا ویل په اند هم دا چې د ژنیو د تړون اتفاق په تړون تکو موافقه راغله، کوردوویز په یوې مطبوعاتي مرکې کې د افغان د موقتي حکومت د جوړېدو په باب اساسي تکي څرګند کړل او ویې ویل چې «د خبرو په ټول بهیر کې په پرله پسې ډول منل شوې ده چې د پراخې فیصلې هدف د افغانانو د ټولو د یوه پراخ - بنسټه او - سملاسي ګډون معنی لري، او دا یواځې په یوه پراخ - بنسټه حکومت سره تحقق موندلی شي.» یوه میاشت وروسته دمې په لسمه یعنې هغه وخت چې د موقتي حکومت په باب اووه ګوني اتحاد خپل فورمول وړاندې کړی و، او په پلې کولو یې پیل کړی و، کوردوویز په واشنګټن پوست کې په یوې لیکنې کې له مجاهدینو نه په کلکه وغوښتل چې «د پراخ - بنسټه حکومت

د تشکیل د پاره د ننه په اعادیې کې د مشورو میدان پراخ کړي او د افغان ملت ټولې دلې پکې شاملې کړي ...» د ده په نظر د پراخ بنسټ حکومت معنی داده چې د افغانانو ټولې هغه دلې او افراد چې په سیاست او حکومت کې موثر او وارد وي د دغسې موقتي حکومت جز شي. ده په مشخص ډول څرګند کړه چې، د جبهو له قوماندانانو، له هغو سیاسي او نورو مشرانو سره چې هغوی او س د اتحاد جز ندي، او هم دې د مهاجرینو له مشرانو سره خبرې وشي. په همدې ډول د ده په نظر باید له هغو نومیالیو افغانانو سره چې پخوا یې حکومتي مقامونه لرل، او له نورو مهاجرینو سره دې هم سلا مشوره وشي. ده دا هم وویل چې « په پرله پسې ډول پیژندل شوې چې حاکم ګوند چې له ۱۹۶۵ نه راهیسې وجود لري، د افغان د سیاسي ترکیب نه بېلیدلی نشي ...» په همدې ډول د محمد ظاهر خان په باب یې هم په صراحت سره وویل « د ډېرو افغانانو په نظر پخواني پاچا په دغسې پروسې کې رول لوبولی شي ...». د کوردووېن په فکر پراخ-بنسټه حکومت همدغه دی، او دا د پاکستان د حکومت له نظر سره هم سرخوري، چې وايي باید په انتقالي دورې کې د افغان ائتلافي حکومت په برابره اندازه له مهاجرینو، د مجاهدو تنظیمونو له مشرانو، او د کابل د رسمي ګوند نه جوړ وي- پاکستان که څه هم د ژنیو د تړوافقاتو، او په خاص ډول له افغانستان نه

د شوروي قواو د تللو په خاطر له خپل هغه ټينګار نه واوښت چې بايد ائتلافي حکومت د همدغه فارمول له مخې د ژنيو د توافقاتو تر لاسليک کېدو نه رمخه مېنځ ته راغلی وای ، خو په دغه نظر تراوسه هم ولاړ دی ، او زيني نوراني هغه تراوسه څو ځله تکرار کړي دی .

# شوروي او د افغان ائتلافي حکومت

د شوروي حکومت چې د پنځه هولت په فکر غواړي غېبي حکومت په افغانستان کې راشي ، چې که په توله معنی دوست نه وي ، لږ تر لږه نادوست هم نه وي ، په دې باب طبعاً د کابل د حکومت ملاتړ دی . د هغه د باندينو چارو دوزارت وياندوی ګراسيموف د اپريل په اتمه يعني هغه وخت چې په دې باب د کوردووين ماموريت اعلانېده ، څرګنده کړه چې د افغانانو د کشالې ( د داخلي اړخ ) د هوارولو د پاره د ملي روغې جوړې سياست د حل يوازينۍ لاره ده ، لکه چې د مخه يې يادونه شوې د حل په دغې لارې سره به د کابل رسمي ګوند نه يوازې په ځای پاتې وي بلکه د حکومت لوړې حاکمې څوکۍ به يې هم په لاس کې وي .
نجيب الله د همدغه فکر له مخې د مه په لومړۍ اوونۍ کې په دهلي کې ، يعنې چېرته چې د لومړي ځل د پاره يوه غير سوسيالستي هېواد

ته بلل شوی و، د پروپاګنډی اعلان په شان پیشنهاد وکړ چې « افغانستان حاضر دی بې له کوم قید او شرط نه تمام اپوزیشن ته چې که په پاکستان، روم، لندن، بن امریکې او یا په کوم بل ځای کې وي بلنه ورکړي چې د افغانستان د کشالې د ښیوا ړخونو د حل د پاره د سراسري سولې په جرګه کې ګډون وکړي ». ده په عین حال کې دا هم وویل چې دی ځکه چې تېر کال په کابل کې لویې جرګې جمهور رئیس انتخاب کړی، حاضر نه دی له دغه مقام نه ځان ګوښه کړي. د دې معنی دا ده چې که په ناشونې فرض سره پخوانی پاچا، انجنیر ګلبدین حکمتیار په دغسې جرګې کې ګډون وکړي، او یا هم په ائتلافي حکومت کې داخلېږي دده سرواليي به مني.

# هندوستان د بېځایه مزاحمې په توګه

په دې مینځ کې لکه چې موضوع په کافي اندازه کړکېچنه نه وه، د هندوستان حکومت نجیب الله د مې په لومړۍ اونۍ کې د دریو ورځو رسمي سفر د پاره په ډهلي کې ومانه، او د سفر په پای کې یې د دغه د حکومت د ملاتړ په غرض افغانستان ته د استهلاکي موادو او نورو کومکونو د استولو سره موافقه وکړه او په دې ډول یې د نجیب الله حکومت ته د پرستیژ او مورال ورکولو

په منظور په داسې حال کې چې د شوروي پوځ په وتلو سره د دغه حکومت د پرزېدلو خبرې روانې وې، عملي ګام واخیست. خو د هند د دغه اقدام د بحث د اصلي ټکي په ارتباط ډېر مهم سنکاري او هغه دا چې هندوستان په دغه ګام سره په افغانستان کې د مجاهدینو په مشرتابه سره د اسلامي حکومت د جوړېدو په باب خپل مخالفت وښود. هندوستان سره له دې چې په دغسې سیمې کې ځان یو لوی طاقت بولي، په افغانستان کې د دغسې دولت له جوړېدو نه په اندېښنه کې دی. په حقه فکر کوي چې هغه به د پاکستان په خوا تمایل ولري، او د دواړو جمع ایران سره به د هندوستان د مسلمانانو، په تېره د کشمیر د مسلمانانو د پاره په آینده کې تل یو خوځښت او امید بښونکي قوت وي، لکه چې شوروي هم د منځنۍ آسیا په جمهوریتونو کې له همدغې ویرې نه تر هغه لا زیات په اندېښنه کې دی. د مجاهدو تنظیمونو د دستورالعمل په یوه ماده کې راغلي چې « حکومت به د نړۍ په ټولو برخو کې د لاندې شویو او مظلومو مسلمانانو د اسلامي داعیې ملاتړ کوي. » په هر حال، هندوستان به په افغانستان کې د موقتي حکومت په جوړېدنت کې په نېغه اغېزمن نه وي. هغه د ژنیو د تړونونو څخه نه دی او په تېره اته نیمو کالو کې د دغه هېواد د ګاونډیانو حکومت په افغانانو باندې د کابل او شوروي جنایتونو

باندې نه یوازې سترګې پټې کړې ، بلکه د دغو حکومتونو ملاتړ یې هم کړی دی. تر څو چې دې کې شک نشته چې د ګاندي په سرولۍ د هند حکومت به ترهغو چې بې وسه وي د شوروي په شان په افغانستان کې د مجاهدو تنظیمونو د اسلامي دولت له جوړېدو سره مخالف او د هغو کوښښونو ملاتړ وي چې د پراخ ـ بنسټه موقتي حکومت د جوړېدو د پاره به کیږي .

# امریکا او د افغانستان ائتلافي حکومت

په اوسنیو شرایطو د امریکې حکومت د افغانستان د موقتي حکومت او په واقع کې د افغانانو په روانې ملي مبارزې کې یو ټینګ عزمن عامل دی . د مطبوعاتي خبرونو له مخې امریکې تر اوسه تر دوو ملیاردو نه زیات ډالر مرسته کړې . مجاهدینو ته یې د ستنګر راکټونه ورکړي ، چې حتی د یرو حکومتونو ته یې نه دي ورکړي . د درندو وسلو د انتقال د پاره یې حتی د خپل ملک نه قاطرې افغاني مجاهدینو ته د دښمن په وطن کې رسولې . په ډیپلوماتیکي ساحه کې د شوروي په مقابل کې ولاړ دی ، او په خاص ډول د ژنیو تر څنګه د ژنیو د توافقاتو تضمین کوونکی هم دی ـ وعده یې کړې چې تر څو شوروي د کابل رژیم ته وسلې ورکوي ، امریکا به یې مجاهدینو ته رسوي ، سره له دې چې د

ژرنیو توافقات هم شوي دي . برسېره پر دې د نورو د خپلو هېوادونو په شان یې کوم دوه ېز دېته بللی چې د موقتي حکومت د جوړېدو په باب خپلو شخصي هلو ځلو ته دوام ورکړي ، او امریکا به د ده دکوښښونو ملاتړ کوي . په دې حال کې طبیعي ده چې د افغانستان په باب نه یوازې د امریکې په رسمي حلقو کې ، بلکه د سیاسي ذهنیت جوړولو حلقو له خوا هم خاص نظرونه وړاندې کیږي . دا د امریکې د آزاد فکره تولنې او سیاست یو مهمه خاصه ده ، او دېر کله داسې شوي دي چې هم دغسې نظرونو په رسمي سیاست کې انعکاس کړی دی .

په امریکې کې اوس دا یو مهم عمومي نظر دی چې د ربکین حکومت افغاني مجاهدین د قطبي سرکوزي یرغلگر او د هغه د لاس لاندې رژیم په مقابل کې « د آزادۍ جنگیالی » بنودلی دی . امریکائیانو ته د دغه اخلاقي ارزښت په بنا تعریف دغسې هیله ورکړه شوې چې د آزادۍ د جنگیالیو په بریالي کېدو سره به په افغانستان کې دغسې یو حکومت منبع ته راغلی وي ، چې په آزادۍ او دموکراسۍ به عقیده لري او له ترلره د غرب او آزادۍ نړۍ دوست به وي . دا یو غټ دلیل و چې امریکائیان د افغانستان په باب د ربکین د حکومت پلویان شول . خو دېر وخت نه و تېر شوی چې د دوی په مطبوعاتو کې خپاره شول چې د همدغو

جنګیالیو ځینو ډلو په داسې حال کې چې له امریکې نه یې رنګ رنګ پیچلې وسلې هم ترلاسه کولې، امریکا د شوروي په لیکه کې ودروله. او په افغانستان کې یې د اسلامي دولت د جوړېدو مخالفت اعلان کړ. د ایران د خمیني حکومت په نظر کې نیولو سره او س په امریکې د دغې ذهنیت خاوندان لږ نه دي چې وایي له افغانستان نه د شوروي د قواوو د وتلو په حال کې که مجاهد تنظیمونه یو شي، یا د هغو یوه ډله لاس بری پیدا کړي، ممکن د غسې حکومت مینځ ته راشي چې هغه به نه یوازې د شوروي پر ضد وي، بلکه سخت حاکمانه او دلویدیځ او امریکې پر ضد به هم وي. هرې یاسن او کارپوهان د دغې نظر نامتو او ډېر فعال مخکښان دي. په مقابل کې جوړلست کمپ استدلال کوي چې «دوست او اسلامي افغانستان به د واشنګتن په ګټه وي. اسلام په دغسې ملک کې یوازنی یو ځای کوونکی قوت دی چې هم دا چې شوروي وځپې غښتلی دي چې سره متخاصم قوتونه سره یو کړي، بل مهم کار به ولري، په داسې حال کې چې ناارام افغانستان به د شوروي د مداخلې د پاره ډېر فرصتونه برابر کړي، نسبتاً ثبات لرونکی افغانستان به د مسکو د پاره یو لیا ستراتیژیکي چیلنج وي.»

ترهغه ځایه چې څرګندېږي وروستي نظر د تصمیم نیولو په حلقو کې څرېکې وهلې دي. سناتوران د بحث په شان د مجاهدینو

کلک ملاتړ دي، د ریګن حکومت په مجاهدینو کلک ولاړ دی،
خو په دې معتقد دی چې د افغانستان د کشالې د دننې اړخ هوارول
پخپله د افغانانو کار دی. یعنې په دې باب د خودارادیت د اصل
ټینګ حامي دی- په دې هکله یې ډېرې څرګندونې کړې، چې
مرکزي ټکی یې دا دی چې امریکا نه غواړي په افغانستان کې د
شوروي یانو کالې اوتې وتې وکړي، او نه غواړي د کوم خاص
حکومت په منځ ته راوستلو کې دخیل شي، د نیویارک ټایمز په قول
( مې ۰ ۶ ، ۱۹۸۸ ) د همدغه نظر په اساس یې د خپل یوه لوړ رتبه
مامور، زلمي خلیل زاد له لارې اروه ګوټي اتحاد ته څرګنده کړې چې
د امریکې حکومت به د موقتي حکومت به باب د دوی د هلو ځلو
ملاتړ وکړي، خو چې دوی د هیواد په ډېرو برخو باندې خپله
قبضه ټینګه کړې، او نور معیارونه هم عملي کړي چې هغه « د خاورې
کنترول، د خلکو رضایت، د بین المللي وجایبو د تحمیل د پاره –
استعداد، او اماده توب او د دغې مدني اداري دستګاه لرل دي
چې حکومت پرې پاوه کولی شي. » د امریکې د همدغه استازي په
نظر که مجاهدین د کابل د رژیم د رقیب په توګه د غسې یو موقتي
حکومت منځ ته راوستلی شي « هغوی به د بین المللي ټولنې
معرفت د ځان د پاره حاصل کړی وي. »
بې له شکه له مجاهدینو له خوا د دغو معیارونو له مخې حکومت

تنظیمول ، د دوی د موثر یو موقتي کېدو او د خلکو په خوښه او اراده د یو مدني حکومت د مینځ ته راوستلو معنی لري. د مجاهدینو یو ناستو قوماندان مولوي جلال الدین حقاني هم په همدغه فکر دی او وایي چې « حکومت باید د افغانستان د مجاهد ملت د هیلو او ارادو ښکارندوی وي .» ( افغان اطلاعاتي مرکز مجله اپریل ۱۹۸۸ مخ ، ۳۲ ) د امریکي د دغه دریځ بله معنی دا ده چې امریکا د مجاهدو په سر والی سره د حکومت - موقتي وي یا دایمي - مخالفه نه ده ، خو چې هغه د حقاني د فکر له مخې د خلکو په اراده او مینځ ته راغلی وي . د همدغه فکر له مخې د امریکي حکومت وایي چې « داهم سلف دیترمینیشن ( د خود ارادیت حق ) نه دی چې د غې حکومت هلته ( په افغانستان کې ) پر ښودل شي چې د شوروي ټانکونو په ښودلی وي . » ( پاکستان ټایمز، می ۱۵ ۱۹۸۸ ) .

# بیاهم شوروي اتحاد او ائتلافي حکومت

خو په دې باب د شوروي د حکومت نظر قاطع او منفي دی . شوروي لکه چې د مخه یادونه وشوه ، د دې مخالفه ده چې په افغانستان کې د مجاهدینو په سر والی حکومت مینځ ته راغلی وي - په دغه ملک باندې د شوروي دیر غل یو منطق دا و چې ګواکې د افغانستان له خوا د شوروي جنوبي سرحدات نامصون

شوېيا وو. پروحالوف، شوروي ليكوال، د خپل حکومت په کړاتو يادشوی نظر دې په نهمه (فرنتيرپوست) په دېرغوڅ ډول بيان کړی دی، دی وايي «خو په دغه ملک (افغانستان) کې ايران ډوله بنسټ پالي نوړنو ممکن نه دی. او د شوروی اتحاد په سرحدونو کې ديوه افراطي مسلمان رژيم د څرگندېدلو تهديد چې غواړي خپل تبليغ او تمرين د منځنۍ آسيا جمهوريتونو ته ورسوي. دغه تهديد به هيڅکله عملي نشي.» د هغو مصريانو شمېر کم نه دی چې داړول کوي، او وايي چې که په افغانستان کې ايران ـ ډوله حکومت منيځ ته راغی، کابل او دهلي به په يوه محور چورليږي، او شوروي به يې خوځونکی قوت وي. خو د سليم عقل خاوند کوم انسان به يقين وکړي چې د هغو چنگيزي وړانيو په سبب چې شوروي په افغانستان کې کړې، د دغه وران شوي واړه ملک نوی رامنځ ته شوی حکومت، که د دوی په اصطلاح يوازې له «مسلمانانو افراطي ډلو» نه به هم جوړ شوی وي، د دې توان ولري، حتی که وېې هم غواړي، د شوروي غوندې يو ستر نظامي طاقت په مقابل کې د هغه د منځنۍ آسيا جمهوريتونه تهديد کړای شي ؟

دغوايي ترڅو چې تانه د هغه په تېرو د برشو کلونو کې شوروي له افغانستان سره په بې شمېرو موافقت ليکونو کې تعهد ونه کړی وو، چې د افغانستان له اجتماعي نظام سره، په هر شکل چې وي، د دوی غرض نشته

او دواړه هېوادونه به د مختلفو سياسي او اجتماعي نظامونو سره سره د لاس نه وهنې داصل رعايت کوي - دغه تعهدونه څه شول ؟

په مشخص ډول ايا داپريل په اتمه ګراسيموف ، دشوروي دباندنيو چارو وزارت وياندوی ، نه وو ويلي چې « په افغانستان کې دائتلافي حکومت د جوړولو موضوع يوازې دافغانانو د ارادې پورې اړه لري ، او له دغه هېواد نه د شوروي پوځ په وتلو پورې تړلې نه ده ؟ »

معلومه ده چې دا ټولې هسې خبرې دي ، او د شوروی اصلي مطلب دا دی چې د افغانانو دارادې په خلاف په کابل کې خپل وفادار کمونستي ګوند داوسې دپاره حتی که په واړه او اړول شوي شکل هم وي ، د حکومت يوه برخه وګرځوي ، او ورته مشروعيت ورته مسجل کړي ، او دهغه له لارې په افغانستان کې خپل نفوذ دايمي کړي .

تعجب په دې کې دی چې د افغانستان په موضوع کې ځينې خواوې يوې خوا ته تول بداده کوي چې دژنيو توافقات دکشالې يوازنی لارې اړخ په غيږ کې نيسي ، او دنوی اړخ ته چې د سياسي طرزونو او د دولت دبيا رغونې کار يې موقتی وي يا که دايمي - دخپلو ارادیت د منل شوي اصل له مخې يوازې او يوازې پخپله د افغانانو کار دی ، خو له بلې خوا بنديزي شرطونه وړاندې کوي ، چې نمونه يې پاس ذکر شوه - يوازې دا نه ده - دعمل په ساحه کې چې د افغان سياسي ګوندونو ته سړی بنه ځير شي وبه ګوري ګنده به شي چې د خپلو

ارادیت د اصل ناري په واقع کي له هغه سره د مخالفو چلندونو
ښندارې یې پوښتونه دي . د دې پولو پاکو زړونو ته شخه نه راوځي . د
هغه په ځای د بېگانه زور او قوت له مرکزونو نه دستورونه صادرېږي
او په هغو عمل کیږي . په دغسې حال کي به کوم دوریز ، چې اوس
په افغانستان کي د ملکرو ملتو مؤسسې د څارنې د کمیسیون آمر
هم تاکل شوی دی ، څنگه وکولی شي چې د موقتي حکومت د
جوړېدلو له پاره د دخیلو قواو د تضاد چلندونو ته د افغانانو د
پاره د منلو وړ یو ترکیب یا په جاري اصطلاح پراخ بنسټه
ائتلافي حکومت جوړ کړي ، په داسي حال کي چې دی اوس
د ځپل د لېږي هېواد ایکوادور د باندنیو چارو وزیر هم ټاکل
شوی دی ، یعني له یو بل سره ځپل ځواني تعلقات نلري ؟

## دبانې خبرې او سپارښتني

تر هغه ځایه چې په لیکو نکی پورې اړه لري ، غواړي یاد
افغانستان د تاریخ د محصل په توگه لیکي - په پای کي د تېرو لسو
کلونو سیاسي انکشافاتو ته نظر کي نیولو سره ، هغه تکي راښېي
او څرگند کړي چې د افغانستان د سیاست خاصې او بېلوونکی
نښې جوړوي ، او د هغو په پام کي نیو نه ممکن د حکومت د
بیا رغونې یا په عمومي ډول د ملک د سیاسي طرز له ټاکني

سره مرسته وکړي. په دغې لیکنې کې به بس په عمومي تایلاتو باندې نظر اچول کیږي، نه په تاریخي مشخصو پیښو باندې.

۱ - افغانانو له خپلو غربیه سره سره ثابته کړه چې د خارجي تسلط، هغه هم د ملحد کمونست روس تسلط نه مني - دوی په خپل ملک باندې، په خپل اختیار باندې، په خپلې واکمنۍ باندې د خارجي تسلط په مقابل کې دومره حساس او له هغه سره دومره مخالف دي چې د هغه د طرد د پاره د له پیړۍ قربانۍ ته ورکولو پوری د خپلو نیکونو په شان اوس هم تیار دي. دیوه چاخبره دوی خپلې واکمنۍ ته تر پر مختګ او سبه مادي ژوند نه هم ترجیح ورکوي. بنا پر قول هغه حکومتونه چې د افغانستان له مسئلې سره سروکار لري دغه واقعیت په نظر کې ونیسي او لکه چې وایي د افغانانو د پاره د خود ارادیت په حق ولاړ دي، افغانان په ریښتیا پرېږدۍ چې خپل حکومت او په عام دول سیاسي طرز، د نورو له پښتو او بی الا لاس وهنو نه غیر بخپله اراده اراده وټاکي -

۲ - افغانان په هاغه اندازه په خپل ملک کې له کمونستي نظام سره په هر شکل چې وي مخالف دي، دوی په واقع کې لومړي د هغو کوښښونو مخالفت وکړ چې مقصد یې په افغانستان کې د

کمونستي نظام برقرار وول وو . له دې امله د دوی مجادله په د شوروي پوځ د تلو نه وروسته هم دوام کوي ، او تر هغو به وي چې د کمونستي نظام د ساتلو د پاره ټول کوښښونه شنډ شي ، د کمونستي نظام په مقابل کې حساسیت دومره پیاوړی دی چې دوی په هغو کوښښونو هیڅ قانع نه دي - چې نجیب الله یې د ملي روغې جوړې په نامه کوي او په هغو سره لوړنی په اصطلاح « خلقي » یعنې کمونستي دولت ورو ورو له مینځه وړي او په ځای یې د افغان د عنعنوی دولت د بېرته په ځای کېدو د پاره لاره هواروي . مجاهد افغانان غواړي د دولت بیا رغونه یې له کمونستانو نه په خپله وکړي . او همدغه علت دی چې د نجیب الله د ملي روغې جوړې چلند ناکام دی .

۳ - د افغانانو عنعنوي دولت د پېړیو پېړیو په بهیر کې په دیني ملي او د آزادۍ په ارزښتونو بنا و . په افغانستان کې ستر دینونه تېر شوي چې د هغو په نتیجه کې د خیر او شر ، روا او ناروا ، او سم ناسم مفهومونه د افغانانو په ملي ژوندانه کې چاڼ او دایمي شوي دي . څوارلس پېړۍ کیږي چې اسلام د افغانانو رسمي دین دی . اسلام عقیده او دولت دی . یعنې اسلام د دولت د تنظیم د پاره ټاکلي اصول لري ، چې د هغو له مخې باید

د دولت سروال په هرنامه ( خلیفه ، سلطان ، امیر ، پاچا جمهور رئیس ) چې دی مسلمان وي ، او تولنه اساساً د اسلامي اصولو له مخې تنظیم شوی وي د دغو اصولو مرکزي ټکی مشوره ده . په صدر اسلام کې پخپله خلیفه ( رض ) د صلاحیت منو په خوبنه غوره کېده . دغه اصل د افغان ولس د جرګې له رسم سره موافق دی . افغانان په بانډو ، کلیو ، ښارګوټو ، او په یوې وینا په هرې ټولنې کې اجتماعي چارې په لږ او ډېر توپیر سره په مرکو جرګو سره فیصله کوي . جرګه یو سیستم دی او خاڼله ټاکلي مقررات لري . د جرګې ټول غړي حتی د سرسړي هم په هرنامه ( میر ، بیګ ، خان ، ملک ، مشر ) چې یادیږي ، د همغوی تابع وي ، نه له همغونه سوا او پورته . دغه دود دومره خور او حاوي و ، چې اوس یې د عنعنې ، ملي دود ، او کانوانشن بڼه غوره کړې ، او په پښتنو کې خاص اهمیت لري . په دوی کې د همدغو اصولو یا نرخ یعنې جزایي سیستم بېحده دقیق دی چې د هرې جزایي پېښې په باب ټاکلي او دقیق مقررات لري . څنګه چې د جرګې هرغړی د آزاد بحث او آزادې رائې حق لري او څنګه چې د افغان په قومي واحدونو یعنې اجتماعي جوړښت کې افراد یو له بل سره برابر او یو د بل سیال او ترېووګنل کیږي ، د افغان په جامعې کې د همدغه ټینګ دود له مخې یو

رازفی دي آزادي لوړ مقام لري ، البته دا به غلط وي چې فکر وشي په افغانانو کې دا بیوازنی تمایل وا و په مقابل کې یې د استبداد او واکمنه د انحصار تمایل نه و موجود ، او په همدغې برابر- دوله جامعې کې په وړه سویه مستبد خانان او په لویه سویه مستبد پاچایان او امیران نه وو هسک شوي . د انسان په تاریخ کې تر اوسه هیڅ ټولنه له دغو دواړو تمایلاتو نه خلاصه نه ده ، خو په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغان په جامعه کې د هغو دلایلو له مخې چې یادونه یې وشوه ، لومړنی تمایل ، یعنې د دولت په رغونې کې او د ټولینزو چارو د اجراء په برخه کې د رضا او اجماع اصل په دې چې په جامعې کې یې ټینګې ریښې لرلې ، په دوهم تمایل باندې هر وخت غالب او د دولت په رغونې او تنظیم کې د هغه رعایت شوی دی ، هو ، نن نه دغه سل کاله کیږي چې د توافق او اجماع د اصل په مقابل کې د استبداد تمایل یا د لویې واکمنې د غوښتونکو ، خپل سکولو او مرکزي کولو تمایل د ډیرو دلایلو له مخې په دولتي واکمنو کې د استبداد هوس قوي کړی ، خو له هغه سره جوخت یا د هغه په نتیجه کې په جامعه کې تاوتریخوالی ببخی زیات شوی ، چې دغه لس کلن جنګ او له هغه نه راپیدا بېحده انساني او مالي زیانونه د هغه زیږنده دي . نو د نامتو مجاهد قوماندان عبدالحق دغه وینا سمه ده چې وایي « خلکو ( افغانانو ) تل انتها پسند قدرت سره ، دښمني وي یا بهرنی ، مخالفت کړی . نو دا به سادګي وي

چې يو څولوك فكر وكړي افغانان په دغه دول إداره كولى شي.»
( افغان اطلاعاتى مركز مجله ، اپريل ، ۱۹۸۸ ، مخ ۳٤ ) د دولت په بيا رغولو كې د دغه واقعيت په نظر كې نيول بالكل حتمي دي. بايد د افغانانو په نوي دولتي سيستم كې د رضا او اجماع اصل مؤسساتي او دايمي كړل شي ، دا به نه جبران كېدونكى ملي او انساني فاجعه وي ، كه په اجتماعي ترونداانه كې شوې تېروتنې تكرار شي .

٤ - دافغانستان په ټول تاريخ كې دولتي واك نه دغومره متمركز او نه دغومره مطلق و، او افغانان نه په دغې اندازې څپېښل شوي ، او سنكپل شوي وو- لكه د دموكراتيك خلق ګوند د حاكميت په دوره كې چې وو. رسمي نظر داو چې نه يوازې د پركړه كوونكو امتيازاو حق او صلاحيت په ګوند كې ، او په ګوند كې يوازې په پاسنيو حلقو يا حلقې كې متمركز وي ، بلكه افراد بايد په ټولو شغلونو او كسبونو كې تنظيم كړل شي ، او د ټولو تنظيمونو سرواكي د حاكم ګوند د غـمـالو په لاس كې وي او پرېكړې هرڅه او هرڅومره چې وي د مركزي كميټې د خاصو حلقو ، يا خاصې حلقې په دستور او هدايت وي. په دې پيل وشو چې حتى د جامعې ښځكي واحد، يعنې كورنۍ ته هم تغيير وركړي ، او

ماسټرمان او ترڅنګه حده سنځي هم تنظيمي شوي ولري . د
آزاد فرد په برابر کې په کوليکتيف ( کميټه ، ګوند ، حکومت
ډله ، دولت ، جامعه ) باندې زوره وا چوله شعوه . مقصد دا
ؤ چې د همدغو سازمانونو او کوليکتيفي تشکيلونو له لارې افراد
په ځنځير کې سره وتړل شي ، او په دې دول د دیوازني حاکم ګوند
ترڅارنې او کنټرول لاندې راشي ، او ګوندي عمال وکولی شي
خپل خاص غوره شوي مفاهیم او ارزښتونه پرې ومني . دغه
فکر په اصل کې د افغان د اجتماعي سيکالوجی مخالف او د لېنن د
دموکراتيکې - مرکزيت زېږنده و . که دولت ټينګ شوی وای يقين
دی چې د جامعې هره ډله خلک به د واکمن ګوند په سرواله تنظيم
شوي وای ، او په پای کې به د افغانانو عنعنوي آزادي او دعزت
او حيثيت شوند له مینځه تللی وای . خو ځنګه چې د افرادو تولونه
او تنظیمونه هغه هم د بوه ځانګړي ګوند په سرواله ، او د اجبار
او حاکميت له مخې که ممکنه هم شي ، د بېشمېره او حتی نه فکر کېدونکو
خرابيو او بديو منبع ګرځي ، د « خلقي دولت » دغه پروګرام
همدغسې نتائج مینځ ته راوړل او بېحده پاروونې وکړې چې له نورو
پاروونکو عواملو سره په ګډه يې هر افغان د نړه په تل کې نا ارام کړ او
له هغه سره جامعه له بېخه ولړزېده . په دې حساب سبایی د
دولت په بیا رغونې کې د افرادو رسمي تنظيمونه او تولونه تر اخري

حده کمه شي. او په هر حال د تنظیم بنیاد په هره سطحه او د هغو منظورو د پاره چې وي، پخپله د فرد په خوښه او رضا وي.

۵ - د غوايي تر کوډتا نه وروسته د پخواني دولت له منځه وړنه، او د نوي دولت رغونه د یوه ګوندي طرز له مخې پیل شوه او حاکم ګوند د ځان د پاره د جامعې د لوري وړکوونکي او لارې ټاکونکي نه ترسره کېدونکې او نا ممکنه وظیفه د ځان کړه. سمله لا نور تنظیمونه، ګوندونه، او غیر ګوندي لارې چارې باطلې ناسمې او مردودې وګڼل شوې، او د هغو په ځیلو او له منځه وړلو پیل وشو، په داسې حال کې چې پخپله واکمن ګوند هم چې د هایرارکي یا سلسله لرونکي طرز له مخې منځ ته راغلی و، له پاسه نه په ښکته په دستورونو او هدایتونو اداره کېده، نه د جرګې او مشورې د اصل له مخې په دې دول رسمي ګوند یوازې په اجتماعي حتی فردي چارو کې هم خپل ځان د جامعې اصلي وارث د حق او باطل نهایي ټاکونکی، د سمې او ناسمې لارې غوره کوونکی او په یوه کلمه عقل - کل ګاڼه او له خپل خاص نارم نه هر سړی غړوونکی یې د انقلاب - ضد په نامه تر آخره حده پورې ځپه. څنګه چې هیڅ سیاسي ګوند، نه د دغسې حق او نه د دغسې صلاحیت خاوند کېدلی شي، د کابل رسمي ګوند د پاره ممکنه نه وه چې

د ځان د پاره پخپله تا کلی دغه ماموریت کې بریالی شي . د انسانانو هیڅ کته ګوري په هرنامه چې یادیږي ، او په هر راز فکر چې معتقد وي ، دعمومي ارادې تمثیل نه شي کولی ، او ځکه چې په خلکو باندې دحکومت کولو مسئله په اصل کې د هغو په اعتماد ، د هغو او د حکومت ترمینځ په تفاهم او قرارداد پورې اړه لري ، هیڅوک په هر مقام کې چې وي ، مجاز نه دی نور انسانان د اجتماعي ژوند نه محروم کړي . دا به نهایت ساده ګي یا سرټوري وي چې فکر وشي ، چې جامعه به یوه کس ، یا څو تنو ، یا خپلې یوې برخې ته دغسې حق او صلاحیت ورکړي ، ځکه چې دغه کار نه په اخلاقي او حقوقي لحاظ جایز دی ، او نه په عمل کې ممکن . په آزادو انسانانو کې چې د ژوند تنظیمول د مدني او حقوقي معیارونو له مخې غواړي د فکر او عمل په دواړو ډګرونو کې له اپوزیشن او ګوندونو پرته نه خلاصی امکان نه لري ، مګر دا چې څوک د نورو مړیې کول او په فزیکي لحاظ د اپوزیشن له مینځه وړل په نظر کې لري د کابل کمونستانو په دغه عمل پیل وکړ ، خو سره له دې چې د روس غونډې ستر طاقت یې شاته ولاړ ؤ ، ناکام شو . دا چې همدغه او س حتی په ډېرو سختو او اضطراري حالاتو کې په هرې خوا کې د ننه ، د اپوزیشن او ګوندونو تعدد لیدل کیږي ، د همدغه حکم د پاره څرګند او نه انکارکیدونکي شواهد دي . د

ډلو ټېولو او ګوندونو تعدد ، او په نتيجه کې د اپوزيشن ډونډ، د افغانانو د اجتماعي ډونډ او د دوی د اجتماعي سيکالوجۍ خاصه ده . په دوی کې ګوندي اود مخالفت ډوند په ولسي او کليوالي سويه بنه عام دی - د دولت د بيا رغونې په وخت کې بنايي د غه حقيقت په کلکه په نظر کې ونيول شي .

۹ - په دغو ټېرو لسو کلونو کې کوم هغه څه چې په ملک کې يې په څرګند ډول بې ثباتي اوګډوډي راوستې ، او وروسته يې ټولنه له بيخه لړزولې ، په کودتايي عمل سره د ټولنې د سياسي واګې په لاس کې نيونه ده - په لنډې لاری سره سياسي قدرت ته د رسېدلو مثالونه د غه هم وو ، خو وروسته له هغه چې په عصري ملي دولتونو کې نوي نظامي تخنيکونه زيات شول ، او دايمي منظم پوځونه په هغو سمبال شول ، په تېره هغه وخت چې نظاميان په انقلابي مفکورو مجهز شول ، په دوی کې په کودتا سره د جامعې د لوړ قدرت نيولو هوسونه او حرصونه هم ډېر شول . په اسلامي نړۍ کې څه باندې دېرش کاله د مخه جمال عبدالناصر د کودتايي عمل سرمشق شو - په افغانستان کې سردار محمد داؤد په کال ۱۹۷۳ کې په نظامي کودتا سره قدرت ترلاسه کړ . چې نظاميان د ده سرمشق وګرځول ؛ څنګه چې د افغان د اردو زيات

شمېر منصبداران په شوروي کې تعلیمیافته شوي وو- کمونستي ګوندونو په اسانه په هغوکې نفوذ وکړ، او هغوی یې په انقلابي مفکوره مجهز او په خپلو ګوندونو کې تنظیم کړل. د غوایي کودتا په واقع کې د همدغو دوو عناصرو- کمونستي ګوند او نظامیانو- د ناخاپي او سملاسي ګوزار نتیجه شوه. د خلقیانو د شل میاشتني حاکمیت په وخت کې په ډېرو ناکامو کودتایي عملونو لاس پورې شو. کودتایي حکومت له ټولنې او خلکو نه تجرید، او سیاسي خلا ډېره ژوره شوه، تر څو بیا شوروي په افغانستان کې په نظامي کودتایي عمل لاس پورې کړ. خو شوروي هم و نشو کولی، سیاسي خلا له مینځه یوسي، او امنیت ټینګ کړي. برخلاف د شوروي په کودتایي عمل سره ناارامي تر هر وخت نه ډېره عمومي، ډېره شدیده، ډېره اوږده، او بین المنطقوي او حتی بین المللي شوه، او د افغان د مقاومت غورځنګ د وخت په تېرېدو سره د جهاد په نوي روح تر ټولو زیات پیاوړی، او سراسري شو، او جهاني حیثیت او اعتبار یې پیدا کړ.

د غوایي د کودتا نه لس کلونه تېر شوي دي- خو دغه یو واحد سیاسي نظام چې د ټولو افغانانو له ملاتړ نه بهره من وي، او اجتماعي نظم خوندي کړي، لا منځ ته نه دی راغلی. تر اوسه هم تخریبي پروسه په تعمیري پروسې پوره غالبه ده.

او دخدای تعالی (ج) مخلوقات په هره خوا کې لکه دمني دپاڼو په شان رژيږي، او ملک ورانيږي - داولې؟ دا ځکه چې د جامعې لوړه قدرت په اول کې يوې وړې ډلې په کودتايي عمل دلشدې، مگر لنډه پاړې لاړې نه د ځان د پاره انحصار کړې.

کودتا چيان او دقدرت انحصارچيان ځان ته دلايل لري. خو ددوی ټول دلايل د هغو انساني تلفاتو او نورو ورانيو په سبب چې دکودتايي عمل حتمي نتيجه وي، لکه څنګه چې تجربو ثابته کړې، په تېره هغسې چې افغانستان کې وليدل شول په هيڅ حربيږي، دا ځکه چې اجتماعي قدرت د سياسي قدرت په شمول په اصل کې په جامعې پورې تعلق لري؛ داپخپله دجامعې حق او صلاحيت دی، چې دغه قدرت اشخاصو يا ډلو ته تخصيص کړي. هره جامعه د قدرت تخصيصولو دپاره ځانله نوره مونه، دودونه، کانونشنونه، لارې چارې او ميکانزمونه لري، چې هغه ټول د پېړيو، پېړيو د اجتماعي تجاربو او کولتور محصول وي، د يوې ډلې له خوا د تولنې دغه حق، يعنې دجامعې لوړه قدرت، په ناڅاپي او کودتايي ډول د غصبولو او نيولو معنی داده چې دغه ډله دجامعې له رضايت نه داده نه ده، او دغسې عمل کوي، چې جامعه، يا د جامعې زياتره افراد ورسره

مخالف دي . همدغه سبب دی چې دکودتا په بریالي کېدو سره په جامعه کې تاو تريخوالي ترېخوا زيات اوشديد کېږي ، اوکودتا چيان په واقع کې د خلکو له دانه د دولتي ارګانونو په تېره د پوليسي نظاميانو ، جاسوسانو اوعاکمو له لارې د مخالفينو په ځپلو پيل کوي - په دغسې کال سره جامعه له بېخه لړزوله کېږي ، او رنګ رنګ اساسي زيانونه ورته متوجه کېږي - يوغټ زيان يې دادی چې دکودتا نه راپيدا شوی ګډوډي هيواد ( بيا هېوادونو ) د پاره دمداخلې پلمه اوچانس پيدا کوي ، لکه چې په افغانستان کې همدغسې وشول . په کودتايي عمل سره د جامعې د عالي واك نېونه له هغه عمل سره ورته ده ، چې يو باندنی هيواد دبل هيواد دولس اختيار او واکمني په زور سره غصبوي . لکه چې په عمل کې لېدل شوي د تولوعصري کودتاګانو هرچېرې دلندې يا اوږدې مودې د پاره په لږ او ډېر تفاوت سره اختناق تاو تريخوالی ، بندي توب ، جزاګانې ، محاکمې ، انساني ترور - نظامي حکومت ، استبداد او توتاليتيريزم شوی دی .

په انقلابونو کې هم حال همدغسې وي ، حتی د فرانسې په لويه انقلاب کې چې انقلابيونو سترنوموړی ، او ساده لوحانو هم ورسره منلې ، په لس ګونو زره انسانان له مينځه تللي دي - راديکال او انقلابي روبسپير په يوې دورې کې محض په ترور

سره حکومت کاوه ، ده بېخسا په انسانان په ګیلوتین سره له
مینځه یووړل ، تر څو په پای کې په خپله ګیلوتین شو . دا چې فرانسې
دغرنجې نړۍ ته د نوړو ړسېدلو هېوادونو په تناسب ستر دي
نږدې وختونو پورې سیاسي ثبات نه لاره ، تر ډېرې اندازې د
همدغه په اصطلاح ستر انقلاب میراث و . د شوروي انقلاب
په اوله کې په لږو انساني تلفاتو سره بریالی شو . خو وروسته له
هغه چې لینن د ۱۹۱۸ کال په جنورۍ کې د مؤسسانو نوې
انتخاب شوې مجلس په خپل ګوزناني عمل سره وځپه ، ځکه چې
د هغه خپل ګوند په دغه مجلس کې یوازې څلورمه برخه نماینده ګان
لرل ، روسانو ته څرګنده شوه چې لینن د خلکو د اکثریت په
خلاف غواړي په خپل واړه ګوند سره حکومت وکړي ، او -
واکمني پس د خپل دغه واړه ګوند د پاره منحصره کړي ، که څه هم په
هغه یې د بلشویکي یعنې اکثریت نوم ایښی و . په نتیجه کې
عمومي مخالفت او داخلي جنګ پیل شو . خو لینن د جامعې
دواک له منحصر کولو ، متمرکز کولو نه ، چې د حالاتو مسؤل بلل
کېده ، وا نه وښت ، او په دې ډول په جامعې کې د ناو
نږیخوالي اصلي منبع په ځای پاتې شوه . وروسته ستالین
له هغې نه اعظمي ناوړه استفاده وکړه . نه یوازې یې د کولاکانو
په نامه یې په لکونو لکونو نسبتاً شتمن بزګران او بزګران له مینځه

یووړل، بلکه په زرګونو سیاسي مخالفان ، او حتی د مرکزي کمیټې زیاتره غړي یې هم ووژل . د شوروي جامعه له بېخه ولړزېده ، چې تر اوسه هم له سیاسي ثبات نه بهره منه شوې نه ده . وروستیو روسانو د ملامتیه ګوته ستالین ته ونیوه - خو په دې تازه وختونو کې په ځینو په لېنین باندې هم انتقادونه وشول، او س یو شمېر شوروي کمونستان وایي چې په اصل کې لېنین و، چې وران سیاسي سیستم یې په جامعې کې برقرار کړ ، چې ستالین او ستالینیزم د هغه منطقي محصول شو . بله ورځ ممکن د شوروي کمونستان په مارکس باندې هم بې باوره شي ، ځکه چې په اصل کې په لېنین او مارکس د کړه او لیکنو له مخې له جامعې نه عالي واک د دولتي ارګانونو له لارې د انقلاب په نامه یو ګوند ، او په یوه ګوند کې یا سېنو څو کسو ، او حتی د یوه کس نه منحصر شوی و ، په دې د ول د غـــــــــې اساسي وراني نه یوازې د کودتا بلکه د انقلاب نتیجه هم وي ، لکه چې پوهاند داکتر سید بهاءالدین مجروح لیکلي دي چې « چون انقلاب خواهي نخواهي زور و تشدد است و چون انقلاب هدف خود را در نفس خود دارد، از اینجا انقلاب ناچار است در مقام دهشت ساکن گردد و هرگز نتواند ، گامی از آن فراتر گذارد - بدینگونه نظام دهشت دایمی را بر جان و تن ادمی جاری میسازد و قدرت مطلق را

بر مسند فرمانروائی مینشاند و این قدرت مطلق دهشت آفرین همان اژدهای روایات پیشین است که بر شهری مسلط میگردد و باشندگان ناخود آگاه آنرا میبلعد و در خود فرومیبرد.»

په دغو تکو څخه بحث یرخه اوږد شو، چې هغه د جامعې په سیاسی ژوند کې بیخي اساسي اهمیت لري. بنا پی ټول هغه افغانان چې د افغانستان د ملي حکومت، او په عمومي مفهوم، د وطن د سیاسي او اجتماعي نظام په بیا رغونې کې رول لري، هغه په ټینګه په نظر کې ونیسي او د دغې نظام د ځای په ځای کولو د پاره زیار وباسي چې د ټینګښت، او پایښت احتمال یې زیات، او په هرحال کوټا پروف وي. او س د وطن د لبرې لید ونکو سیاستمدارانو د پاره د دغو بې شماره مصیبتونو په نتیجه کې دغسې فرصت په لاس شوی چې کولی شي د کوټا پروف ټینګ سیاسي نظام د رغولو د پاره بیخي دېرې لارې چارې ولټوي او هغه ترېنه غوره کړي چې مطلوب، د تطبیق وړ، او زموږ د وطنوالو له غوره ارزښتونو سره موافقې وي. تجاربو ثابته کړې چې د سیاسي نظام په رغونې کې کله چې د جامعې دغوغ اکثریت، یا تر هغه لا هم سپه د ټولو خوښه او نظر په رښتیانی دول په نظر کې نیول شوي وي، د دغسې نظام پایښت، ټینګښت دوام او ګټورتوب یقیني او خوندي وي. د افغان لویانو

د پاره اوس د ربښتنی ستر توب او تلپاتی نامه وخت رسیدلی دی.
په ټولو انسانانو کې دا یوقوي دود دی چې کوم هغه اشخاص چې د خپل ولس د پاره ټهینګ او پوخ سیاسي تاداو بندي، د تل د پاره ستایل کیږي.

۷ - په پای کې تر هرڅه زیات چې باید د دولت د بیا رغولو په وخت کې په کلکه په نظر کې ونیول شي، د فردي او انساني شروند قیمت او ارزښت دی.

انساني ټولنې (جامعه، ګوند، کمیټه، طبقه او داسې نور) له افرادو نه جوړې وي او په نهایت کې په افرادو تحویل موجي - په بل عبارت افراد (زه، ته، هغه او بل) د انساني ټولنو بیخ او - بنسټ جوړوي - له دې امله څوک چې د جامعې د پاره خدمت کول غواړي، په حقیقت کې افرادو ته خدمت کوي - معکوساً څوک چې افراد قربانوي، په اصل کې جامعه تخریبوي. د دغه فکر زیاتونه اوس ټولو ته په عمل کې ثابت شوی چې وایي چې د جامعې په مقابل کې افراد ارزښت نلري - د دغه فکر خاوندان بس د ځان د پاره د حاکمانه حاکمیت په فکر کې وي او د خپل حاکمیت د پاره د خپلو مخالفانو یا اپوزیشن د محو کولو د پاره منطق پیدا کوي، او انسانان له مینځه وړي، د رسته ده چې انسانان جرمونه کوي او باید د هغو په مقابل کې سزا وویني. خو څنګه چې انساني شروند

له دې امله مقدس دی چې خدای تعالی (ج) فرمایي: انی جاعلٌ في الأرض خلیفه یعنې زه په ځمکه باندې (انسان) خلیفه گرځوم، او څنګه چې په قدسي حدیث کې راغلي چې ان الله خلق ادم علی صورته یعنې خدای (ج) انسان په خپل صورت خلق کړ، د جامعې په مقابل کې د جرم د تثبیت د پاره مدني او شرعي محکمې جوړې شوې وي، چې په هغو کې به توړن د ثقه او مسلمو شواهدو له مخې محاکمه کېږي. له دغې لارې غیر هیڅوک حتی د جامعې د سروال او اولی الامر په شمول حق نه لري په هر نامه چې دي فرد یعنې انسان له مینځه یوسي. د انساني ژوند د همدغه تقدس له سببه ده چې بې له محاکمو د حکم نه د انسانانو د له مینځه وړل د ژوند د انه په عملي ډګر کې نهایت خطرناک عواقب لري، چې غټ خطر یې دا دی چې په هغه سره په تېره په انساني جامعې کې د انتقام او بدل رواج عمومي او دایمي کېږي، په نتیجه کې جامعه له بیخه لړزوله کېږي. د دولتي ارګانونو په قوت سره حتی د انسان سپکول او کوچني کول هم جامعه په اساسي دول زیانمنه کوي لکه چې جان ستوارت مل نامتو انګلیس فیلسوف سل کاله دمخه ویلي دي « په اوږده موده کې د دولت ارزښت د هغو افرادو ارزښت دی چې دولت ترینه جوړ دی. کوم هغه دولت چې افراد کوچني کوي د دې د پاره چې هغوی د هغه د لاس آرامی وسیلې

وګرځي، که څه هم د ګټورو هدفونو د پاره وي ، و به موږ چې په ورو انسانانو سره یې سرته کاروونه په رښتیا چې تر سره نه شي .»

د دې د پاره چې افراد سرته ورګرځي باید جامعه د غسې نظام ولري چې په هغه سره انسان خپل استعداد او ظرفیت ته تر نهایي حد پورې انکشاف ورکولی وشي . دغه کار هغه وخت ممکن کېدلی شي چې د نوم چامسکي په فکر « د ټولنې بیا رغونه باید هغسې لارې چارې ولټوي چې ایجادوونکې محرک ازاد کړي ، نه دا چې دواك او قدرت نوي شکلونه مینځ ته راوړي .» د فرد د همدغه ارزښت په سبب وو چې د منځنۍ ختیځ په لرغونو قوانینو کې انساني ژوند ته په دغسې لوړ نظر کتل شوي چې وایي « هر هغه څوك چې یو ځانګړی ژوند ژغوري ، دا سې ده چې لکه ټول جهان یې ژغورلی وي ، او هر هغه څوك چې یو ځانګړی ژوند له مینځه وړي ، لکه چې ټول جهان یې له مینځه وړی وي .» د همدغه فکر له مخې ده چې جرمنی تلپاتې فیلسوف ایمانویل کانت په دې عقیده وُ چې « هیڅ انسان باید د بل انسان د هدفونو د پاره اله ونه ګرځول شي .» د ژوندانه په عملي ډګر کې د دغه فکر د رښتینت ازمویل شوي او ثابت شوي دی . کله او چېرته چې هدف ته ( که هر څومره عالي هم وي ) د رسیدلو لار غیر اخلاقي او غیر انساني لار غوره

شوي آزادي خپلول په ناآزادي توب، اخلاقي کول په غیر اخلاقي توب، او انساني کول په انساني توب منتهي شوي دي. د کابل کمونستانو د خپل حاکمیت د ټینګولو په خاطر همدغسې وکړل، یعني انسانان یې د خپلې فلسفې له مخې د خپل هدف ته د رسیدلو دپاره اله وګرځول او بې توله قرباني کړل. دوی د چنګیزخان په دغه فکر عمل وکړ چې ویل یې «دښمنان لاندې کړئ، په خپل مخ کې وځغلوئ، شته یې د ځان کړئ، هغوی چې ورته ګران دي، په ژړا کړئ، په اسونو یې سپاره شئ، او ښځې او لوڼې یې په غېږ کې ونیسئ.» د کمونستانو د دغه فکر او چلند نتیجه څه شوه؟ یوه ستره انساني فاجعه. د دوی د حاکمیت په دوره کې تر اوسه د افغانستان له پنځلس نیمو میلیونو انسانانو څخه هر لسم یې وژل شوی، هر دریم یې په فرار مجبور شوی، لس تر لس زره پنځوس زره انسانان د انقلاب ضد په تور په کابل کې اعدام شوي، بېشمېره انسانانو بند تېر کړی؛ د مالي تاوانونو حساب خو یې هډو امکان نه لري. ټول افغانان ناآرام او نامصئون دي. (فاعتبروا یا اولی الابصار) - نو ښایي ټول مسلمانان، او په واقع کې ټول انسانان په شخصي او اجتماعي ژوند کې د دغه قرآني ایت په کلکه په نظر کې ولري چې وايي ولقد کرمنا بني آدم.

پای

جون ۱۲، ۱۹۸۸

# ضمایم

# د ژنیو د موافقه لیکونو پوره

# متن

## ( ۱ )

د دوه اړخیزو، په تېره د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصولو په هکله د افغانستان د جمهوریت، او د پاکستان د اسلامي جمهوریت ترمینځ دوه اړخیز موافقه لیک

د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت، چې له دې وروسته لوړ تړون کوونکي لوري یادیږي ،

( په داسې حال کې چې ) غواړي اړيکي عادي کړي ، او سره ګاونډيتوب او همکاري په مخ بوځي ، او همدا راز په سيمه کې بين المللي سوله او امنيت پياوړی کړي ؛

( په داسې حال کې چې ) فکر کوي چې د دولتونو په دننيو او بهرنيو چارو کې د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصل پوره رعايت د بين المللي سولې او امنيت د ساتنې او د ملګرو ملتونو د منشور د هدفونو او اصولو د ترسره کونې د پاره خورا ډېر اهميت لري ؛

( په داسې حال کې چې ) د دولتونو مسلم حق بيا تائيدوي چې په آزاد دول د خپلو ولسونو د ارادې په مطابق ، بې له بهرنۍ مداخلې ، لاس وهنې ، وړانګارېدنې او اجبار نه په هر شکل چې وي ، خپل سياسي ، اقتصادي ، کولتوري ، او اجتماعي سيستمونه وټاکي ؛

( په داسې حال کې چې ) د ملګرو ملتو منشور موادو ، او همدا راز هغو پريکړو ليکونو ته چې د ملګرو ملتونو له خوا د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصل ، په تېره د ملګرو ملتو د ۱۹۷۰ کال د اکتوبر ۲٤ د منشور په مطابق چې د دولتونو ترمينځ د دوستانه اړيکو او همکارۍ په ارتباط د بين المللي حقوقو د اصولو په باب نيول شوې دی ، او همدا راز د

دولتونو په د ننیو چارو کې د مداخلې او لاس وهنې نه منلتوب
په باب د ۱۹۸۱ کال د ډسمبر نهمې اعلامیې ته ، متوجه
دي ؛

په لاندې ډول موافقه کړېده :

## لومړۍ ماده

دلوړو تړون کوونکو لوړو ترمینځ اړیکې به د نورو دولتونو په چارو کې د دولتو له خوا د نه مداخلې او نه لاس وهنې د اصل د دقیق رعایت له مخې اجراء کیږي .

## دوهمه ماده

د نه لاس وهنې او نه مداخلې د اصل د عملي کولو په مقصد هر لوړ تړون کوونکی لوړی ژمنه کوي چې له لاندې وجایبو سره موافقه کوي چې :

۱ — د بل لوړ تړون کوونکي لوړي واکمني ، سیاسي خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا ، ملي اتحاد ، مصئونیت او ناپیيلتوب ، او همدا راز د هغه د ملي پېژندګلوۍ او کولتوري میراث درناوی کوي .

۲ — د تړون د بل لوړ لوړي د واکمن او مسلم حق

درناوی کوي ، چې خپل سیاسي ، اقتصادي ، کولتوري ، او ټولنیز سیستمونه په ازاد ډول وټاکي ؛ خپلو بین المللي اړیکو ته انکشاف ورکړي ، او د خپلو خلکو په خوښه او بې له باندنۍ لاس وهنې ، مداخلې ، ورانکاریو ، اجبار ، یا بل هر رنګ ګواښ نه پرته په خپلو طبیعي منابعو باندې له خپلې همیشنۍ واکمنۍ نه کار واخلي ؛

۳ - د ګواښ یا د قوې له استعمال نه په هرې بڼه چې وي ډډه کوي ، چې د یوه سرحدات نقض نه کړي ، د بل لوړو تړون کوونکي لوري سیاسي ، اجتماعي ، یا اقتصادي نظم ورېجار نه کړي ، د لوړ تړون کوونکي لوري سیاسي طرز نسکور یا بدل نکړي ، یا د هغه حکومت چپه نه کړي ، یا د لوړو تړون کوونکو لورو ترمینځ کړکیچ پیدا نه کړي ؛

٤ - دا د ورکوي چې د هغه له خاورې نه به هیڅ ډول داسې کار نه اخیستل کیږي ، چې د بل لوړ تړون کوونکي لوري واکمني ، سیاسي خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا ، او ملي اتحاد نقض کړي ، یا یې سیاسي ، اقتصادي ، او اجتماعي ثبات وران کړي ؛

۵ - ډډه کوي له وسله والې مداخلې ، ورانکاریو ، نظامي اشغال ، یا له بل هر راز مداخلې ، لاس وهنې ، بنسکاره وي

یا بې چې بل لوړ تړون کوونکي لوړي ته متوجه وي ، یالاړ هغه سیاسي او نظامي عمل یا اقتصادي مداخلې نه د بل لوړ تړون کوونکي لوړي په دننیو چارو کې ، په شمول د هغو انتقامي اعمالو چې د قوې استعمال پکې شامل وي ؛

۶ - ډډه کوي له هر هغه عمل او کوښښ نه په هر شکل یا په هره بڼه چې وي چې د بل لوړ تړون کوونکي لوړي ثبات یا د هغه له موسساتو نه یوه ګډوډه وډه یا ورانه کړي ؛

۷ - د بل لوړ تړون کوونکي لوړي پرضد د ګډوډۍ پیدا کوونکو او بېلتون غوښتنې فعالیتونو سره په هره بڼه چې وي ، یا له هر بل عمل نه وي ، چې مقصد یې د بل لوړ تړون کوونکي لوړي اتحاد ړنګول یا د سیاسي نظم ورانول وي ، له مسلو ، هڅولو ، یا ملاتړ نه ډډه کوي ؛

۸ - په خپله خاوره کې د دننه د اجیرانو د جلبولو ، تمویلولو وسله وال کولو ، او روزلو څخه منعه کوي ، له هرې منبع نه چې وي چې مقصد یې د بل لوړ تړون کوونکي لوړي پرضد د دښمنۍ فعالیتونه وي ، یا مقصد یې د بل لوړ تړون کوونکي لوړي خاورې ته د همدغسې اجیرانو استول وي ، او د دغه په قول دغسې اجیرانو ته د اسانتیاوو

نه انکار روي په شمول د تمویلولو، روزلو، وسله وال-
کولو، او انتقال په مقصد؛

۹ - د ده کوي له نورو دولتونو سره د دغسې ترونونو له کولو، او ترتیبونو له نیولو نه، چې مقصد یې د بل لوړ ترون کوونکي لوري په دننیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه او مداخله وي؛

۱۰ - د بل لوړ ترون کوونکي لوري په دننیو او بهرنیو چارو کې د بد نومه کولو د مبارزې، دروا غجني یا دښمنۍ نه ډک پروپاګند له کولو نه ډډه کوي؛

۱۱ - د بل لوړ ترون کوونکي لوري پر ضد د ورانکارو یا ورانکارۍ اجنټانو سره د مرستې د ورکولو، یا (دهغوی) د استعمال یا تحمل نه ډډه کوي؛

۱۲ - دننه په خپلې خاوره کې د بل لوړ ترون کوونکي لوري په سیمه کې د ورانکارۍ د پیدا کولو، بې نظمي یا ګډوډۍ جوړولو په مقصد په کامپونو، او مرکزونو کې د افرادو او سیاسي، اتنیکي او نورو ډلو د موجودیت، پناه ورکولو یا روزلو، تمویلولو، مجهز کولو، او وسله وال کولو مخنیوی کوي؛

۱۳ - په داسې عمل لاس پورې نه کړي، یا داسې عمل ته

اجازه ورنه کړي ، چې هغه لاس وهنه او مداخله کښل کیدلی شی .

## دریمه ماده

دغه موافقه لیک به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذیږي.

## څلورمه ماده

د دې دپاره چې لوړ تړون کوونکی لوړي په دې وتوانوي چې د دغه موافقه لیک د دوهمې مادې له شرایطو سره توافق وشي ، هر هغه تغییر چې لازم کښل کیږي ، څوا له هغې نیټې دې راوړل شي ، چې دغه موافقه لیک نافذیږي.

## پنځمه ماده

دغه موافقه لیک د انګریزي ، پښتو ، او اردو په ژبو کې کښل شوی ، او ټول متنونه په برابره اندازه سم دي . د تعبیر د اختلاف په حال کې د انګریزي متن د اعتبار وړ دی.

په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د اپریل په دغې څوارلسمې کې په پنځو اصلي نسخو کې وشوه .

د افغانستان د جمهوریت د حکومت د پاره          د پاکستان د
اسلامي جمهوریت د حکومت د پاره

( ۲ )

# د بین المللي تضمینونو اعلامیه

د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو د اتحاد د حکومت او د امریکې د متحده دولتونو حکومت خپل ملاتړ ښکاره کړی دی چې د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي دولت د مذاکرو له لارې سیاسي فیصلې ته رسیدلي چې مقصد یې د دواړو هیوادونو ترمینځ د اړیکو عادي کول ، او د ښه ګاونډیتوب پرمخ بیول ، او په همدې ډول په سیمې کې د بین المللي سولې او امنیت خوندي کول دي .

غواړي په خپل نوبت د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت له هغو هڅو سره چې یې د ځان د پاره تاکلي ، او په دې نظر چې د دوی واکمنی ، خپلواکی ، ځمکنی بشپړتیا او ناپیيلتوب له کارنامو سره مرسته وکړي

ژمنه کوي چې د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت په کورنیو چارو کې په قطعي ډول د دوه اړخیزو اصولو، په تېره د نه مداخلې او نه لاس وهنې په اساس د مداخلې او لاس وهنې له هر ډول شکل نه ډډه وکړي.

له نورو دولتونو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې همدغسې وکړي.

دغه اعلامیه به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذیږي.

د ۱۹۸۸ د اپریل په دغې څوارلسمې ورځ په پنځو اصلي نسخو کې، هره یوه یې په انګریزي او روسي ژبو کې وشوه او دواړه متنونه په یوه اندازه سم دي.

- د امریکې د متحده دولتونو د حکومت د پاره
- د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو د اتحاد د حکومت د پاره

## ( ۳ )

## د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي

# دولت ترمینځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدو په باب موافقه لیک

د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت
چې له دې وروسته لوړ تړون کوونکي لوري یادیږي ،
( په داسې حال کې چې ) غواړي اړیکې عادي کړي
او ښه گاونډیتوب او همکاري په مخ بوځي ، او همدا راز بین-
المللي سوله او امنیت خوندي کړي ،
( په داسې حال کې چې ) په دې باور لري چې
وطن ته د مهاجرو د بې خنډه او په خپله خوښه ستنیدل نه
د افغان مهاجرو د مسئلې د پاره چې اوس د پاکستان په
اسلامي جمهوریت کې اوسي ، د حل تر ټولو مناسبه لاره
تشکیلوي او ( وروسته له دې چې ) دا یې معلومه کړې چې
دغه ترتیبات د افغاني مهاجرو د ستنیدو د پاره دوی ته
د قناعت وړ دي ،
په لاندې دول موافقه کړېده :

## لومړۍ ماده

ټولو افغاني مهاجرو ته دې چې دغه وخت د پاره د پاکستان

په اسلامي جمهوریت کې دي ، موقع ورکړه شي ، چې دهغو ترتیباتو او شرایطو له مخې چې په دغه موافقه لیک کې ټاکل شوي دي ، په خپله خوښه خپل وطن ته ستانه شي .

## دوهمه ماده

د افغانستان جمهوریت حکومت دې لازمي اقدامات وکړي چې خپل وطن ته د افغان مهاجرو دخپلې خوښې ستنېدنې د پاره لاندني حالات برابر کړي :

الف - ټولو مهاجرو ته دې اجازه وي چې وطن ته په ازاد ډول ستانه شي

ب - ټول مهاجرین دې د افغانستان د جمهوریت په داخل کې د هستوګنځي ازاد انتخاب او د حرکت آزادي ولري .

ج - ټول بېرته ستنېدونکي دې د کار کولو حق ، د ژوند د کافي شرایطو حق ولري ، او د دولت په هوساینې کې برخه ولري .

د - ټول مهاجرین دې حق ولري د افغانستان د جمهوریت په مدنی چارو کې د برابرتیا له مخې ګډون وکړي . دوی ته دې د محلی او اوبو

د اصلاح په اساس د مخکې په مسئله کې برابرې ګټې یقیني شي .

ذ - ټول مهاجرین دې د افغانستان د جمهوریت د نورو مدني افرادو په شان بې له توپیر نه د دین د ازادۍ په شمول یو شان حقوق او امتیازات او یو شان مسئولیتونه او وجایب ولري .

## دریمه ماده

د پاکستان اسلامي جمهوریت حکومت به د ټولو افغاني مهاجرو د پاره چې په خاوره کې یې اوسي ، وطن ته د خپلې خوښې ، په نظم او ارامۍ سره ستنیدنه اسانه کوي او د امکان په حدودو کې د ننه په غاړه اخلي چې وطن ته د ستنیدو په پروسه کې ټولې لازمې مرستې برابروي .

## څلورمه ماده

د هغو عملیاتو د تنظیمولو ، منسجم کولو او څارلو په مقصد چې د افغاني مهاجرو د خپلې خوښې ، په نظم ، او سوله ییزې ستنیدنې سره مرسته کوي ، د بین المللي ثابت شوي معیار له مخې ګډ کمیسیونونه جوړ شي . د دغو کمیسیونونو

غړو او کارمنو ته به د دوی د دندو د تر سره کولو د پاره لازمي اسانتیاوې برابرې شي او (د دوی د پاره به) د لوړو تړون کوونکو لوړو په سیمو کې د ننه مربوطو ځایونو ته د تګ اجازه وي .

## پنځمه ماده

دغه کمیسیونونه به د بېرته ستنېدو د با نظم حرکت په نظر کې نیولو سره په سرحد کې د اوښتو ځایونه ټاکي او د انتقال لازمي مرکزونه به تثبیتوي . دوی به د مهاجرینو د مرحله په مرحله ستنېدو د پاره د کارونو ټولې طریقې (طرزونې) برابروي چې په هغو کې به وطن ته د ستنېدو په غرض د مهاجرو نومونه لیکي ، او د هغو په باب چې غواړي وطن ته ستانه شي ، خبر ورکول کیږي .

## شپږمه ماده

داړوندو حکومتونو په غوښتنه به د مهاجرو د پاره د ملګرو ملتونو لوړ کمشنري ( UNHCR ) د دغه موافقه لیک له مخې وطن ته د مهاجرو د خپلې خوښې د ستنېدو په عملیه کې همکاري کوي او مرسته به ورکوي . د دغه مطلب د پاره

ممکن د مهاجرو د ملګرو ملتونو د لوړې کمشنرۍ او د لوړو تړون کوونکو لوړو ترمینځ کوم خاص توافق هم وشي .

## اوومه ماده

دغه توافق لیک به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذ شي ، په دغه وخت کې به ګډ کمیسیون چې په پنځمه ماده کې یې یادونه شوې جوړ شوی وي ، او د دغه موافقه لیک له مخې به د مهاجرو د خپلې خوښې ستنېدو عملیات پیل شي .

هغه ترتیبات چې په پورته څلورمې او پنځمې مادې کې یاد شوي دي ، د اتلسو میاشتو د پاره به اغېزمن وي . له دغې مودې وروسته لوړ تړون کوونکي لوړي به وطن ته د ستنېدو نتایج تر کتنې لاندې نیسي ، او که لازمه شي ځینې نور ترتیبات به ونیسي ، چې ورته اړه وي .

## اتمه ماده

دغه موافقه لیک د انګریزي ، پښتو او اردو په ژبو کښل شوی - ټول متنونه یو شان سم دي . د تعبیر د توپیر په حال کې به د انګریزي متن د اعتبار وړ وي .

په ژینو کې په پنځو اصلي نسخو کې د ۱۹۸۸ د اپریل

پدغې خوا رسمي وشو.

- د افغانستان د جمهوريت د حکومت د پاره
- د پاکستان د اسلامي جمهوريت د حکومت د پاره

(٤)

# افغانستان پورې مربوط حال د فيصلې د پاره د خپل مينځي اړيکو په باب موافقه ليک

١ - هغه ډيپلوماتيکي پروسه چې د ملګرو ملتو د عمومي منشي په نوښت، او د ټولو اړوندو حکومتونو په ملاتړ مينځ ته راغلې وه، او مقصد يې په خبرو سره د افغانستان په هکله حال د فيصلې د پاره وه، په بريې سره پای ته ورسيده.

٢ - (په داسي حال کې چې) موافقه يې کړې ده، چې د يوې جامعې فيصلې په لوړ کار وشي، چې هدف يې د مربوطو مسايلو حل کول، او د ښه ګاونديتوب او همکارۍ د پاره د يوه چوکاټ جوړول وي، د افغانستان د جمهوريت حکومت او د پاکستان اسلامي جمهوريت حکومت د سرمنشي د خاص استازي له لارې په ژنيو کې

۱۹۸۲ د جون له ۱۶ نه ۲٤ پورې خبرې وکړې . دغه خبرې
له هغو مشورو وروسته چې د خاص استازي له خوا د ۱۹۸۳
د جنورې له ۳۱ نه د فبروري تر ۷ پورې په اسلام آباد ، کابل
او تهران کې وشوې په ژنیو کې د اپریل له ۱۱ نه تر ۲۲ پورې
او د ۱۹۸۳ د جون له ۱۲ نه تر ۲٤ پورې اوږدې شوې .
خاص استازی بیا د لوړې - سطحې مشورو په غرض د ۱۹۸٤
د اپریل له ۳ نه تر ۱۵ پورې سیمې ته سفر وکړ . بیا نو موافقه
وشوه چې د خبرو فورمات ( شکل ) دې واړول شي ، او د
هغه له مخې د خاص استازي له خوا سیمې ته د ۱۹۸۵ د مې
له ۲۵ نه تر ۳۱ پورې بل سفر نه وروسته د غیر مستقیمو
خبرو بلې دورې په ژنیو کې د ۱۹۸۵ د جون له ۲۰ نه تر ۲۵
پورې ، د اگست له ۲۷ نه تر ۳۰ پورې او د دسمبر له ۱۶
نه تر ۱۹ پورې دوام وکړ . خاص استازی د ۱۹۸۶ د مارچ
له ۸ نه تر ۱۸ پورې د مشورو په غرض بل سفر وکړ . د خبرو
وروستی پړاو چې په ژنیو کې د غیر مستقیمو خبرو په شکل د ۱۹۸۶
د مې په ۵ پیل شو ، د ۱۹۸۶ د مې په ۲۳ وځنډول شو ، او
د ۱۹۸۶ د جولای له ۳۱ نه د اگست تر ۸ پورې له سره پیل
شو . خاص استازي بیا د نورو مشورو په غرض د ۱۹۸۶
د نومبر له ۲۰ نه د دسمبر تر ۳ پورې سیمې ته سفر وکړ ، او

د ژنیو خبرې بیا د ۱۹۸۷ د فبرورۍ له ۲۵ نه د مارچ تر ۹ پورې وشوې، او د ۱۹۸۷ د دسمبر له ۷ نه تر ۱۱ پورې له سره پیل شوې. خاص استازي بیا د ۱۹۸۸ د جنورۍ له ۱۸ نه د فبرورۍ تر ۹ پورې سیمې ته سفر وکړ. او خبرې په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د مارچ له ۲ نه د اپریل تر ۸ پورې له سره ونیول شوې. بیا وخت چې د فیصلې مشمول سندونه تکمیل شول، د ۱۹۸۸ د اپریل په ۱۴ د خبرو فورمات وانهول شو، او د هغه له مخې په دغه پړاو کې خبرې په مستقیم ډول وشوې. د ایران اسلامي جمهوریت د دغې دیپلوماتیکې پروسې په ټول جریان کې د خبرو له پرمختګ نه باخبره ساتل کېده.

۳ - د افغانستان د جمهوریت حکومت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت حکومت په مذاکرو کې په دغه څرګنده عقیده ګډون وکړ، چې دواړه د ملګرو ملتو د منشور له مخې د خپلو حقوقو او وجایبو په مطابق عمل کاوه، او سره موافقه یې وکړه چې د دغه سیاسي فیصله باید د بین المللي حقوقو په لاندې اصولو بنا وي:

- هغه اصل چې دولتونه به په خپلو بین المللي اړیکو کې د هیڅ دولت د خاورې بشپړتیا، یا سیاسي خپلواکۍ پرضد، یا په هره بله طریقه چې د ملګرو ملتو له هدفونو سره تناقص ولري

له ګواښ یا د زور له استعمال نه ډډه وکړي

- هغه اصل چې دولتونه باید خپلې بین المللي کشالې د سولې له لارې په داسې طریقې هوارې کړي چې بین المللي سوله، او امنیت او عدالت په خطر کې نه شي

- هغه وجیبه چې د ملګرو ملتونو د منشور په قرار د بل دولت په هغو چارو کې چې د قانوني صلاحیت د ننه یې وي، مداخله ونه شي.

- د دولتونو هغه وجیبه چې د ملګرو ملتونو د منشور له مخې له یو بل سره همکاري وکړي

- د ولسونو د خود ارادیت او برابرو حقونو اصل.

- د دولتونو د واکمنۍ د برابرۍ اصل.

- هغه اصل چې دولتونه باید خپل هغه وجایب چې د ملګرو ملتو د منشور په مطابق یې په غاړه اخیستي، په ښه نیت سره تر سره کړي.

دواړه حکومتونه خپل هیواد و ته په خپله خوښه او بې له خنډ نه د افغاني مهاجرو بیرته تګ بیا تائید کړ.

٥٤ — دغه لاندې سندونه د سیاسي فیصلې د تکمیلوونکو برخو په حیث په دغه نېټه لاسلیک شول . د افغانستان

جمهوریت، او د پاکستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو په تړه د نه مداخلې او نه لاس وهنې په باب دوه اړخیزه موافقه لیک.

د شوروي اتحاد د سوسیالستي جمهوریتونو او د امریکې د متحده دولتونو له خوا د بین المللي تضمیناتو په باب اعلامیه.

د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت ترمنځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک.

د افغانستان پورې مربوط حال د فیصلې د پاره د خپل منځي اړیکو په باب د غه موافقه لیک.

۵ – د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو په تړه د نه مداخلې او نه لاس وهنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک؛ د شوروي اتحاد د سوسیالستي جمهوریتونو او د امریکې د متحده دولتونو له خوا د بین المللي تضمیناتو په باب اعلامیه؛ د افغانستان جمهوریت او د پاکستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدنې په باب دوه اړخیز موافقه لیک؛ او د افغانستان پورې مربوط حال د فیصلې د پاره خپل منځي اړیکو په باب

دغه اوسنی موافقه لیک به د ۱۹۸۸ د مې په ۱۵ نافذیږي.

دهغه نښته ییز چوکاټ په قرار چې د شوروي اتحاد سوشلستي جمهوریتو او د افغانستان جمهوریت ترمینځ پرې موافقه شوې باندنۍ لښکرې به پړاو په پړاو ایستلې کیږي چې په هغې نیټې به پرې پیل کیږي چې په نافذیدو یې، لکه چې پاس یې ذکر شوی، موافقه شوې ده. د دغو لښکرو نیمايي به د ۱۹۸۸ د اګست تر ۱۵ پورې وایستل شي، او د ټولو ایستنه به په نهو میاشتو کې د ننه تکمیله شي.

۶ — د خپل مینځي اړیکو په بوزړه پنځمې فقرې باندې د دې د پاره موافقه شوې چې د سیاسي فیصلې مقصد په اغیزناك ډول ترسره شي، یعنې چې د ۱۹۸۸ د مې له ۱۵ نیټې نه وروسته به د (ترون کوونکو) لوړو په چارو کې په هیڅ شکل مداخله او لاس وهنه نه وي، بین المللي تضمینونه به عملي کیږي؛ خپل وطن ته به د مهاجرو په خپلې خوښې ستنیدنې پیل وشي، او د هغه نښته ییز چوکاټ د ننه به تکمیل شي چې د مهاجرو د خپلې خوښې ستنیدنې په موافقه کې مشخص شوی، او د باندنیو لښکرو پړاو په پړاو وتلو به پیل وشي، او د هغه نښته ییز چوکاټ د ننه به تکمیل شي چې په پنځمې فقرې کې یې ذکر شوی دی، نو دا اساسي خبره ده چې ټول هغه وجایب چې د فیصلې د —

د تکمیلوونکو اجزاوو په حیث له لاس لیک شویو سندونو څخه راولاړیږي ، په دقیق ډول ترسره شي ، او ټولې هغه مرحلې چې د پوره توافق د یقیني کولو دپاره ضروري دي ، د سندونوله ټولو موادو سره په ښه نیت تکمیل شي .

۷ - د ادعا شویو سرغړونو د کتنې او د هغو کشلو د سملاسي او دوامدارو لوړوته د قناعت وړ حل د پیدا کولو دپاره چې ممکن د فیصلې د تکمیلوونکو سندونو د عملي کېدو په بهیرکې پیدا شي ، د افغانستان د جمهوریت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت نمایندګان به چې کله ضرورت پېښ شي ، سره غونډې کوي .

د ملګرو ملتو د سرمنشي استازي به ( ترون کوونکو لوړوته ) خپل پوره توجهات وړاندې وي او په هغه قرینه کې به د غونډو په تنظیمولو کې مرسته کوي او پخپله به پکې برخه اخلي . هغه به دوامدارو لوړوته د هغوی د کتنې او تائید دپاره د سندونو د موادو د دقیق او پوره رعایت په مقصد نظریې او سپارښتنې وړاندې کوي .

له دغه استازي سره به د دې دپاره چې خپلې دندې ترسره کړي ، دغسې پرسونل کومک کوي ، چې د ده تر اداره لاندې وي ، او لازمې وي . دغه پرسونل به په خپل نوبت یا د لوړو څخه د یوه په غوښتنه د سندونو د موادو نه ممکنې سرغړونې

تر تحقیق لاندې ونیسي، او د هغو په باب به راپور برابروي . له دغه استازي او د هغه له پرسونل سره به د همدغه مقصد د پاره د طرفینو له خوا ټولې لازمې همکارۍ کیږي، ( په دغسې همکاریو کې به د هغوی د پاره ) د اغیزمن تحقیق په مقصد د دوی په خاوره کې دننه د حرکت ټولې ازادۍ شاملې وي . هر هغه راپور چې د ...ه د نماینده له خوا دواړو حکومتونو ته سپارل کیږي، باید د دواړو لوړو په یوې غونډې کې د تسلیمید وله نیټې نه ٤٨ د ساعته ترکتنې لاندې ونیول شي .

د استازي او د هغه لاس لاندې پرسونل د پاره د کار هغه طریقې او لوجستکي ترتیبونه چې له لوړو سره پرې توافق شوی د کار طریقې او لوجستکي ترتیبات د تفاهم په هغه یادداښت کې راغلي چې، د غه موافقه لیک پورې تړلی ، او د هغه یوه برخه ده .

٨ - دغه سند به د ملګرو ملتونو له سر منشي سره ثبت وي ، هغه د دوه اړخیزو توافقاتو د دواړو لوړو نماینده ګانو، او د دولتونو تضمین کوونکو له خوا، چې د مند رجاتو په هکله یې خپل رضایت څرګند کړی دی ، کتل شوی وي . د تړون کوونکو لوړو نماینده ګانو چې د خپلو مربوطو حکومتونو له خوا ، هغسې چې ښایي ، صلاحیت ورکړ شوی ، د هغو په پای کې لاسلیک کړی دی . د ملګرو ملتو عمومي منشي هم حاضر و .

په ژنیو کې د ۱۹۸۸ د اپریل په دغې څوارلسمې په پنځو
عملي نقلونو کې د انګریزي، پښتو، روسي او اردو په ژبو
کې شوی؛ ټول یې سم دي؛ د تعبیر د اختلاف په صورت
کې به د انګریزي متن د اعتبار وړ وي.

د افغانستان د جمهوریت د حکومت دپاره — د پاکستان د اسلامي جمهوریت د حکومت دپاره

د دولتونو تضمین کوونکو نمایندګانو د شهادت په توګه خپل
لاسلیکونه لاندې ولګول.

د امریکې متحده دولتونو د حکومت دپاره — د شوروي اتحاد سوشلستي جمهوریتونو د حکومت دپاره

# ضمیمه

## د تفاهم یادښت

۱. اساسي ضرورتونه

(الف) لوړي به د سرمنشي د استازي او ټولو کارمندو (پرسونل) چې له هغه سره د مرستې د پاره ټاکل شوي دي، پوره ملاتړ او همکاري کوي.

(ب) د سرمنشي د استازي او د هغه د کارمندو د پاره به هر ډول اسانتیا، او همدا راز د مسلاسي او اغیزمن مرستې پر شمول د حرکت آزادي، مخابراتي وسایل، هستوګنځي د ورځو د راوړلو وسایل، او نورې ټولې هغه اسانتیاوې چې د دوی د دندو د تر سره کولو د پاره لازمې وي، برابروي. افغانستان او پاکستان ژمنه کوي چې استازي او د هغه د کارمندو د پاره به ټول هغه مناسب امتیازونه او معافیتونه چې د ملګرو ملتو د امتیازاتو او معافیتونو د کانونشن له مخې تجویز شوي دي، تهیه کوي.

( ج ) افغانستان او پاکستان به د سرمنشی د استازي او د هغه د کارمنو په داسې حال کې چې د دوی به مربوطو ملکونو کې د ندې ترسره کوي ، د مصونیت مسئول وي .

( د ) د سرمنشي استازی او د هغه کارمنان به د خپلو دندو په ترسره کولو کې د پوره بې طرفۍ رعایت کوي . د سرمنشي استازی او د هغه کارمنان به د افغانستان او پاکستان په د ننيو چارو کې هيڅ مداخله نه کوي ، او په دغې قرینې کې به داسې استعمالیدلی نه شي ، چې دا ړوندو لوریو دیوه د پاره د استفادې لاره برابره کړي .

## قیمومیت

اجرا کولې - مرستې کولې - قیمومیت ، هغسې چې د اومې فقرې له ترتیباتو نه پیدا دی ، د هغو سندونو څخه ماخوذ دی چې فیصله لیک تشکیلوی . د هغه په موجب ټول هغه کارمنان چې د سرمنشي د استازي د پاره ټاکل شوي دي ، د سندونو اړوندو مادو په باب او د هغو طرز العملونو په باب به چې په هغو سره به سرغړونې یقیني کیږي ، په ډېر دقت سره باخبره وګرزول شي .

## ۳. دکار طریقه او دکارمنو تنظیمونه

سرمنشي به داستازی د پاره یو لوړ رتبه نظامي افسر وټاکي، چې هغه به په سیمه کې د قرارګاه د دوارو واحدونو آمر وي. یو واحد به په کابل او بل به یې په اسلام آباد کې وي، هریو به یې له پنځو افسرانو نه متشکل وي، چې د ملګرو ملتو له موجوده عملیاتو او یوه واړه ملکي کومکي ماموراتو نه به جوړ شوی وي.

د سرمنشي د استازي نایب به د استازي له خوا کار اجرا کوي، او له لوړو سره به د ارتباطي افسر له لارې چې هر لوری به یې د همدغه مقصد د پاره ټاکي، په تماس کې وي.

د قرارګاه واحدونه به په دوو پلټنو کوونکو تنظیم شوي وي، چې په ساحه کې د فیصله لیک له سند و نو څخه سر غړونې تثبیتې کړي. هغه وخت چې د سرمنشي استازی یا د هغه نایب لازمه وګڼي په ډېر لږ ممکن وخت کې (په عادي دول د ۴۸ ساعتونو په شاوخوا کې) تر ۴۰ پورې اضافي نظامي افسران (د پلټنې لس اضافي ډلې) له موجود نظامي عملیاتو نه له سره ځای په ځای کوي.

د ټولو افسرانو ملیتونه به له لوړو سره په مشورې سره ټاکل کېږي.

د ضرورت په وخت کې د سرمنشي استازی چې وخت په

وخت به له لوړو سره د مشوری په مقصد سیمې ته سفر کوي او د خپلو کار منو کار به ګوري ، سیمې ته به کله چې ضروري شي ، هم له خپل دفتر نه غږي ، او هم به د ملکي او ملتوله دار الانشا نه نوی ملکي کارمندان ناکي . د هغه نایب به د قرارګاه د دواړو واحدونو ترمینځ په نوبت سفر کوي ، او په ټولو وختونو کې به له هغه سره له نږدې مخابراتي تماس لري .

# ٤ . کړنلار

## (الف) دلوړو ته غوښتنه د پلټنو کونه

(أ) د هر یوه لوري له خوا شکایت چې د فیصله لیک د سند تر لاسه کولو د سرغړونې په باب کیږي ، باید په لیکلي ډول د انګریزي په ژبه کې د مربوطې قرارګاه واحدونو ته وسپارل شي ، او اړونده معلومات او تفصیلات دې څرګند کړي .

(اا) د سرمنشي د استازي نایب به د شکایت په تسلیمیدو سره د شکایت بل لوري سمدلاسه خبروي ، او د پیښې په محل کې به پلټنه کوي ، شواهد به ټولوي ، او له هر هغه طرز العمل نه به کار اخلي چې د ادعا شوي سرغړونې د پلټنې د پاره لازمي ښکاري . د غسې پلټنه به د قرارګاه

له کارمنونه په استفادې سره کیږي ، چې پاس ورته اشاره شوې ده ، مګر داچې د سرمنشي داستازی نایب به د اضافي دلو ضرورت لازم ګڼي . په دې حال کې به لوری ، د حرکت د ازادی د اصل له مخې اضافي کارمنوته خپلو مربوطو سیموته د تګ سملاسي اجازه ورکوي .

(iii) د پلټنو په باب راپور به د سرمنشي د استازي د نایب له خوا په انګریزي تهیه شي او دواړو حکومتونوته به په پټه ورو سپارل شي . ( په عین مهال کې د راپور دریم نقل به په پټه په نیویارک کې د ملګرو ملتو مقرته - خاص د سرمنشي او دهغه د استازي د خبریدلو دپاره واستول شي . ) د اولې فقرې له مخې به د پلټنې په باب راپور باید دلورو په یوې غونډې کې چې د سپارلو ترنیټې نه ۴۸ ساعته وروسته نه وي ، ترکتنې لاندې ونیول شي . د استازي د غیاب په صورت کې به د سرمنشي د استازي نایب خپله توجه ( یا توجهات ) لوروته اړوي او په دغې قرینې کې به دغونډو په تنظیمولو کې مرسته کوي ، او په هغوی کې به ګډون کوي . د دغو غونډو په قرینه کې د سرمنشي د استازي نایب ممکن دلورو د کتنې او د تائید دپاره د سندونو د مادو د سملاسي ، صادقې

او پوره رعایت په منظور نظرلې او سپارښتنې وړاندې کړي.
( دغسې نظرلې او سپارښتنې به مسلماً د سرمنشي د استازي په مشوره کیږي ، او دهغه له خوا روښانه کیږي. )

### (ب) د سرمنشي د استازي د نایب په نوښت د پلټنو کونه

د هغو پلټنو سربېره چې دلوروپه غوښتنه به کیږي ، د سرمنشي داستازي نایب به پخپل نوښت او د استازي په مشوره اجازه لري هغسې پلټنې وکړي چې دی یې د اومې فقرې د اجرا په مقصد لازمې بولي . که لازمه وبلله شي چې هغه نتایج چې د پلټنې نه راپیدا شوي لوړو ته د راپور ورکولو موجبه کوي ، ـ هماغه کړنلاره به تعقیب شي ، کومه چې دلورو په غوښتنه د پلټنو دکولو په باب شوې و .

## په غونډو کې د ګډون کونې سطح

د سرمنشي د استازی نایب به ، څنګه چې پاس څرګنده شوې ، دلورو په هغو غونډو کې ګډون وکړي ، چې د راپورونو د کتلو په مقصد د سرغړونو په باب جوړیږي . که لوري فیصله وکړي چې لکه څنګه چې په اومې فقرې کې خلاصه شوې ، دلوړې سیاسي سطح په مقصد غونډه وکړي ، د سرمنشي استازی

به په خپله په دغسې غونډو کې ګډون وکړي .

## ۵ . موده

د سرمنشي د استازي نایب او نور کارمنان به لږ تر لږه ورځو نه په کمه موده کې چې دغه سندونه نافذیږي ، په سیمه کې تثبیت کیږي . ټول ترتیبات به د نیټه یي نږدې چوکاټ لږ تکمیل نه دوه میاشتې وروسته چې د سندونو د عملي کیدو د پاره تاکل شوي ، له مینځه ځي .

## ۶ . تمویل

د ټولو اساتیاوو او خدمتونو لګښت به چې د لورو له خوا تهیه کیږي ، د مربوطو حکومتونو له خوا تادیه کیږي . د بین المللي کارمنو معاشونه ، او سیمې ته او له سیمې نه سفري لګښتونه او په همدې ډول د ځایي کارمنو لګښتونه به چې د قرارګاه د واحدونو د پاره استخدامیږي ، د ملګرو ملتو په غاړه وي .

( پای )

# افغان مجاهدین

د مجاهدینو او د هغوی د قوماندانانو د کارنامو په باب د غه لاندې څو کرښې د لیکوالکی د یوه نثر او سره هغه ناچاپ شوی اثر نه دلته رانقلیږي ، چې په تیر شمېر کې کښلي شوی دی .

" په عمومي دول دوی ( مجاهد قوماندانان ) تعلیم یافتګان او ځوانان دي چې په هغوکې د خدای په فضل د شخصیت او ولس ته ګران او نامتو قوماندانان لږ نه دي . په دوی کې احمد شاه مسعود د پنجشیر ، مولوی جلال الدین حقاني د پکتیا د خدرانو ، عبدالحق جبارخیل د پغمان او تورن اسماعیل د هرات نه یوازې په خپل وطن ، بلکه په سیمې او ترڅه حده په جهان کې نوم ایستلی دی .

د مکتب یو ځوانی معلم مرحوم عبد القادر مشهور په ذبیح الله

د مزاړ د مجاهدینو هغه موثر آمر و، چې د جهاد په تنظیم کې یې بې ساری لیاقت ښودلی و. ټولو وسله والو مجاهدینو او په سرکې د غو ښاغلیو قوماندانانو د جهاد په دغه اوږده او له سختو ستونزو نه ډک تحریک کې د غازي محمد اکبرخان، غازي محمد ایوب خان او غازي محمد جان خان او هم د اسطوره یې رستم د قهرمانۍ قیصې یو ځل بیا تازه کړې، او په خپلو قهرمانیو سره یې د روس غوښتونکي بې رحم ستر جهاني قدرت چې نامحدود منابع په لاس کې لري په خپل وطن کې په ګونډو کړې او جنرالان یې د یو شمېر هغو جنرالانو په شمول چې د نړۍ په دوهم جنګ کې بریالي وو، دلته مغلوب او زړه خوږې کړي دي. د غو ښاغلیو مجاهدینو به د روس د یرغل د پوره په شاوه لو سره د نړۍ په دغه ګوټ کې د هغه د پنځوس ځلیو د پراختیا غوښتنې او ملکونو نیونې مخه نیولې، او په دې ډول به یې نه یوازې خپلو وطنوالو ته، بلکه ټولو انسانانو ته نه هېرېدونکی ستر خدمتونه هم کړي وي. اوس د دې پوره درک کېدلی شي چې د افغان اسلافو واقعاً د جهان ستر فاتحان د لوی سکندر په شمول په خپل وطن کې په ګونډو کړي وو، په همدې ډول اوس هر څوک په دې یقین کولی شي چې د دوی نیکونو په نولسمې پېړۍ کې د-

وخت یو لوی استعماري طاقت یعنې انګلیس هم په خپل وطن کې مات کړی و . نو پوره په ځای ده چې ازادي پال افغانان په خپلو دغو مجاهدو قوماندانانو هغسې وویاړي، لکه چې په خپلو تېرو قهرمانانو فخر کوي . بیکوټکی خو د زړه له کومې په دې ویاړي چې افغان او د افغانستان دی .»

مجاهدین یوازې د خپل هېواد د پاره نه ، بلکه د پاکستان د پاره هم جنګ کوي .

خدای بښلی ضیاءالحق

مجاهدین د خپل وطن ، پاکستان او تر خلیج پورې د ټولې اسلامي کړۍ د تلپاتې کید و د پاره کلیدي حیثیت لري .

شبیر حسین

# محمد خان جونیجو د ډموکراسۍ د اعادې کوښښ غورځنګ او افغانستان

شبر حسین

د رسالې د خطاطۍ په وروستۍ ورځ کې په پاکستان- ټایمز کې ( سپتمبر ٤ ، ١٩٨٨ ) لاندنۍ لیکنه ترنظره شوه ، چې د ژنیو د توافقاتو او د نورو اړوندو ټکو په باب نوي مهم مطالب لري - څنګه چې په متن کې له هغې نه استفاده کول ممکن نه وه، لازمه وبلل شوه ، چې ټوله لیکنه پښتو او ضمیمه شي.

د جمهور رئیس ضیاء الحق له مړینې نه ۱۳ ورځې -

وروسته ، چې روسیې دخیل سهیلی لوري پر مخنګ په لاره کې « تر ټولو ستر خنډ » باله ، شوروپانو له خپل ملک نه د الوتکو په الوزولو سره د شمال له کلیدي ښار کندوز نه د مجاهدینو د ایستلو په مقصد د ژنیو له موافقې نه په ښکاره دول سرغړونه وکړه په بله ورځ د کابل رژیم جنګي الوتکې د شوروي اتحاد په څرګند ملګرتوب سره د پاکستان په فضاکې د ننه ننوتلې او له پیښور نه ۲۵ میله لیرې یو کلی یې بمباري کړ . د دغه بم غورځونې له برغل نه زر وروسته عبدالوکیل د کابل رژیم د باندنیو چارو وزیر د هلي ته « د خلورو ورځو په نا اعلان شوي سفر لاړ . »

دغه ټول فوري او ګواښوونکی انکشافات سړی دې ته مجبوروي چې هغې تګ لارې ته څیر شي کومې چې د جونیجو حکومت د ژنیو دخبرو نه روښی ، او د هغو په بهیرکې غوړ کړې وه او همدا راز په خپله په شویو توافقاتو غور وشي - یو څوک غواړي په دې پوه شي چې جونیجو د دغو خبرو په باب په داسې وخت کې چې مجاهدین چې البته د جمهور رئیس ضیاء الحق د حیرانوونکی زړورتیا ملاتړ ورسره و ، د بریالی توب درشل ته نږدې شوي و ، څه ډول نظرونه او ادراکات لرل ، او څه ډول اقدام یې په نظر کې لاره .

# « ستره طرح »

د تېرو ورځو انکشافات ما ته د جمهور رئیس ضیاء الحق د شوروي - هندوستان د « سترې طرح » هغه تحلیل هم را په زړه کوي چې د مجاهدینو، او د هغو تر څنګه د پاکستان پر ضد لرل، کوم چې هغه (ضیاء الحق) له خپلې مړینې نه یوه اونۍ دمخه د NTP له مدیرانو او مشرو خبریالانو سره په مرکه کې څرګند کړی و. هغه وخت چې دی په تحلیل لګیا و، د هغه مطبوعاتي مشاور ښاغلی سولري (Z.A-Suleri) په خبرو کې ور ګډ شو، او هغه یې وپوښته چې که د پاکستان حکومت (د جونېجو حکومت) لږ څه نور هم ټینګ شوی وای مونږ به د ژنیو د مذاکرو په نتیجه کې په کابل کې پراخ - بنسټه حکومت لیدلی وای.

زه د هغه د مخ تصویر کښلی شم، چې هغه وخت یې - ځواب تیاروه له ژور سوچ سره غصه ګډه شوې وه. زما په فکر د دغسې یوه شخص د پاره چې تردید ورسره نه و، او ړند ویل یې خاصه وه، یو څه غیر معمولي ښکاره شوه - ده په دې ډول ځواب ورکړ.

« داسې احساس کوم چې کولی مو شو. خواوس هغه تاریخ ګرځېدلی دی. دجونیجو حکومت د مارچ په پنځلسمه لاسلیک ونه کړ. دوی د اپریل په ۱۵ [ د اپریل ۱٤ مه ] لاسلیک وکړ. زه هر د همدغې پروسې یوه برخه وم - زه جمهور رئیس وم، او دا به سمه نه وي که وواېم ما څه سپارښتنې وکړې، څه مې وغوښتل؛ دا به هسې وي چې لکه زه د ځان د پاره دهل وهم، یا خپله سرنده غږوم، ځکه چې جونیجو دلته نشته، چې له ځان نه دفاع وکړي. هو زه په دې فکر یم چې په هغه تهینګار سره چې حکومت وښود موږ هغه څه ترلاسه کړل، چې ترلاسه موکړل او زه له سولړی سره موافق یم، چې که موږ یو څه نور هم تهینګ وای، د پراخ - بنسټه حکومت د جوړېدو د پاره موافقه د وړ ځوځښه وه. »

هغه [ ضیاء الحق ] فیصله وکړه چې خپلې سپارښتنې ښکاره کړي، خو هغه له جونیجو نه درخواست کړی و، چې څه وخت چې یې د اپریل په دریمه پارلمان ته خطاب وکړ. یو څه لا تهینګ اوسي. په داسې حال کې چې هغه په افغانستان کې د تر سره کولو د پاره هغه څه چې د [ پاکستان ] د ملت په مقابل کې و، د هغو ټول کریډټ جونیجو ته ( چې د غه صدراعظم یې مستحق نه و، او نه به شوک د غسې یقین وکړي ) ورکړ،

جمهور رئیس نږدې جوړجوړ ته زارې وکړې ، چې یو څه نور استقامت او ټینګښت وښیي .

# د ادراك نه شته والی

خو جوړجوړ څله ټینګ نه و ؟ داسې نه ده چې هغه متقلب و ، د هغه مشکل د ادراك نه لرل ، او د دغې مسئلې په باب چې د پاکستان د پاره د ژوند او مرګ سوال و ، او لا هم دی ، د یوې عندي لارې غوره کول و . هم دغه د ده ځان ته د توجه بې مفهوم توب و ، چې دی یې د ژړنیو د خبرو په درشل کې د دموکراسي د اعادې کولو غورځنګ لویانو ته نږدې کړ ، چې څوك یې له روس نه ویرېدل ، او له هغه قانون نه بېخبره وو ، چې د ملتونو په هسکېدنې او نسکورېدنې باندې حاکمیت لري ، او هغوی په هر قیمت د شوروي تسکین غوښته ، په داسې حال کې چې نور یې په څرګند ډول د مجاهدینو د داعیې مخالف وو ، او په خپلې عادي روس- پلوي او هند - پلوي لوبې کولو باندې بوخت وو .

څه وخت چې زه او س د دموکراسي د اعادې کوونې د

ځواك له لويانو سره چې له هغه وروسته په ځلورو ايالتي مركزونو كې يې بلل شويو شخصيتونو سره ازاد «بحث» وكړ ، د جونېجو غولوونكي جرګې په زړه كوم ، داسې حس كوم چې د هغه ټول مقصد د هغه څه له مينځه وړل وو ، كوم چې جمهور رئيس او د هغه ملګرو د تېرو كالونو په بهير كې كول .
[ ده داسې پتيلى وه ] چې دى بايد په هرې وسيلې چې يې كړاى شواى ، او په هر قيمت چې د هغه هيواد ته او افغان مجاهدينو ته تماميده ، جمهور رئيس نا كام كړي . هېڅ څوك به پر دې پوه نه شي چې جمهور رئيس ضيا په څومره زحمت سره ځان مجبور وليد ، جونېجو دېته اړ كړي ، چې لږ تر لږه د يوې مياشتې د پاره ځنډول وكړي ، چې نتايج يې يو څه بهتر او لږ زيان رسوونكي شول .

او ضيا د شوروي سفير ښاغلي عبدالرحمن وړان سوف ته چې د ژنيو تړون اتفاق ته نژدې دوه اونۍ د مخه يې ورسره وليدل ، څه وويل ؟ ښاغلي وړان سوف له هر تاكتيك ، له هيلې كولو ، وېرولو ، له تېر ايستلو نه كار واخيست ، خو هېڅ ګټه يې ونكړه څه وخت چې د شوروي سفير وويل چې دى لا هم هيله من دى چې پاكستان به د مارچ په پنځلسمه لاسليك وكړي ، جمهور رئيس وويل « مګر دا چې اسمانونه غورځېدلي وي ، زه به

هغه څوک نه اوسم چې حکومت ته هدایت ورکړم چې د -
مارچ په پنځلسم لاسلیک وکړي. زه حکومت ته هدایت ورکوم
چې و ګوري په کابل کې کوم حکومت مینځ ته راوستل شوی
وي. زموږ د پاره موقتي حکومت د شوروي قواوو تر وتلو
نه ډېر مهم دی. کېدای شي، دوی خپله ورته تمال کړي.»

د مجاهدینو په بریالي توب کې تمال، د دوی په هېواد
کې دوام لرونکې وینه توئیدنه، د شوروي اتحاد لپاره
چې د دې د پاره چې د ازادی د جنګیالیو مخه ونیسي له خپل
ملک نه جنګي الوتکې الوزوي، او د شوروي - هند د «ستراتیژیکې
طرح» فعال کونه، دا ټول د جونیجو د نه ادراک، او د -
دموکراسۍ د اعادې کونې د ځواک له پهلوانانو سره د هغه د
سازش په سبب وی، چې د خپلې امادګۍ د پاره یې سرلی
واهه، چې د ژنیو موافقه لاسلیک کړي، او په دې ډول د
دقیقې ساتل شوې دیپلوماسۍ له لارې د پاکستان د -
چینې وهلو استعداد نفي کړي - ځکه له دې چې د ژنیو
[ وروستۍ ] خبرې په رښتیا پیل شي هغه د حکومت دیوه
دارن او پیکه سوال په حیث خپلې ټولې قطعي په میدان کې
برالاکړې وې.

# دافغانستان شهیدان

په داسې حال کې چې جمهور رئیس ضیاء الحق او ورسره ملګري یې لا د مخه دافغانستان د شهیدانو بحیث اعلان شوي دي ، ورو ستي موږ خان به دافغانستان دازادۍ په جنګ کې د جونیجو پر ضد زیاتمن او د دموکراسۍ د اعادې کوښي څواك مشران به ګڼو ودونکی ، او هم خپرې [ کیږي ] وبولي . جمهور رئیس ضیاءالحق د جونیجو د لړی کولو د پاره له هغه نه چې یې د مې په ۳۰ مه ووېل ، بل دلیل نه ما نه څو ما هغه وخت همدغه احساس لاره چې په افغانستان باندې ممکن کومه مهمه پېښه راتلونکې وي او ده [ ضیاءالحق ] نه غوښتل چې که دغسې څه پېښېږي یو بې بصیرته کم زوری د واك په تخت ناست اوسي . دښمنان یې هم پوهېدل ، او له مینځه یې یوو وړو .

سری ریښتیا دي چې فکر وکړي دافغان په داعیې په څه پېښ شوي وای ، که ښاغلی جونیجو د ښاغلي غلام اسحق خان په ځای د واك په څوکۍ ناست وای . البته

له ډموکراسۍ نه غیر بله چاره نه شته، او د اساسي قانون له مخې باید وړاندې لاړه شي. خو د هغو ملکونو د پاره چې د مخکې تګ د پاره په هسکوسرونو مجادله کوي، له ړایونه تر عرض رجوع نه زیات ځه ته اړتیا شته - دوی زړورتیا عقیدې، او ادراك ته اړه لري - دا هغه څه وو چې جمهور رئیس ضیاءالحق هغه وخت چې شوروي یانو نهه کاله دمخه ګن پوځونه د پاکستان ګاونډي مسلمان هیواد ته واستول، له ځان ځخه وښودل. دغه حقیقت له صحنې ځخه د ده په لیرې کیدو سره په پاکستان کې هر یوه ته، او همدا راز نړۍ ته څرګند دی - مجاهدین د خپل هیواد، او هم د پاکستان او تر خلیج پورې د ټولې مسلماني کړۍ د پاره د کلي حیثیت لري.

# لیکونکی

لیکونکی نږدې پنځه پنځوس کاله د مخه د لغمان ولایت د دېوې (یا پلوتې) په کلي کې په یوې متوسطې کورنۍ کې زېږېدلی دی. پلار یې په دیني علومو کې وارد، او شغل یې حکومتي ماموریت و. نیکه یې دیني عالم او مفتي و. لیکونکی لا ماشوم و چې یې پلار مړ شو. خو له بنسټه د یتیمې ځوانۍ یې له خپل غمخور عمه زوی عبدالسلام اخندزاده سره چې د محل د حکومت په مرکز کې مامور و، د اخندزادګانو په کلي کې تېر کړه. دغه په هغو ورځو کې لومړی د تېرکړې، او وروسته د حکومت په مرکز کې په لومړنې ښوونځي کې په تحصیل بوخت شو. وروسته چې مور یې هم مړه شوه، له خپل اصلي کلي نه یې، چې له ښوونځي نه د بېرلېرې پروت و، خپلې زړه کړې ته سره له ډېرو مشکلاتو دوام ورکړ. دی په دوارو کلیو کې لومړنی شاګرد و چې په رسمي ښوونځي کې یې تحصیل کاوه. په عین حال کې داوړې

په رخصتیو کې یې له نورو شاګردانو سره یوځای لـه محلي ناظمانو نه هم تحصیلي استفاده کوله. په دې دول نهه کلونه یې په لغمان کې په تحصیل تېر کړل. د تحصیل نهم کال یې په کندهار کې د احمد شاه بابا په لیسې کې په داسې حال کې چې له خپل نیایي عبدالمقیم نیازي کره اوسېده، تېر کړ. لسم او یوولسم صنفونه یې د کابل په دارالمعلمین کې ووېل، خو دوولسم صنف یې په داسې حال کې چې په هغه دارالمعلمین کې لیلیه ؤ، د غازي لیسې (اوسنۍ شېرشاه لیسه) په اجتماعي څانګې کې په تحصیل تېر کړ. د تحصیل په ټوله دوره کې له یوه صنف نه غیر اول نومره ؤ.

د وخت د رسمي مقرراتو له مخې د اول نومره فارغ التحصیل په حیث د لیالوړو تحصیلاتو د پاره امریکې ته روان و، چې سخت ناروغ شو. له رغېدو وروسته ټولې هلې ځلې یې په خارج کې د تحصیل کولو د پاره بې نتیجې شوې. د وخت د نیمګړې آزادۍ په فضا کې د نورو همزولو په شان په سیاسي ډګر کې فعال شو. دا د وخت د پوهنتون رئیس داکتر انس د پاره یوه پلمه شوه، او لیکونکی یې چې د مقرراتو له مخې حق لاره په داخل کې د خپلې خوښې په فاکولته کې تحصیل وکړي، د حقوقو او سیاسي علومو په فاکولته کې

تحصیل ته پرې نهښود. په هرحال له هغه وروسته ځلوېر
کاله یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د تاریخ او
جغرافیې په څانگه کې تحصیل وکړ، او په لوړه درجه فارغ
شو. د تحصیل په وروستي کال کې یې د برتانیې د سیاسي
سیستم په نامه یو کتاب په پښتو واړوه، او د ابن سینا جایزه
یې پرې وگټله. د همدغه تحصیل په دوره کې وو چې د ایران دحکومت
په بلنه یې د پوهنتون د یوشمېر محصلانو په ډله کې په هغه ملک کې
د محصلانو په بین المللي کامپ کې یوه میاشت په رخصتۍ تېره کړه.
لیکوال له پوهنځي نه له فارغېدو وروسته په پښتو ټولنه
کې چې د وطن نامتو لیکوال او شاعر گل پاچا الفت یې سروال و، غړی
او د کابل مجلې چلوونکی وټاکل شو. په مجله کې له لیکنو برسېره
یې د گوړکي ادبي لیکنو له یو انگریزي متن نه په پښتو واړول، او
پښتو ټولنې چاپ کړل - لیکوال په کال ۱۹۵۸ کې د هغه هیئت
غړی و چې د شوروي حکومت په بلنه تاشکند، سمرقند، دوشنبه
او مسکو ته په سفر لاړ. د وطن نامتو شاعر خلیل الله خلیلي د هیئت
سروال، او الفت صاحب، او ضمیر ساپی د هغه نور غړي وو- بل
کال د یوه بل هیئت غړی شو، چې د شپږو اونیو د پاره د امریکې
متحده هېوادونو ته په سفر لاړ، او هلته یې عرفاني، او د خیریه نو
مؤسسې ولیدلې -

لیکن نکي په کال ۱۹۶۱ کې د وخت د پوهنې وزیر ډاکتر علي احمد پوپل د فکر له مخې د فیلالوژۍ په څانګه کې د افغانستان په لګښت د لندن په پوهنتون کې د لوړو تحصیلاتو د پاره واستول شو. خو لیکونکی هلته د تاریخ په تحصیل بوخت شو. فکر کېده چې هلته به بس په دوو کلونو کې د ماسترۍ شهادتنامه ترلاسه شي لکه چې په عمومي ډول د ماسترۍ شهادتنامې په همدغومره وخت کې ترلاسه کېدلی شي. خو څنګه چې د لندن د پوهنتون د آسیایي او افریقایي مطالعاتو فاکولته، چې په هغه وخت کې په ټوله نړۍ کې په خپل نوع کې بې ساري فاکولته وه، او لوړه سویه او ډېر ضیق تحصیلي مقررات یې لرل، لیکونکی هلته مجبور شو څلور کاله په دغې تحصیل کې تېر کړي، چې خپل د کابل پوهنتون لیسانس د همدغې فاکولتې د لوړې درجې لیسانس معادل وګرځوي ترڅو د څېړنیز تحصیل اجازه ترلاسه کړي. د لندن پوهنتون د هغو پوهنتونونو په ډله کې دی چې د خپلو ډېرو ضیقو مقرراتو له مخې د داخلي او خارجي محصل ترمینځ په هیڅ تحصیلي فرق او امتیاز قایل نه دی. په هر حال لیکونکي په دغو څلورو کلونو کې د اروپا معاصر تاریخ، د منځني ختیځ تاریخ، او اسلامي مؤسساتو کې تحصیل وکړ. له هغه وروسته د څېړنیز تحصیل په دوره کې یې په درې کلونو کې د ماستر اف فلاسفي (ایم - فل)

شهادتنامه ترلاسه کړه، چې تر معمولي ماسترۍ نه لوړه، او د ډاکترۍ معادله ده - کابل پوهنتون هغه د «فوق ماسترۍ» په حیث ومنله. په هر حال د دغې شهادتنامې د لاس ته راوړلو د پاره لیکوال یو څېړنیز تیسس په نامه د په افغانستان کې د امیر عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې د مرکزي حکومت ټینګښت، ولیکه، چې دغه د پاره یې دوه کاله په لندن کې په انډیا افس کې د افغانستان په باب د برتانوي له آرشیف نه یاد ښتونه راغونډ کړل - په کال ۱۹۷۱ کې دغه اثر په لاهور کې چاپ شو - برسېره پر دې لیکوال کې د تحصیل په دغو اوو کلونو کې د برتانیې په تولو سیمو کې وګرځید، او هم یې د بي بي سي د پاره په پښتو او دري کې وېړې راډیویي لیکنې په کابل راډیو کې د خپرولو د پاره برابرولې. په همدغه لړ کې انګریزي د راډیو له لارې پروګرام و، چې شرح یې لیکوال په دري کې کړې وه، او وروسته د بي بي سي له خوا په دوو بېلو بېلو ټوکونو کې چاپ شوه.

لیکوال وطن ته له ستنیدو وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د تاریخ په ډیپارتمنت کې په تدریس بوخت شو - د تاریخ بېل بېل مضمونونه یې تدریسول، خو عمده او خاص مضمون یې د معاصر افغانستان تاریخ و - د تدریس تر څنګه

يې تاريخ څه ته وايي ؟ په نامه د پروفيسر کارو تلي اثر په پښتو ولېږه او پوهنځي چاپ کړ. ليکونکي په عين حال کې د ډاکټرۍ تيسس د ليکلو د پاره د تاريخي موادو په تولولو بوخت ؤ. د همدغه منظور د پاره يې د کابل زاړه ښار له ځينو کتاب پلورنځيو نه د امير عبدالرحمن خان د وخت ډېرې مهمې ورځپاڼې رسالې پيدا کړې - په عين حال کې د ډاکټر روان فرهادي په مرسته په دې موفق شو چې هم د کابل د بهرنيو چارو د وزارت په ارشيف کې د امير عبدالرحمن خان د دورې اسناد وګوري او ياد د ښتونه ترې واخلي ، او هم د شپږو اونيو د پاره په نوي دهلي کې د هند په ارشيف کې څېړنې وکړي . په کابل کې د امير عبدالرحمن خان د وخت د وسيې تر ليکونکي د مخه بل هيڅ چا د علمي څېړنې په مقصد نه وې کتلې -

ليکونکي په کال ۱۹۷۱ کې د خپلو څېړنو د تکميل او د ډاکترۍ شهادتنامې د لاس ته راوړلو او د څېړنيز تيسس د ليکلو په مقصد د فولبرايټ سکالرشپ له لارې د امريکې د پرنسټن په پوهنتون کې د منځني ختيځ د مطالعاتو په مرکز کې د ميلمه محقق په حيث څېړنې وکړې . هلته له يو نيم کال څېړنې وروسته يې د هارورډ پوهنتون کې چې په ټوله امريکې ، او هم په ټوله نړۍ کې د لومړنامه پوهنتون دی ، په همدغه نامه خپلو څېړنو ، او ليکلو ته دوام

ورکړې په دغو دوارو پوهنتونونو کې له درې نیمو کالو څخه زیاتو وروسته یې خپل تیسس په نامه د افغانستان حکومت او جامعه د امیر عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې تکمیل کړ، او د هغه د دفاع دپاره لندن پوهنتون ته لاړ، او هلته یې د موفقانه دفاع نه وروسته د داکترۍ شهادتنامه تر لاسه کړه. دهاروړد په پوهنتون کې یې په همدغه تیسس باندې کار وکړ، او نور یې هم بشپړ کړ، چې وروسته د تکساس دولتي پوهنتون د هغه د چاپ ذمه واري یې په غاړه واخیسته. په عین حال کې لیکونکي خپل لومړنی چاپ شوی کتاب د نویو موادو په رڼا کې له سره تنظیم کړ، نور فصلونه یې پرې اضافه کړل، خو لا تر اوسه چاپ شوی نه دی- د تکساس پوهنتون د لیکونکي د داکترۍ تیسس په کال ۱۹۷۹ کې چاپ کړ. ویل کیدلی شي چې د مولف دغه اثر د افغانستان د مطالعاتو په ډګر کې د روښانه علمي اثر دی.

لیکونکی په کال ۱۹۷۶ کې وطن ته ستون شو او په پوهنتون کې یې د تدریس پخوانۍ وظیفه له سره پیل کړه - د تدریس تر څنګه یې د غوايي تر کوده تا پورې د تاریخ د دیپارتمنت د آمریت وظیفه هم په غاړه وغوړځول شوه په همدغې لنډې مودې کې یې په عین حال کې دوه درسي کتابونه په دري واړول. یو یې د پروفیسر مک نیل تاریخ جهان معاصر، او بل یې د پروفیسر سدني

اروپا درقرن وسطی نومیږي . دواړه ترجمې دچاپ دپاره تیارې شوې وې ، چې دغوابي کودتا پېښه شوه ، اودواړه له چاپه پاتې شوې ، په دې چې په هغوکې د پېښې رسمي ایډیالوژیکه یعنې د طبقاتي مبارزې دنکرله مخې نه وه شرح شوې . وروسته ترجمه لا له اصل کتاب سره د پرچمیانو په هدایت د پوهنتون د نشراتي آمر کاظم آهنگ لا دركه کړې هم وه . دغوابي ترکودتا دمخه لیکونکي یوه رساله په دري کې په نامه د افغان و افغانستان وافغانها و تشکیل دولت در هندوستان ، فارس وافغانستان هم ولیکله . پوهنتون دغه رساله دغوابي تر کودتا وروسته ، چاپ کړه ، خو بیا یې بیرته مصادره کړه .

لیکونکي دغوابي دکودتا نه وروسته یعنې په دغسې تیارې اومطلقې دوره کې چې دپوهنتون ډېر استادان او شاگردان زنداني شول ، ووژل شول ، اویا فرار شول ، خپل تدریس نه په لازم احتیاط سره دوام ورکاوه . خو د حکومت په پلویه یې یوگام هم پورته نه کې . د روسانو دیرغل نه وروسته په ښکاره اوجدي توگه له درسي صنفونو نه دباندې انتقادي شو . په پوهنتون کې د همفکرو استادانو په لټه کې شو او دیوشمېر دغسې استادانو په مرسته یې د استادانو او محصلانو د اتحادیې په نامه یو سازمان هم جوړ کې . سازمان

په ظاهر کې د علمي او درسي آزادۍ د پاره یو صنفي تشکیل و.
شاته یې د آزادۍ غوښتونکو جبهه هم وه، چې هغه سیاسي او
بس یو ځو تنو ته معلومه وه. په عین حال کې لیکونکی په وطن کې
د انساني حقوقو نقض موضوع د یو شمیر نورو استادانو په موافقه
د خبرو او بحثونو غونډو انتقادي موضوع وګرځوله - لیکونکی تر دغه
وخته پورې له علمي سیاست سره هیڅ مینه نه سنوده. د تدریس
او دغسې فعالیتونو ترڅنګه یې د الفنستن نامتو کتاب. د کابل
سلطنت بیان په پښتو واړوه. چې لومړی ټوک یې په همدغه
وخت کې د افغانستان د اکاډمۍ له خوا خپور شو. داهغه وخت و
چې لیکونکی د کدري ترفیعاتو په لړ کې پوهنوال و، او د پوهاندۍ
د ترفیع د پاره یې یوه مستنده رساله په نامه د جنګ دوم افغان
انګلیس وړاندې کړله. دغه رساله په پوهنتون کې د پرچمي
ګوندیانو د منظم او ښکاره مخالفت سره سره د علمي شورا له
خوا په یوه غیر عادي او بزده بحث کې په بیخي ډیر اکثریت سره
ومنل شوه؛ پرچمي ګوندیانو سعدالدین هاشمي د پوهنتون
اداري مرستیال د بیخي کلک مخالفت د پاره هڅولی و. په هرحال
ګوندي مقاماتو د لیکونکي دغه ترفیع له خپل جدي مخالفت
سره سره دغسې تعبیر کړه چې ګواکې لیکونکی په پوهنتون کې
یوه اغېزمن استاد دی، چې البته دا د دوی د پاره چې په

دغه وخت کې یې خپل حاکمیت ابدي ګاڼه ، د زغرو ړنه
ؤ .

د ۱۹۸۲ کال د اپریل په لومړۍ ورځ په داسې حال کې
چې لیکوال له تدریس نه وروسته د اکاډمۍ په لور روان ؤ ، د
پرچمي پوهیالی واسع قرار تر څبرله څخې د خاد عالوونیو ، او د خاد
د مرکز بندي خانې ته یې ورسپاره . شلو ورځو استادان یې
وړاندې او وروسته له لیکوال نه ونیول ، او لیکوال یې له
پنځلس میاشتو بند نه وروسته په اتو کالو بند محکوم کړ . په
زندان کې یې اول د خاد په مرکز ، او بیا یې د بدنام پلچرخي په
زندان کې یوه میاشت کم پنځه کاله تیر کړل ، تر څو د ۱۹۸۷ کال
د مارچ په لومړۍ له زندان نه آزاد شو . د بند په موده کې د
ده د الفنسټن د کتاب د دوهم جلد پښتو ترجمه د اکاډمۍ د
رئیس په امر هم چاپ او خپره شوه .

لیکوال د آزادېدو نه وروسته په پوهنتون کې خپل
څوانی تدریس له سره پیل کړ ، او د مقاماتو دغه بلنه یې ونه
منله چې له هغوی سره همکاري وکړي ، لکه څنګه چې د حکومت
دغسې بلنه یې د خوښي کېدو په مقابل کې په زندان کې هم نه وه منلې .
په پوهنتون کې یې د تدریس تر څنګه یو رساله ولیکله په نامه
د افغانان د شپږ شپیتم کال په پسرلي کې له روسانو سره د جنګ په

حال کې -

لیکوالکی له خپل خوښې کېدو نه لس میاشتې وروسته د همدغه کال (۱۹۸۷) د دسمبر په میاشت کې له خپلې کورنۍ سره پېښور ته هجرت وکړ، او له هغه وروسته یې په ښکاره په فکري او قلمي جهاد زوره واچوله - د توتالیتېر-نیزم، دولتي مطلقیت، او انساني حقوقو له نقض نه راپیدا شوي خبایث او مصایب، د فردي آزادۍ او ملي خپلواکۍ ښېګڼې، او د شوروي یرغل پرضد د افغان د آزادۍ جنګ ضرورت، او د همدغه یرغل مولود انساني مصیبتونه د لیکوالکی د خبرو او مرکو او لیکنو عمده موضوعات تشکیلوي .

په پېښور کې د لیکوالکي د پره موده نه وه تېره شوې چې د نن دې یوې میاشت د پاره (فبروري - مارچ) لندن ته د عفو بین المللي له خوا، سویډن او ناروې ته د افغانستان د پاره د سویډن او ناروې د کمېټو له خوا د همدغو موضوعاتو په باب د نظر د څرګندولو د پاره د خپل فامیل د د ځینو غړو سره وبلل شو. د سفر په پای کې یې په پاریس کې په هغه کنفرانس کې هم ګډون وکړ چې د افغانستان په باب د بین المللي بورډ له خوا جوړ شوی ؤ .

لیکوالکی له دغه سفرنامه وروسته دغه اوسنۍ رساله ولیکله - لیکوالکي په افغاني او بهرنیو مجلو کې د افغانستان په باب ډېرې اختصاصي لیکنې هم خپرې کړې ، او همداراز یې په ډېرو ملي او بین المللي سمینارونو کې ګډون کړی دی . لیکوالکی یو مېړمن او پنځه اولاده لري ، په نامه د پلوشه ، وږمه ، کاوون خوږه ، او شباوون .

برتهکال ، پیښور -

د جون ۲۲ ، ۱۹۸۸

د سید قاسم چکنوري خطاطي

سپتمبر ۵ ، ۱۹۸۸

# یوه ضروري یادونه

د ۱۱۸ مخ په پایلیک کې د صدرالدین اغاخان د نطاق په قول په افغانستان کې له ۳۰۰۰ څخه تر ۴۵۰۰ پورې ماینونه ایښودل شوي دي. دغه شمېر په غالب احتمال غلط او د ماینونو اصلي شمېر تر دې په کراتو ډېر دی. د شوروي انجنیر کرنیل نیف یوډوف په قول (مسلم، جولای ۲، ۱۹۸۸) شورویان مجبور وو ۲۰۰۰ «ماینې ساحې» په افغانستان کې جوړې کړي. بې له شک نه د افغانستان په هکله د شورویانو احصائیې په قصدي ډول غلطې او غیرقابل اعتبار دي. په معمولي ډول د شوروي او کابل رژیم قواوو د نظامي پوستو او چاونیو په شاوخوا ساحو کې ماینونه ښخ کړي، او همدې په نورو سیمو کې له هوا نه ماینونه غورزولي دي. له بلې خوا مجاهدینو هم د مقابل لوري د ټانک په لارو کې ماینونه ایښي دي. همدغه سبب دی چې د نورو منابعو په قول په دې تازه وختو کې د ماینونو مجموعي شمېر تر پنځو میلیونو نه زیات، او حتی پنځلس میلیونه هم تخمین شوی دی. په هرحال تراوسه بېحسابه انسانان د همدغسې ماینونو په چاودلو سره له منځه تللي دي. بده یې لا دا ده چې ډېر نور انسانان به هم په آینده کې په همغو سره له منځه لاړ شي، ځکه چې د همغو نقشې معلومې نه دي او دقیق شمېر او کشف یې ناممکن دی. په دې ډول کومه هغه تراژیدي چې شورویانو افغانانو ته متوجه کړې، یو بعد نه، بلکه ډېر ابعاد لري، او د همغو ټولو مسئول د شوروي حکومت دی.

# د وفا خپرونې

| نوم | مؤلف | مترجم |
|---|---|---|
| د ځناورو فارم | جارج اوول | پروفیسور رسول امین |
| روسهای عظمت طلب وتیوری نشنلزم نوین | پروفیسر تیواری | شفق ستانیزی |
| د روس فاسده تولنه، په درې جلده کې | کانستنتین میخائل سیمس | محمد آصف اکرام |
| د کی،جی،بی دننه، په دوه جلده کې | الکسی مایکوف | اختر محمد |
| کمپهای مرگ کولیما | رابرت کانکویست | ز،ع ممتاز |
| دروغهای جدید بخاطر دروغهای قدیم جلد اول | اناتولی کایستن | سید فقیر علوی |
| شوروی اتحاد او دار اچونه | رابرتا گورین | محمد آصف اکرام |
| د کیمیاوی زهرجنو موادو په برخه کې لوړتنه لاربښوونې | داکتر تاج الدین ملتمل | . |
| تلاشهای روس برای اشغال افغانستان | عبدالکریم محب | . |
| طبقهٔ نوین | میلوان جیلاس | ج،ح ابراهیمی |
| دروغهای جدید بخاطر دروغهای قدیم جلد دوم | | سید فقیر علوی |
| انتقاد ماتریالیزم دیالکتیک | أبوالوفاء افغانی» | |
| په اسیا کې د روس د پراختیا غوښتنو پالیسی | جوزف پوپوسکی | موسی خان جلالزی |
| ماده و معنی | أبوالوفاء افغانی» | |
| په روسیه کې مخالفین | ریود ولف ل،توکس | عبدالکریم محب |
| افغانستان - درگیری شوروی | ادوارد جیراردت | ج،ح ابراهیمی |
| د ترکستان مستعمره کول | پ،گ،گلونا | جگړن نصرالله صافی |
| اقوام مسلمان در روسیه | آباد شاه پوری | جگړن غلام دستگیر شکیب |
| | | |

PROPERTY OF ACKU
290

B
4·3841
KAK
290

Series No. 24 ,25

# THE GENEVA COMPROMISE ON AFGHANISTAN

( *in Pashto* )

**M. HASAN KAKAR,** MPhil., PhD (Lond.)
Formerly Professor of Modern
Afghan History at Kabul University

***Published by***
**WRITERS' UNION OF FREE AFGHANISTAN**
**WUFA**

*PESHAWAR* *1988*
*COPIES* *2000*